



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په راز کې راز (ناول)

د حسن او عشق د حقیقي لوبې یو افسانوي اظهار

لیکوال: اجمل خټک

ژباړن: جاوید آفتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم


| د کتاب نوم : | په راز کې راز (ناول) |
|---|---|
| لیکوال: | اجمل ختک |
| ژباړن: | جاوید آفتاب |
| بیا کتنه: | ښېرندوی حمایت الله بناد |
| پښتی ډیزاین: | ښېرندوی احسان الحق کبیر |
| کتاب ډیزاین: | ژباړن |
| چاپ کال: | ۱۴۰۱ل/۲۰۲۳م. |
| چاپ شمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |


د ژباړن اړیکپتې: +93-766-504-293 | javedaftab124@gmail.com

**د کتاب د هر ډول خپراوي حقوق یوازې له ژباړن سره خوندي دي.**

**پته**: سمون کتابپلورنځی، مینه‌یار مارکېټ، درېیمې ناحیې ته نږدې، میرویس میدان (کوټې سنګي)، کابل – افغانستان.

اړیکشمېرې: ۰۷۸۱۳۶۲۶۰۰ / ۰۷۴۹۴۲۲۰۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالی

آزادي غوښتونکي قيدي «علي وزير»،

خپل همراز ملګري «محمد اکبر نيازي»

او

د اجمل خټک ټولو فکري لارويانو ته!

آفتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «په راز کې راز»
## يوه پېژندنه

اجمل ختک دا ناول په سوچي ققفاز (کوه قاف) کې، چې د شوروي اتحاد تور سمندرگي په غاړه يو تفريحي ځای دی، هغه وخت ليکلی و، کله چې هلته په روغتون کې تر درملنې لاندې و. دا ناول د ۱۹۷۴م، د جولايي په لومړۍ ورځ بشپړ شوی و، په دې ناول کې هغه د خپلې خاورې او هېوادوالو د عطر خوشبويي ورگډه کړې ده. د سبک له مخې يې په دې کې د پښتو، پښتونولۍ د ننگ او غيرت انځور او شعور په وړاندې کولو سره دا زبات کړې، چې هغه پر خپله خاوره بې‌ساری مېَن انسان و.

اجمل ختک د پښتو نظم انقلابي شاعر و، هغه چې د پښتنو ذوق او غږ په کومو انقلابي چغو سره ځپاند او بيدار ساتلی و، نن هم د هغه په ځواک کې کمی نه ليدل کېږي. حقايقو ته شعري مجاهدې ورکوونکي دغه ستر شاعر د سرحدونو او پولو له وېش پرته پښتانه د ملي يووالي او ملي آزادۍ له ابدي پيغام سره آشنا کړل، يقيناً چې له خوشحال خان ختک وروسته د اجمل ختک غږ داسې دی، چې په نړۍ‌واله کچه د پښتنو د استازۍ حق لري، چې د هغه په شاليد د هغه خوځنده سياسي شخصيت او د هجرتونو هغه خوندونه پراته دي، چې هغه يې ټول عمر احساسوي. عملي سياست ته د هغه ورگډېدل او ذاتي رښتينولۍ سره تړون هغه له هر ډول وېرې او ډار بې‌نيازه ساتلی او همدې نه‌ډار او آزاد طبعې د هغه په شاعرۍ کې ابديت پيدا کړی دی. همدا لامل دی چې د هغه شعري ټولگې د پښتو شاعرۍ شهکار ثابت شوي دي، خو هغه خپل دا سفر تر شاعرۍ پورې محدود نه دی ساتلی او نه يې ځان تر يوې ژبې پورې تړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، بلکې د پښتو ژبې او ادب تر څنګ یې په اردو ژبه کې هم قلم چلولی دی او له شاعرۍ سره - سره د نثر پر پولو هم اوښتی دی. دا بېله خبره ده چې دلته د هغه ټول ځانګړی لیکنی انداز ساتل شوی، که نه؟ په کوم چې د هغه څېره په ادبي نړۍ کې مشهوره وه. په هر صورت د ده په اړه به دا ویل مبالغه نه وي، چې په اردو کې به د ده قلمي ځواک له هغو خوبیو او کمال څخه په څه کې کم وي. د دوی دغه اردو ناول هم د قبایلي باورونو او عنعنوي دودونو پر بنسټ یوه کیسه ده، چې د هغې توکي او برخې د پښتنو په قومي تاریخ کې ځای - ځای په نوښت سره لیدل کېږي. اجمل خټک د خپل شاوخوا چاپېریال په تناظر کې په دې کیسه کې په نړۍواله کچه د فعالو غاصبو ځواکونو شوم پلانونه او تؤطیې رسوا کړي دي، د ناول چاپېریال هم ساده او پر تکلف دی؛ ځکه چې د هغه د لیکلو دوره هم پخوانۍ ده؛ نو د نوي دور او زمانې پر پیمانه اندازه کول به یې هم معقول نه وي، په هر صورت د دې مطلب دا نه دی چې زه د ناول لیکوال ته په رعایتي ډول د نومرو او برأت ورکولو کوښښ کوم، بلکې مقصد مې دا دی چې د لیکلو وخت له پامه غورځول او پر هغه کره کتنه کول غلط فهمي را منځته کوي.

د ناول چاپېریال د ښکېلاکي ځواکونو د شومو تؤطیو موخې او اجنډاوې په ډېره ښه بڼه روښانوي؛ خو له ناڅرګندو او اظهاره ګډوډ لفظونو او احساساتو سره، د ناول پر ژبه د ناول د چاپېریال په‌څېر د پښتنو د لهجو، مرګونو او باورونو غالب اثر پروت دی، چې له هغه نه داسې پته لګي چې دا د یوه پښتانه قلموال تخلیقي ریاضتونو پایله ده. ناول د وخت په تېرېدو سره د ودې او بشپړتیا له څو پړاوونو تېر شوی دی او خپلې لوړتیا او پیاوړتیا ته د رسېدو هڅه یې کړې ده، په دې شالید او پس‌منظر کې د اجمل خټک دا ناول ډېر را څرګند شوی او ځلېدلی نه دی؛ خو له پیله تر پایه پورې په‌کې یو ډول کشش ښکاري او د ځینو رازونو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوه له پیله تر پایه له ځینو ځانګړنو برخمن دی. دا منو چې د دې فضا په لومړیو کې داستاني او ماورایي کیسه ښکاري؛ خو ورو - ورو د ژوند مهمو او اړینو پړاوونو په لور حرکت کوي. مرکزي موضوع یې له ظلم او زور زیاتي ځخه پرده پورته کول او ژبېښاکګرو او زیاتي‌کوونکو پر خلاف مزاحمت او مبارزه کول او د بهرنیو ځواکونو پر شا کول دي. همدارنګه د ژوند معقوله فلسفه هم په‌کې وړاندې وروسته را څرګندېږي، په خپله خوښه او آزاد ژوند کولو احساس او روحیه په‌کې په مثبت ډول وړاندې شوې ده، زرمینه له دې احساس ځخه سرشاره کېدو سره نه یوازې له شهباز خان نه کرکه کول پرېږدي، بلکې د خپل کورني ژوند بڼایه کولو ته هم چمتو شوه، کله چې شهباز خان هغې ته وایي چې:

**«د خپلې خوښې آزادي باید د نورو آزادۍ او خوښې د سلبولو په بدل کې نه وي، بلکې د هر چا خپله خوښه وي، چې د هغې په رعایت کولو سره ځان ته د خوښې او آزادۍ لار وټاکي.»**

اجمل ښتک په دې ناول کې په کورني ژوند کې د شک او شبهو د له منځه وړولو کوښښ هم کړی دی، هڅه یې کړې چې دا تصور عام کړي چې: «**له هرې ممکنې لارې دې هڅه وشي چې د کور او کورنۍ یووالی مات او زیانمن نه‌شي.**»

په ناول کې د جهاد د فلسفي اهمیت او افادیت او همدارنګه د جهاد او ترهګرۍ تر منځ توپیر هم په‌کې په ډېر ښه ډول روښانه شوی دی. د خپلې ټولنې هغه طبقې یې هم ښودلې، چې هغوی حق او باطل له یو بل سره ګډوي او خپلو شومو موخو ته د رسېدو له‌پاره پلانونه جوړوي.

په ناول کې نورې ترکیبي برخې، یعنې منظر کښنه، مکالمه، تجسس او پلټنه هم له موضوع سره سم دي، د کرکټرونو طبقې په پام کې نیولو سره، د هغوی حرکتونه او کړنې هم پر خپل ځای پراخې او محدودې را څرګندېږي؛ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همدې امله په ټوله کې د پښتني ټولنې د تناظر د اعتبار او باور له مخې دا ناول ډېر اغېزناک او ګټور دی، خو د نوې زمانې پښتنو لهپاره د هغو حیثیت، لکه د تېر شوو پېښو او واقعاتو پهځېر دی.

اجمل ښتک چې پښتو نظم ته کوم نړیوالتوب، ښکلا او ځلا وربښلې ده، دلته په دې ناول کې هغه په هومره کچه نه محسوسېږي. په هر صورت موږ دا په بشپړه توګه له پامه هم نهشو غورځولی، په ځانګړې توګه چېرته چې د انساني کړنو او سلوک د کمزوتیا پړاوونه را مخې ته کېږي، هلته بیا د اجمل ښتک پیاوړی قلمي ځواک او د هغه ادبي تجربې خپل سِحرکاري او اغېز ښکاره کوي. د ناول له بشپړېدو څخه ډېر وخت وروسته د هغه د خپرېدو هوډ او تکل کېږي، خدای دې وکړي چې دا ناول په ادبي نړۍ کې هم هغه لوړ ځای او پوړ خپل کړای شي، چې د اجمل ښتک نورو ادبي فنپارو تر لاسه کړی دی او روح یې د ده په بدن کې، لکه د وینې پهځېر ګرځي راګرځي.

د باچا خان ریسرچ مرکز څخه هم مننه کوم، چې دوی له اجمل ښتک او پښتون قوم سره د ژورې مینې په پار د دې ناول له چاپ او خپراوي سره مینه وښوده.

پروفیسر ډاکټر زبیر حسرت
د پښتو څانګې مشر
ګورنمنټ پوسټ ګریجویټ کالج صوابۍ
د نومبر لومړی، ۲۰۲۱م.کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د آزادۍ ارماني

«انسان د خپلې خوښې خاوند دی، هغه په خپله خوښه په دوزخ کې هم خوشحاله وي او چې خوښه يې نه وي، نو په جنت کې يې هم زړه نه لګي. په خپله خوښه آزاد ژوند کولو له امله انسان، انسان دی، که نه د غلامانو په څېر د نورو په خوښه ژوند کولو نه مرګ غوره دی...»

دا د اجمل ختټک د زړه خبره ده، چې ټول عمر يې د هغه په فکر او وينه کې غځونې کولې او د دغه ارمان په پار يې ډېرې د غيرت چغې ووهلې. د هغه دغه اظهار او مبارزه به تاسو د هغه په شاعرۍ کې حس کړې وي. هغه په خپل شعر او نظم کې «جنت» د آزادۍ سمبول په مفهوم کارولی، هغه آزادي يوازې ځان ته نه، بلکې هر انسان، په ځانګړې توګه خپل کړېدلي پښتون ته غوښته.

په دې ناول کې هم هغه د يوه غازي مجاهد (شهباز خان) په کرکټر کې د برتانوي ښکېلاګرو پر وړاندې آزادۍ او په خپله خاوره خپل اختيار ته جنګېږي، په دې لار کې يې هر ډول سر او مال قربانۍ ته غاړه ايښې ده او همدغه يو ارمان پسې راوتی دی. هغه په يو وخت کې هم بهرني دښمن او هم د هغوی په لاس جوړ شوو غلامانو، خدمتګارانو، ګوډاګيانو او جاسوسانو سره لاس او ګرېوان دی. د دې ترڅنګ يې د هغو پښتنو ملکانو، خانانو او سردارانو له څېرو هم پرده پورته کړې، چې د دښمن شومو موخو ته د مادياتو په بدل کې له خپل ولس او خاورې سره خيانت کوي.

د دې ناول جالبوالی دا دی چې د سياسي مبارزې تر څنګ د يوې خوږې مينې عجيبه داستان هم دی؛ خو د دې مينې انداز متفاوت او جلا دی. په دې ناول کې يو خوا د يو سپين‌ږيري شهباز خان او ځوانې زرمينې د وفا، مېړانې، زړورتيا او له خلوص نه د ډکې مينې داستان دی او بل خوا د يوه لوستي زلمي مراد د مينې او وينې رنګ دی چې د يوې قبايلي پېغلې د حسن، مينې، مېړانې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننګ پت او غیرت په بدرکه کې هرې بدۍ، بدرنګۍ او بد صورتۍ په مخ لاړې توکي.

«په راز کې راز» د داسې نورو ډېرو ژوندو او له ژونده ډکو کردارونو، نوو حالاتو او واقعاتو، سیاسي او ټولنیزو باورونو، دوکو، رواني مسایلو او د پښتني روایتونو حقیقي ناول دی چې د پلاټ جوړښت، د کردارونو عمل، د ژبې له خوږوالي سره - سره د اجمل خټک فکري څواک او نثري انداز، زړه راښکون هم لري.

لیکوال د خپلې ټولنې د حقیقي ژوند ډېره ښه انځورګري کړې ده، د ماشومانو فطري زړورتیا او حساسوالی، د پښتنو ښځو مېړانه، شهامت، قرباني او بیا د هغوی خوښه له پامه غورځول، همدارنګه د پښتنو روایتي او خرافاتي باورونه، بدګوماني، د ګډ ژوند اړیکې، پخلاینه، مینه، شعور، سیاست، رواني‌پوهنه، ټولنپوهنه، بیداري، وطن دوستي، د یووالي مفکوره، ځان جوړونه، تاریخ او داسې نور ډېر څه په‌کې محسوسېږي.

د اجمل خټک دا ناول له غلامۍ او استعماري حالته د وتو یوه غوره سیاسي نسخه ده، چې له بده‌مرغه زموږ قبایلي سیمې اوس هم له دغه بدرنګه جال او لومو څخه په امان نه دي.

دا ناول اجمل خټک له ۱۹۹۰م. کال څخه مخکې په اردو ژبه لیکلی و، خو دا چې ولې په خپل وخت د هغه له نورور آثارو سره نه دی چاپ شوی، په لامل یې نه پوهېږم.

ما چې کله «د اجمل خټک سیاسي افکار د نظم په هېنداره» کې تر عنوان لاندې د خپل ماسټرۍ تېزس له‌پاره د مطالعې پر مهال د ډاکټر زبیر حسرت په «وروستي سپرلي نرګس» کتاب کې ولوستل چې اجمل خټک د «راز در راز» په نوم په اردو ژبه ناول هم لیکلی او د قلمي نسخې یوه کاپي یې حسرت صاحب ته ډالۍ کړې؛ نو د تېزس له بشپړولو وروسته مې د دې ناول پیدا کولو هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه، چې له نېکمرغه په همدې وخت، یعنې په ۲۰۲۲م. کې د باچا خان ریسرچ سنټر لهخوا په اردو ژبه چاپ شو، له تر لاسه کولو او لوستلو وروسته مې پښتو ته را وژباړه، چې له نېکهمرغه اوس په پښتو ژبه هم چاپ ته چمتو او تاسو درنو لوستونکو او د اجمل خټک ځانګړو مینهوالو او فکري ملګرو ته یې د هنري تندې ماتولو په پار وړاندې کوم.

له قدرمنو ملګرو: څېړوندوی حمایت الله ښاد نه مننه کوم، چې د ناول د بیاکتنې زیار یې وویست، د څېړندوی احسان الحق کبیر او د کشر ورور امید خیالي په هنري ګوتو دې برکت وي، چې د پښتۍ په ډېزاین کې یې اخلاص وکړ او خپلو درنو مشرانو؛ ښاغلي ایمل خان خټک او محمد آصف وردک ته کور ودانی او مبارکي وایم چې دا ناول یې په ځانګړې پاملرنه او مالي ملاتړ چاپېږي.

ښکلي مو غواړم!

جاوید آفتاب

۲۹ جنوري ۲۰۲۳ - کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په راز کې راز

په ماشومتوب کې یې له مشرانو او سپین‌ږیرو اورېدلي وو، چې په فلاني - فلاني ځای کې داسې قبرونه دي چې عاشق او معشوقه دواړه په‌کې یو ځای خښ دي. یوه ورځ هغه له خپلو ملګرو جلا شو او په یوې ښکلې درې کې اخوا دېخوا ګرځېده، یو څو قدمه وړاندې یې سترګې پر ګڼو شنو ونو ولګېدې، د ونو د شنو پاڼو له منځه د پړقېدلې برېښنا په‌څېر یو خړ لوګی کوږ ووږ په نڅا - نڅا د آسمان پر لور الوت، هغه په دې فکر ور وخوځېد، چې ګوندې دلته به آباد کورونه وي، ښه وړاندې ورغی؛ ګوري چې یو سرشاره سیند په څوړ سره بهېږي. تر څنګ یې د جوړه انسانانو یو اوږد قبر دی، چې په خوا کې یې یوه ملنګ له درې څلورو تیږو نه یو نغری جوړ کړی، پر اور یې یو زوړ دېګ ایښی او ځان ته پخلی کوي. ملنګ چې هغه ولید، ورته را پورته شو او ښه راغلاست یې ورته وویل. د قبرونو په لیدو سره هغه ته د سپین ږیرو هغه په یوه قبر کې د جوړه انسانانو کیسې را یادې شوې. له ملنګ یې د دغه قبر په اړه چې جوړه انسانان په‌کې خښ وو، پوښتنه وکړه. ملنګ ورته د دې قبر په اړه عجیب او غریب داستان واوراوه، خو د ملنګ پر خبرو د هغه باور نه راته؛ ځکه هغه د سائینسي او مډرنې نړۍ یو لوستی ځوان و او د قبرونو اړوند دا ډول داستانونه خو له پیتاوي کیسو، مبالغو او قیاسونو پرته بل څه نه وي. که څه هم هغه له دې خبرو هم انکار نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو کولای؛ ځکه دا ډول کیسې یې له خپلو مشرانو نه په کراتو مراتو اورېدلې وې او دغه د جوړه انسانانو قبر د هغو خبرو یوه عملي او عیني نمونه وه.

یو څه وخت وروسته هغه دا پېښه هېره کړې وه، دا وخت هغه د ځنګلونو د ریاست کارکوونکی و او په یوې اوږدې ښکلې دره کې له خپلې کاري ډلې سره د ځنګلونو پر سروې ګومارل شوی و. په دې ورځو کې د دوی کاري ډلې په داسې یوه ځای کې خیمه لګولې وه، چې درېوو خواوو ته یې لوی - لوی ځنګلونه وو او څلورم اړخ ته یې یوه زرغونه اوږده دره وه، چې تر لرې پورې د غرونو په منځ کې غځېدلې وه. د درې او ځنګلونو په منځ کې د ښکار ځای و، چې په دې ځای کې پر ځنګلي ځناورو سربېره غرني الوتونکي هم ښه پرېمانه وو. د دې درې اوسېدونکي چې کله د دوی کمپ ته د دوی خدمت یا پر دوی د شودو، غوړو، پنېر، کوچ او مېوو پلورلو لەپاره راتلل؛ نو دوی به هم د دغه ښکارځي ډېره ستاینه کوله. همدارنګه کله چې به هغه هم له رسمي دندې وزګار شو، خپلې خېمې سره به کېناست؛ بس چای څښه، کتاب لوله او د شاوخوا چاپېرچل له ننداري خوند اخله؛ نو له دې سره به یې د یادې درې او ښکارځي په لیدو زړه باغ - باغ شو او غوښتل یې چې له نږدې یې سم سیل وکړي. همداسې یې یوه ورځ له خپلې رسمي دندې نه یو څه وخت سپما (بچت) کړ او سهار وخته د درې له یوه اوسېدونکي، یعنې خپل خدمتګار سره د درې په لور روان شو.

هغه په دره او ښکارځي کې د سیل او تفریح ډېر شیان ولیدل. رښتیا چې فطرت دغې یوې ټوټې ځمکې ته ډېر طبیعي ښایست او ښکلا بخښلې ده. بېرته راتګ پر مهال پر یوې نرۍ لاره روان شو، کله چې له یوه موړه تاو شو، یو کوټګۍ یې ولیده، چې یو فقیر په کې ناست دی او د شپېلۍ زده کولو کوښښ کوي. هغه له فقیر سره په خبرو بوخت شو چې ناڅاپه یې سترګې پر یوه قبر ولګېدې، دا قبر تر نورو قبرو یو څه اوږد و، د هغه دې ته پام شو او له فقیره یې د قبر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه پوښتنه وکړه. فقیر ورته وویل: دا د یوه عاشق او معشوقې قبر دی او خلک ورته له لرو - لرو سیمو راځي؛ په تېره هغه خلک چې غواړي شپېلۍ، رباب، ستار او نورې آلې زده کړي. هغوی دلته راځي او خپل مرادونه پوره کوي. هره پنجشنبه دلته د مراد غوښتونکو خلکو بېروبار وي او په دې دره کې چې د چا واده وي؛ نو هغه تر نکاح مخکې یو ځل دلته هرومرو حاضري ورکوي. د دې قبر تر ټولو ډېر قدر او درناوی هغه ډاکوان، مفرور او باغیان کوي، چې د حکومت له ډاره په دې دره او شاوخوا کلو کې پټ وي. ده ته د ماشومتوب د وخت هغه خبرې بیا را په زړه کېدې، چې د ده په مغزو له مخکې نه ثبت وې او د جوړه انسانانو قبر په اړه د هغه یادونه بیا را تازه شول. هغه له خپل خدمتگار او فقیر سره دغه اوږد قبر ته نږدې ورغی، ویې لیدل چې دوه قبرونه داسې سره نخښتي، چې د یوه اوږد قبر بڼه یې خپله کړې ده. فقیر ورته وویل، چې د دې قبر سر ته معشوقه او پښو ته یې عاشق خښ دی. یوه ښکلې نجلۍ چې نوم یې زرمینه و؛ د حسن او ښایست صفتونه یې پر هر لور خواره وو، چې چا به هم ولیده؛ نو پرې مېَن به شو. د سیمې هر معتبر سردار، نواب، صوفي او ملا غوښتل چې له دې ښکلې ښاپېرۍ سره واده وکړي. فقیر په خپلو خبرو کې وویل، چې د زرمینې د خپلولو د سیالیو او مقابلو داستانونه ډېر اوږده دي. لنډه دا چې یوه شپه هغه ناروغه شوه، د هماغه سهار له آذان سره چې کله خلک را ویښ شول؛ نو خبر شول چې زرمینه مړه شوې ده، خو تر ننه معلومه نه شوه چې هغه څنگه مړه شوه؟

د زرمینې د مرگ پر درېیمه ورځ د شهباز په نامه یو اتیا کلن سپین ږیری له یو خوا راغی او د زرمینې قبر ته نږدې، د هغې پښو ته پرېوت او همدلته یې ساه ورکړه. خلکو چې هر څومره کوښښ او زورونه ووهل چې د شهباز جسد له دې ځایه پورته کړي او بل ځای کې یې خښ کړي، زور یې پرې ونه ورسېد؛ نو هغه یې هم همدلته د زرمینې پښو ته خښ کړ؛ څکه دا قبر داسې اوږد راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کارکوونکي چې کله دا کیسه واورېده، نو له قبره ګرد تاوېده را تاوېده او فکر يې وکړ چې دا هر څه به رښتيا وي؟ دا د عاشق او معشوقې يو ځای قبرونه او د دوی اړوند کيسې او رواياتونه به څومره رښتيا وي؟ که وي، نو تر کوم ځايه؟ که نه وي، نو د خلکو په ذهنونو کې له پېړيو - پېړيو راهيسې دا کيسې ولې او پر کوم اساس ژوندۍ پاتې دي؟ آخر دا څه دي او ولې دي؟

د لمر وړانګې په پناه کېدو وې او د ماښام وزرونه په غوړېدو وو، خو د هغه په ذهن کې بې‌شمېره پوښتنې ګرځېدې را ګرځېدې. داسې ښکارېده چې د هغه پر زړه او ذهن باندې څه نوي اثرات او نوې نقشې غوړېدې او د هغه وجود د حيرت او تجسس په ګډو جذباتو کې د يوه نوي افق په لور بيايي. په دې خيالونو کې د ډوبېدو له امله هغه هېڅ په ځان پوه نه شو چې له خپل کمپه څومره لرې تللی او د شپې له راتګه مخکې بايد خپلې خيمې ته ځان ورسوي. د فکرونو په همدې صحنه کې خدمتګار، هغه بېرته تګ ته متوجه کړ، هغه هم وار له واره اوړد قبر پرېښود او د خپلې خيمې په لور روان شو. د بېرته تګ پر مهال يې څو ځلې شاته - شاته وکتل. په ټوله لاره ځان سره په فکرونو کې بوخت و، کله چې خيمې ته ورسېد او دننه ننوت؛ نو په وروستي ځل يې د قبر پر لور غځېدلې لار ته وکتل، بيا يې وويل: «کيسې دروغ کېدای شي، خو حسن يو حقيقت دی او مينه صداقت.»

رښتيا چې حسن يو حقيقت دی او مينه صداقت، که نه چېرته دېرش کلنه زرمينه، چېرته اتيا کلن بوډا شهباز خان او چېرته د وفا نه ورکېدونکې نښې. د هغو ورځو يو اوږد قبر او د عوامو د خولو دا زړه پورې کيسې...!

***

وايي چې زرمينه د مور په رحم کې وه، چې د هغې پلار او ځوان ورور، له پرنګيانو سره د جګړې له‌پاره د خپلې سيمې له ډلې سره ملګري وو، د پرنګيانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يرغلونو مخې به يې ډېولې، د هغوی د انتقالاتو پر لارو به يې چاپې وهلې او د زرمينې مور به د نورو ښځو په‌څېر خپلې ډلې ته د خوراک او څښاک په چمتووالي او د وسلو او باروتو د رسولو په چارو بوخته وه. دا لړۍ همداسې کلونه -کلونه روانه وه، په همدې وخت او حالاتو کې زرمينه وزېږېده، مور په غېږ کې واخيسته، د دې پر ځای چې دا ګوډۍ په کور کې پرېږدي، خپلې ملا پورې يې وتړله او د لمونځ کوونکو خدمت يې پيل کړ. زرمينه چې کله د ګرځېدو شوه؛ نو د خپل کلي نورو ماشومانو سره په لوبو لګيا شوه. په آسمان کې به چې د برتانوي يرغلګرو د طيارو غر او پر واورېدل شو؛ نو نورو ماشومانو به د خپل مور او پلار له لارښوونو سره سم خوندي ځايونو ته ځانونه رسول، خو زرمينې به ژر تيرږ ته لاس کړ او د طيارو په لور به يې وارولې او په چغو - چغو به يې بد رد ورته ويل. يو څه موده وروسته يې له سنګره د دوی يو شهيد کليوال کور ته راوړ، د هغه کټ ته نږدې کېناسته، کله چې جنازه پورته شوه، که د زرمينې مور او نورو ښځو هغه نه وای نيولې، نو هغې تر قبر پورې د تللو ضد کاوه.

داسې يوه بله پېښه هم وه، يوه ورځ يې له مور سره د لومړي خط سنګر ته د غنمو اوړه او جوار وړل، له هغې خوا نه يوه هوايي ګولۍ راغله او د هغې پر پښه ولګېده، چې د کينې پښې دوې ګوتې يې پرې شوې. مور يې ورته وويل، چې همدلته کېنه، ارام وکړه، خو هغې پر زخمي پښه له مور سره يو ځای غازيانو ته خوراکي توکي ورسول. د زرمينې ماشومتوب له داسې ډول - ډول مصيبتونو، ستونزو او له هغو سره د زرمينې د ځانګړي مزاج په مقابله کې تېرېده، نورو ماشومانو به دې ته ضدي ويله.

هغه تر خپلو همزولو نجونو او هلکانو بالکل مختلفه وه، خد و خال کې هم او په خوی او خصلت کې هم، تر دې چې کله به د هغې همزولو له نورو نجونو سره ښکلي شيان وليدل، نو د هغوی زړونه به ورته ترپېدل، چې کاش دا شيان

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ وای. یوه ورځ د زرمینې د ماما زوی له ښاره خپلو خویندو او هغې ته سره او شنه بنګړي راوړل، هغې په خوشحالۍ سره په لاسونو کړل، له کوره بهر د خپلو ملګرو منځ ته ورغله، هلته یې خپلې غریبې ګاونډۍ ملګرې «ګلابو» ته پام شو، چې د دې بنګړو ته په خوارو سترګو عاجز - عاجز ګوري، زرمینه د هغې د زړه پر کیفیت پوه شوه، له هغې یې پوښتنه وکړه: ګلابې! دا بنګړي دې خوښ شو؟ ته یې په لاسونو کوې؟ ګلابې په شرمېندوکي غږ غلي وویل: هو! زرمینې دستي بنګړي له خپلو لاسونو وویستل او هغې ته یې په لاسونو کړل. ګلابې له ډېرې خوشحالۍ د کور پر لور منډه واخیسته، چې مور او خویندو ته یې وښیي، چې څومره ښایسته بنګړي مې په لاسونو کړي دي. بل خوا له لوبو وروسته چې کله زرمینه کور ته لاړه او مور یې خالي لاسونه ولیدل؛ نو په غوسه یې ورته وویل: کوځه‌ډېې بنګړي دې چا ته ورکړل؟ هغې په لړزېدلي غږ ځواب ورکړ: ګلابو ته مې ورکړل. مور یې له غوسې نه سره او شنه واوښته، زرمینه یې له دواړو لاسونو کش کړه او ښه یې وډبوله. بیا یې د زرمینې مشرې خور ته وویل: ژر شه! د هغې سپۍ مور ته ورشه! ورته ووایه! چې بنګړي بېرته ژر راکړه، کنه، نه د هغې خیر شته او نه یې د لور. مشرې لور یې په څو شېبو کې بنګړي بېرته راوړل. زرمینې د مور په وهلو نه وو ژړلي، خو د بنګړو په بېرته راوړو یې وژړل. د همدې ورځې پر ماښام یې چې کله مور له چینې نه له دوو ډکو منګو سره کور ته ستړې ستومانه راورسېده، ګوري چې زرمینې له ډېرې غوسې نه له تاخچې څخه بنګړي را اخیستي او د انګړ منځ کې یې د تیږې لاندې ټوټې - ټوټې کړي دي. له دې سره زرمینه نه یوازې په ضدي مشهوره وه، بلکې دا هم د هغې ثاني فطرت و، چې د نورو د هیلو او خواهشاتو درناوی وکړي او د غریبانو محتاجې د هغې د زړه زخم او د ذهن اغزی و. د کلي هلکان به اکثر جګو - جګو ونو ته ختل، د مرغیو له ځالو به یې بچي او د ګبینو مچیو ځالې به یې رانړولې، ځینو زړورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجونو به هم دا کارونه کول، زرمینه په دې کار کې تر هلکانو څو گامه مخکې وه. د دوی په کلي کې د ببرې یوه ډېره لوړه او گڼ اغزنه ونه وه، د دې ونې په لوړ ښاخ کې د گبینو مچیو ځاله وه، دا ځاله د کلي د ټولو هلکانو له شره په امن وه؛ ځکه په ډېر لوړ او سخت ځای کې وه، زرمینې چې ولیده، د همت ملا یې ورته وتړله، په لومړي ځل ختو کې یې پښه خطا شوه او لاندې را پرېوته؛ خو پښه یې له زخمې کېدو او ماتېدو بچ شوه. په دویم ځل په اغزو کې ولوېده او ټول کالي یې وشکېدل، همداسې یې بیا - بیا کوښښ وکړ، خو ناکامۍ ته تسلیم نه‌شوه. آخر د «میرزاگل بابا» په لارښوونه زرمینه د گبینو ځالې په را شکولو بریالۍ شوه.

زرمینه خپل سرې وه؟

نه! خو تر دې حده د خپلې خوښې او اختیار خاونده وه، چې هغه خپله هم ورته قایله نه وه. د جبر، تشدد، قهر و غضب او زور زیاتي منلو ته هېڅ تیاره نه وه. چې د لس یوولس کالو شوه، نو خپلو همزولو سره به له کلي بهر چینې ته اوبو پسې تله. دغې چینې ته د دوی له کلا (قلعه) نه دوې لارې تللې وې؛ یوه عمومي لاره وه، چې لږه اوږده وه، خو ټولو ښځو پر همدې لارې چینې ته تگ راتگ کاوه. دویمه لنډه لاره وه چې ځینې نجونې به پر دې لارې چینې ته تللې. دا لاره د زرمینې د یوه خپلوان کور سره نږدې وتلې وه، چې هغه د زرمینې د حسن لېونی او له دې سره د واده ارماني و، خو د زرمینې خوښ نه و. دغه هلک به تل پر هغې فشار راوړه چې په دې لنډې لارې تگ راتگ وکړي؛ خو څومره چې به هغه پرې فشار راوړه، هومره به زرمینې پر هماغه اوږدې لارې تگ کاوه. یوه ورځ هلک له کلیوال دود خلاف د هغې مخه ونیوله او گواښ یې ورته وکړ، چې که بیا پر دې لارې راغلې، نو ښه به نه وي. زرمینه ډېره په غوسه شوه او د اوبو ډک منگی یې د هغه په سر ورگوزار کړ. په ټول کلي کې دا خبره ډنډوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه، هلک مجبور شو چې کلی پرېږدي، د دواړو کورنيو تر منځ سخت مخالفت او جنجالونه پيدا شو، خپلوي يې پر دښمنۍ بدله شوه. زرمينه د خپل کار په انجام ښه پوهېده، خو له خپل عادته مجبوره وه.

زرمينې ته تر ټولو لوی مصيبت خپل حسن و، چې چا به هم وليده، زړه به يې پرې بايلود. د کلي د جومات له ملا نيولې تر شپون پورې او له قومي ملکانو او سردارانو را نيولې آن ګاونډيو او شاوخوا کاريګرو پورې ټولو همدا غوښتل چې هغه يو نظر ووينې، له هغې سره خبرو کولو ته يوه پلمه جوړه کړي چې د هغې په نازک غږ خوږې - خوږې خبرې واوري. که د کلي يوه وړوکي دوکان ته به د سودا اخيستو لپاره هم لاړه، نو دوکاندار به هرومرو تنګوله، چې د هغې ترخې او له غوسې ډکې خبرې واوري، خوند ترې واخلي او ماښام به چې کله د اوبو وړولو لپاره چينې ته تله، نو هر ځای کې به ورته د کلي ځوانان په يوه او بله پلمه ولاړ وو، چې هغه يو نظر ووينې؛ ځکه ويل کېږي چې د هغې لپاره لوی مصيبت د هغې حسن او ښايست دی.

زرمينه به د اوو اتو کالو شوې وه، چې د کلي يوه بدعمله په فکر کې دا خبره وګرځېده، چې دا نجلۍ خو په هېڅ صورت زما نه‌شي کېدای؛ نو په دې کلي کې به رانه د بل چا په نصيب هم نه‌شي؛ ځکه بيا به ټول د هغه د زړه پر زخمونو مالګه شيندي. فکر يې وکړ چې په ښار کې به له يوه مرئي پلورونکي سره خبره وکړم او له هغه سره به يو ځای يو پلان جوړ کړم، چې زرمينه وتښتوي او په ښار کې يې پر يوه دلال خرڅه کړي، ډېرې پيسې به هم په لاس راشي او زرمينه به هم له کلي ورکه شي؛ بس کيسه ختمه او حساب پاک!

په کليوالو سيمو کې داسې پېښې تقريباً ناشونې وي. تصادفي په دې وخت کې د زرمينې مور او پلار خپله ښار ته د تللو نيت وکړ، د دوی نيمه کورنۍ له کلونو راهيسې په ښار کې مېشت وه، هلته د يوه واده لپاره سره را ټولېدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرمینه یې هم ځان سره بوتله. د داسې مناسبتونو لهپاره چې کله کلیوال ښار ته خپلوانو کره لاړ شي، نو ډېرې شپې پرې اوړي. بدعلمه چې د دوی له تګه خبر شو، نو هغه هم ځان ښار ته ور ورساوه. مرئي پلورونکو او د هغه همکارانو ته یې د زرمینې د خپلوانو کور وښود او د زرمینې په اړه یې هم ورته وویل. له دې وروسته هغوی په دې سیمه کې ګرځېدل راګرځېدل چې بس موقع په لاس ورشي او نجلۍ وتښتوي.

څو ورځې وروسته زرمینه ورکه شوه، د پیدا کېدو ډېره هڅه یې وشوه، خو هېڅ درک یې ونهلګېد. خلک حیران شو، چې پر هغې څه وشو او یو ناڅاپي څه شوه؟ زرمینه د مرئي پلورونکي یوه همکار تښتولې وه، د هغې حسن یې چې ولید؛ نو غوښتل یې چې دا له ځان سره وساتي او خپل ځان ته یې را لویه کړي، خو د مالک له وېرې او د خپلې بېچارګۍ له وجې یې دا کار ونهشو کړای. مرئي پلورونکي چې نجلۍ ته وکتل، نو زړه یې پرې ونهشو، پرېکړه یې وکړه چې دا باید په هر قیمت له ځان سره وساتي او چې کله پېغله شوه، نو ځان ته به یې په نکاح کړي. کلیوال بدعمله ته زر روپۍ ورکړې، پلمې او ګواښونه یې ورته وکړل، هغه یې په دې ډول وډار کړ او ځان یې ترې خلاص کړ.

زرمینه یې په دې ډول وتښتوله او نورو نجونو سره یې په یوې زیرزمینۍ کې بندي کړه، خو د نورو نجونو پرعکس د دې په پښو او لاسونو کې زولنې نه وې او له دې سره یې د وهلو او شکنجه کولو سلوک هم نه کاوه. البته خوله یې ورته په یوې کلکې پټۍ تړلې وه، چې چغې ونه وهي او دواړه لاسونه یې ورته د ملا شا ته تړلي وو، چې د خولې پټۍ پرې خلاصه نهکړي. زرمینې خوراک څښاک نه کاوه، په دې تنګ و ترش او هیبت ناک ځای کې ورځ تر بلې کمزورې کېده، تر دې چې ناروغه شوه. مرئي پلورونکی وډار شو، فکر یې وکړ، داسې نه چې زرمینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړه نه‌شي. له هغه سره د زرمينې او خپل زړ روپو فکر نه و، بلکې له هغه سره دا غم و، چې کور ته يې راغلې د قاف غره ښاپيرۍ له لاسه ورنه‌کړي.

مينې، هوس او اووه اته کاله وروسته د هغه د کور حسينې ملکې له لاسه ورکولو انديښنو هغه په عقل ړوند کړ، که نه داسې نجونو، په ځانګړي ډول د زرمينې غوندې ضدي او شوخې نجلۍ ته ډاکټر راغوښتل، له بې‌عقلۍ نور څه کېدای شي؟ مرئي پلورونکي بيا هم له احتياطه کار واخيست او زرمينه يې د يوه ملګري کور ته بولته او خپله يوه ډاکټر پسې لاړ. ډاکټر ته يې ويل، نه‌پوهېږم چې زما پر لور څه شوي؛ نه څه خوري او نه څه څښي، د لېونو په‌څېر خبرې کوي او سخته ناروغه ده، مهرباني وکړه ما سره لاړ شئ او د هغې درملنه وکړئ. ډاکټر چې د زرمينې درملنې ته لاړ، د هغې په ليدو سره هک پک شو، چې خدای پاک دې نجلۍ ته څه حسن او ښکلا ورکړې. څو شېبې همداسې، لکه بې‌ساه کالبوت د هغې په ننداره و. ډاکټر په ډېر تعجب کې شو، چې له دغه بدرنګه او بد شکله مرئي پلورونکي سره د دې ښکلې نجلۍ د پلار او لور اړيکه څنګه کېدای شي؟ په خد و خال، رنګ او څېرو کې يې ځمکه او آسمان توپير دی، په شکل او صورت کې يې د پلار او لور ذرې هومره نښه او ورته‌والی هم نه ليدل کېږي، بلکې بالکل تضاد دي.

خير ډاکټر غوښتل چې خپله معاينه شروع کړي، نو زرمينې سم دستي چغې کړې او په کليوالې لهجه يې غوسه او فرياد شروع کړ. ډاکټر چې د هغې لهجه واورېده، نور هم حيران شو، چې د يوه پلار او هغې د لور په ژبه او لهجه کې دومره توپير څنګه دی؟ آخر يو لوستی انسان و، بيا ډاکټر هم و، هغه د دې وضعيت په ليدو او اورېدو دومره توپير کولای شو، ډاکتر په فکر او انديښنو کې ډوب شو، خو ژر يې هېڅ پرېکړه و نه‌کړه، زرمينې ته يې وکتل او ببرته خپل کلينک ته روان شو؛ خو پر ذهن يې د زرمينې د حسن سِحر ناست و او له ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنو او سوچونو سره کلینک ته ورسېد. خپله یوې پرېکړې ته هم و نه رسېد، نو خپل هم‌عمره تجربه لرونکی او پوه کمپوډر یې راوغوښت، د کوټې دروازه یې بنده کړه او هغه ته یې ټوله کیسه وکړه. پوښتنه یې ترې وکړه، ته څه فکر کوې، چې دا څه معامله کېدای شي؟ د کمپوډر فکر هم پرې ونه رسېد، په دې وخت کې د دروازې ملازم راننوت، ده د ډاکټر خبرې لږې - لږې اورېدلې وې، په هیبتي او احساساتي حالت کې ډاکټر ته مخاطب شو. ډاکټر صیب! دا څه کیسه ده؟ ډاکټر هغه ته هم ټوله کیسه وکړه. ملازم ورته وویل: زه داسې ګومان کوم چې دا هماغه ورکه شوې نجلۍ ده، چې څو ورځې مخکې زموږ له سیمې لادرکه شوې ده.

ډاکټر: تا هغه لیدلې؟ څو کلنه به وي؟

ملازم: ما هغه نه ده لیدلې، خو خپلوان یې وایي چې د اوو اتو کاله ده.

ډاکټر: خپلوانو یې نورې کومې نښې نښودلې؟

ملازم: جناب! وایي چې ښکلې اوږده - اوږده ویښتان یې دي.

ډاکټر له دې خبرې اورېدو سره وویل هو! دا هماغه نجلۍ ده.

خو ډاکټر په دوو کې ګیر و، که حال ووایي نو په دښمنۍ به واوړي او که نه یې وایي، نو د یوې ښکلې نجلۍ ژوند تباه کېږي، آخر یې پرېکړه وکړه چې د دې ښکلې نجلۍ عزت او ژوند ژغورلو په خاطر که د ده سر هم ځي، نو دا سودا به ګرانه نه وي. هغه د خپلې انساني جذبې او د نجلۍ له حسن نه دومره متاثره او لېواله شو، چې له ډېر ښه فکر کولو نه پرته یې دستې ټیلفون پورته کړ، د پولیسو حوزې ته یې زنګ وواهه: «آمر صاحب! زه په ډاډ سره وایم چې د دې ښار په یوه کور کې یوه تښتول شوې نجلۍ ساتل کېږي، زه همدا اوس له هغه ځایه راغلم، په خپلو سترګو مې ولیده، هیله ده بیړه وکړئ، چې هغه پیدا کړئ.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



آمر صاحب څو دقیقې وروسته را ورسېد، ډاکټر هم پرته له کوم مصلحت او پایلې د حوزې آمر سره روان شو او ملازم ته یې وویل، ته ژر لاړ شه! د نجلۍ له خپلوانو نه یو کس ځان سره هلته راوله. ملازم د نجلۍ د خپلوانو کور په پوښتنو ګروېګنو پیدا او هغوی یې خبر کړل.

د تصادف له مخې ډاکټر او پولیس چې د هغه کور دروازې ته ورسېدل، نو مرئي پلورونکی او همکاران یې سره له نجلۍ بهر راوتل، د نجلۍ خوله په توره ټوټه او لاسونه یې شا ته تړل شوي وو او مخ یې ورته په څادر پټ کړی و. د حوزې آمر چې دا حالت ولید، له مرئي پلورونکي نه یې پوښتنه وکړه: دا نجلۍ څوک ده؟ مخ او لاسونه یې خلاص کړه! مرئي پلورونکي وویل: جناب دا زما لور ده، په دې څه شوي دي، د لېونو غوندې خبرې کوي. دغه ډاکټر یې درملنه و نه شو کړای، نو اوس یې لېونتون ته وړو. د زرمینې خوله یې چې خلاصه کړه، هغې وویل: «زه زرمینه یم، زه یې په زور تښتولې یم، ما وژني...» د حوزې آمر پلټنې او پوښتنې پیل کړې، ډاکټر او نور راټول شوي خلک د زرمینې شاوخوا ته ولاړ وو، چې په دې وخت کې ملازم او د زرمینې پلار راورسېدل. د پلار په لیدو سره زرمینه په غاړه کې ور ولوېده، په ژړا شوه او د مرئي پلورونکي په لور یې اشاره وکړه چې دغه ظالم بندي کړې وم، وژلم یې...!

د زرمینې ژوند، حسن، عزت او حیا وژغول شوه، مرئي پلورونکی د پولیسو لاسونو ته ورغی او ډاکټر خوشحاله شو چې د یوې بې‌ګناه ښکلې نجلۍ ژوند خوندي شو. خدای خبر چې وروسته به د مرئي پلورونکي له لاسه د ډاکټر انجام څنګه شوی وي، خو اصلي خبره دا ده چې ډاکټر له ځان سره ښه خاطره یوړه او په ځانګړې ډول د زرمینې له ښایسته دومره متاثره شو، چې په خپل کلینک کې یې په یوه ښکلې چوکاټ کې د زرمینې نوم ډېزاین کړ او هر وخت به یې پرې سترګې خوږولې او په دې به یې خپل زړه تسکیناوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زرمينې په مينه کې د کلي د دوو مشهورو ملکانو د زلمو زامنو تر منځ سخت رقابت روان و، چې ورو - ورو دا رقابت په دښمنۍ بدل شو. چنار خان به ویل چې زرمينه زما ده او د نواب ګل دعوه دا وه چې زه له هغې سره مينه لرم؛ خو زرمينې د يوه پروا هم نه ساتله او نه يې په فکر کې وه. که کومې ملګرې به يې په ټوکو ټکالو کې له دوی څخه د کوم يوه نوم ورته ياد کړ؛ نو هغې به په کرکجنو الفاظو سره لعنت پرې وويل.

د دواړو ملکانو زامنو د يو بل پوهولو ډېره هڅه وکړ او په خپلو منځو کې يې يو بل ته ګواښونه هم وکړل؛ خو يو هم پر شا نه شو. په دواړو کې ورځ تر بلې د مينې جذبات راپارېدل او د دواړو تر منځ د دښمنۍ اور په تېزېدو و.

له چنار خان سره د زرمينې د مينې ثبوت دا و چې کله هغه وړه وه او چنار خان په يوه واده کې په ناوې پسې د دوی کلي ته تللی و، په واده کې ځوانانو سندرې، نڅا، خوشحالیانې او لوبې کولې، زرمينه د هلکانو او نجونو په منځ کې ولاړه وه او د هغوی ننداره يې کوله. کله چې چنار په لوبه کې ښه سمه وويشته او هغه په خپلو سترګو وليدل چې زرمينې هغه ته ځير - ځير کتلو سره د افرين - افرين نارې وهلې او د هغه په فکر، چې د کليوالو په ټولنيز ژوند کې دا د مينې او لېوالتيا نښه ده. له دې وروسته هغه د زرمينې په مينه ډاډه شو او چې له چا نه به يې د زرمينې د حسن کيسې اورېدلې؛ نو برېتونه به يې تاو کړل او په زړه کې به يې ګوړې ماتولې، چې ګوندې دا ښکلې حوره خو د هغه ده او چې کله به هم د نجلۍ په کور کې کوم کار يا خدمت و، ده به ځان ور رسولی و.

د نواب ګل د دعوې دليل دا وه چې هغه يوه ورځ د زرمينې پر کلي تېرېده، زرمينې او څو نورو نجونو مال ته واښه رېبل، نواب ګل پر آس سپور و، کله چې د دوی له څنګه تېرېده، نو نورو نجونو ورته شا واړولې، کېناستې او زرمينه نېغه ولاړه وه، شا ته يې نواب ګل ته وکتل. له دې کتو د ملک زوی دا مطلب واخيست،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګونډې د هغې خوښ شوی او د ده پر ځوانۍ يې زړه وبايله. دا ځوان له دې وروسته په دې تمه ناست و، چې زرمينه د ده ده. چې هر کله به د نجلۍ له پلار سره مخامخ کېده، نو ډېر غوړ سلام به يې پرې اچاوه.

دواړو يو بل ته د خپلې مينې کيسې او دعوې واورولې، خو بيا يې هم يو بل ته د دښمن په سترګه کتل. د دواړو کليوالو او ملګرو ډېر کوښښ وکړ چې دوی پوه کړي، چې وخت او بخت ته په تمه شئ، له وخته مخکې په عبث خبرو دښمني مه کوئ؛ خو په دوی کې به چې د يوه پر زړه هم د زرمينې ياد راووريد، نو دا انديښنه به ورسره پيدا شوه، چې هسې نه رقيب مې د زرمينې مخ ته خنډ شي، نو له ډېرې غوسې به سور او شين واوښت. همداسې د وخت په تېرېدو سره دواړه دې پايلې ته ورسېدل، چې بايد له خپلې لارې اغزی لرې کړي، خو په قبايلي او کليوالو سيمو کې يو څوک وژل ډېرې بدې پايلې لري، هېڅوک دا جرأت نه‌شي کولای، چې څوک قتل کړي.

د خدای کړه وو، يوه ورځ چنار له خپل کلي نه لرې د زرمينې کلي ته نږدې يوې لوړې غونډۍ ته پورته شو، ښه په شوق يې شپېلۍ غږوله او په دې فکر کې ډوب و، چې ګونډې زرمينه د شپېلۍ غږ اوري، ته وا يو نيمګړی ملاقات ورسره کوي. په دې وخت کې نواب‌ګل پر آس سپور د زرمينې د کلي له لوري را روان دی او په لوړ غږ سندرې زمزمه کوي، هغه د ښکلې ښاپېرۍ په مينه کې سرشاره په مستۍ ګرځي. دواړو چې يو بل ته په دې حالت کې وکتل، نو دواړو ته د يو بل دا ډول حرکتونو خوند ورنه‌کړ، بس ته وا زرمينه په منځ کې ولاړه ده، يو يې يو خوا ته او بل يې بل خوا ته کشوي. د ړندې مينې جذباتي مجنون ځوان ته دا حالت نور د زغملو نه و، چنار له غونډۍ را ښکته شو، د نواب لاره يې ونيوه او ورته ويې ويل: ګوره نوابه! ته نه کېنې؟ نواب په غوسه کې ځواب ورکړ: ته څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې چې ما ته داسې خبرې کوې؟ ښه! زه څوک یم. چنار ناڅاپه پر نواب ډزې وکړې، نواب له آسه غورځېدلی نه و، چې ساه يې ورکړه.

نواب د تورو خاورو لاندې شو او چنار د دود او دستور مطابق کور کلی پرېښود، په ښار کې در په دره په پټه او غلا مزدوري کولو سره يې ورځې تېرولې او زرمينه به له خپلې کلا نه نوره ډېره کمه راوته. د درې د خلکو په منځ کې د نورو بې‌ځایه خبرو په‌څېر دا خبره هم ډنډوره شوه، چې د هرې جمعې پر شپه د نواب له قبر نه د «زرمینې، زرمینې ...» آوازونه کېږي، خو دا آوازونه هېچا په خپلو غوږونو نه وو اورېدلي. همداسې په کلي کې هر لور ته دا خبره هم مشهوره شوه چې چنار لېونی شوی او د «زرمینې، زرمینې...» ویلو سره په ښار کې لېونی - لېونی گرځي. په داسې حال کې چې هغه بې‌چاره د نواب کورنۍ له دښمنۍ او د جرگې پرېکړې نه پټ چېرته د ورکې ژوند تېروي او هغه په دې باور و، زرمينه څه چې، که بیا يې په ژوند کې د کلي دره هم ولیده، دا به د هغه لویه نېکمرغي وي.

د زرمینې ژوند له ماشومتوبه نيولې تر پېغلتوب پورې له داسې ډېرو کيسو او پېښو ډک دی، چې دې ډول پېښو د هغې پر زړه، ذهن، روان، خوی او خصلت باندې ډېرې منفي اغېزې کړې دي، حالاتو چې به هر څومره له هر خوا نه هغه په ستونزو او اندېښنو کې را گیر کړه، هومره به د هغې په آزاد طبيعت کې بغاوت غځونې کولې، هغې به خپلې خوښې ته پر هر شي، مصلحت او ضرورت ترجيح ورکوله، د هغې خپلوانو به هغه خپل‌سرې او ضدي بلله. هغه رښتیا ضدي وه؟ دا يوه رواني پوښتنه ده!

د هغې په ژوند کې تر ټولو نازک او پېچيده پړاو هغه و، کله چې به هر ورځ له هرې خوا نه د ښو او بدو خلکو له لوري ورته د واده پيغامونه او مرکې راتللې. هسې خو له ماشومتوبه د هغې مور او پلار ته خپل خپلوانو، ملگرو او اشنایانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشارو او کنایو کې خبره تر غوږه تېره کړې وه، خو مور او پلار به یې پر یوه غوږ اورېده او له بل غوږه به یې ویسته. کله چې پېغله شوه، نو رسمي جرګې او مرکې به پسې راتللې او هر یوه به له خپل حیثیت نه زیات د مال او دولت وړاندیز ورته کاوه، چا به ورته د خپل ټول جایداد ورکولو ژمنې ورکولې، چا به له سرو زرو سره د تول په بدل کې غوښته او چا به...، خو مور او پلار یې هېڅ پرېکړه نه شوه کولای او د زرمینې له مزاجه هم داسې ښکارېده چې د دې ضدي او جدي نجلۍ په حق کې پرېکړې کولو کې ډېر احتیاط پکار دی. په دې سیمه کې د نجلۍ خوښې ته چا نه کتل، دا ډول پرېکړې د نجلۍ پلار د خپلو نورو مصلحتو پر اساس کوي او پلرونه اکثر خودغرضانه او آمرانه وي. خو زرمینه ډېره ښکلې او زړوره نجلۍ وه او د عجیب او غریب طبیعت خاونده هم وه؛ نو ځکه یې مور او پلار د هغې په حق کې ژر پرېکړه نه کوله. ښایي دوی سره دا فکر هم و؛ که چېرې داسې یو ښه د سرو زرو هګۍ اچوونکې مارغه په لاس راشي، خو د وخت حالات او واقعات د هغې پلار دې ته هڅوي چې څومره ژر کېږي، هغه واده کړي، چې خپلې اوږې له اندېښنو او خطرونو سپکې کړي.

د دوی د درې د یوه ملک زوی له پخوا نه په ښار کې اوسېده، هلته د هغه ډېر ښه کاروبار و او خدای هر څه ورکړي وو. هغه په ماشومتوب کې زرمینه لیدلې وه او هماغه وخت پرې شیدا و، هغه ټول عمر دا نجلۍ یادوله، په ښار کې له زده کړو نه غیر چې د هغه بله مشغولا وه، نو هغه یوازې د زرمینې زرین یاد او ښکلی تصور و.

مراد د مور او پلار یوازینی زوی و، هغوی غوښتل چې زوی یې همدلته د زده کړو پر مهال له یوې نجلۍ سره واده وکړي، چې کور یې آباد شي؛ خو زوی د مور او پلار غوښتنې پوره کولو ته تیار نه و. تر دې چې یو ځل د ښار یو شتمن او معتبر خان د مراد پلار ته ویلي وو، چې زه خپله لور مراد ته ورکوم، که ستاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښه وي، نه یوازې دا چې زه به ډېر خوشحاله شم، بلکې په جهیز کې به ډېر څه ورسره ورکړم. د مراد د مور او پلار دا خېښي خوښه وه، خو مراد د تعلیم پوره کولو او د یوې ښې دندې پیدا کولو په پلمو دا وړاندیز رد کړ. په اصل کې د هغه په زړه او ذهن کې زرمینې ځای نیولی و، مراد له هغې سره د بل چا حسن او د جهیز مال او دولت ذرې هومره هم نه برابراوه.

د دندې ترلاسه کولو وروسته یې مور، پلار او خپلوانو ټولو غوښتل چې هغه ته واده وکړي او خپله مراد هم نور له زرمینې نه جدایي نه شوه زغملی. کله چې یې مور او پلار د ملګرو په خوله هغه ته د واده یادونه تازه کړه، نو هغه فکر وکړ چې نور باید مور او پلار ته ښکاره - ښکاره خبره وکړي، چې هغوی هم پوه شي او دی هم د زړه خبره نور په زړه کې پټه نه کړي، ښکاره یې ټولو ته ووایي، چې د دې مسئلې د حل لهپاره یوه مناسبه لاره پیدا کړي. هغه خپلو ملګرو ته ښکاره وویل، چې زه یوازې د خپل کلي د درې له زرمینې سره واده کوم، که د مور او پلار مې خوښه وي، درې ته دې لاړ شي او خبره دې پخه کړي. هغوی چې څنګه خبر شول، نو په دوو کې حیران پاتې شول، له یوې خوا که د نجلۍ حسن ته وګورو، نو له مراد سره ډېره ښه جوړه ده او که داسې ښکلې نجلۍ کور ته راولو؛ نو ټول ښار به ګوته په غاښ پاتې وي. بل خوا که وګورو، نو له یوه لوستي ځوان سره به یوه کلیواله نجلۍ څنګه ژوند تېروي؟ داسې نه چې دواړو ته ژوند سخت شي. بالآخره مور او پلار یې دې پایلې ته ورسېدل، چې یو څه وخت به په تمه شو او هڅه به وکړو، که چېرې د مراد اراده بدله شي، خو کله چې پوه شول چې هغه ورځ په ورځ د زرمینې په مینه کې زیړېږي، نو د هغه د خواهش پوره کولو پرېکړه یې وکړه او د درې په لور روان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زرمينې مور او پلار له مراد او د هغه له کورنۍ سره پخوا نه بلد وو او د مراد له ځوانۍ او دندې هم خبر وو، هغوی فکر وکړ چې له دوی به نور څوک ښه پیدا شي؟ دستي يې د مراد د مور او پلار خوله خوږه کړه.

زرمينه چې کله خبره شوه، خفه شوه؛ ځکه دا د هغې د طبیعت خلاف کار و، چې د هغې د ژوند پرېکړه دې د هغې له خوښې او اجازې پرته وشي، خو د مور او پلار پرېکړه نه منل هم د کورنۍ عزت، وقار او د کلي دود او دستور ته لويه بدنامي وه، هغې فکر وکړ چې زهر خوړل هم د خلاصون يوه لار ده؛ خو په دې کې هم تهمت او بدنامي ده. بالآخره هغې د خپلې کورنۍ او قام د عزت ساتلو، د مرگ له بدنامۍ او خپل ژوند ساتلو په خاطر د مور او پلار پرېکړې پر وړاندې غلې پاتې شوه. زرمينې د پلار په کور کې اکثر همداسې کول او همدا د هغې په شخصيت کې يو تضاد و، چې هغه يې ټول عمر زوروله، هغې څه غوښتل او څه ورسره وشول!

له واده وروسته هغې ته خدای بې‌جوړې خاوند او په هر لحاظ يوه خوشحاله کورنۍ نصيب کړه. خلکو به ويل چې مراد څومره نېکبخته دی، چې هغه ته د زرمينې غوندې يوه ښکلې ښځه په نصيب شوه او زرمينه څومره بختوره ده، چې داسې ښه کور ته راغله. د دواړو ژوند ډېر ښه او خوشحاله تېرېده او په هر لحاظ پر يو بل ډاډه او باوري وو. د مراد مور، پلار او خپلوانو به هم چې د دوی مينه او خوشحاله ژوند ليده، نو له ډېرې خوشحالۍ به په کالو کې نه ځايېدل. زرمينې د ټولو احترام کاوه او هېچا ته يې دا احساس نه ورکاوه، چې گوندې يوه کليوالۍ نجلۍ د ښار د يوه شتمن د کور له کړو وړو يا سلوک او سليقې سره بلده نه ده، مراد هم خوشحاله و، زرمينه به يې چې وليده؛ نو د ټولې ورځې ستړيا به يې ورکه شوه او په زړه او ذهن کې به يې د خوښۍ او تازه‌والي احساس را وټوکېد. البته يوه خبره وه چې د دې ښکلې ښاپېرۍ زړه، لکه گل چې پر ځمکه پروت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، خوشبوی یې وي، خو خپله مړاوی کېږي، د هغې په خندا کې هم یو عالم خپګان پټ و، په لومړیو کې داسې فکر کېده چې کلیوالې نجونې د ښار په کورونو کې تر یو وخت پورې د پردیتوب احساس کوي، که داسې وای، نو د وخت په تېرېدو سره به دا احساس ورو - ورو ختم شوی وی؛ خو دا پرعکس په ډېرېدو و. خیر خاوند ته یې د دې احساس نه کېده؛ ځکه د دوی پر ګډ ژوند دې وضعیت هېڅ اغېز نه‌و کړی، زرمینه هم په دې کور کې له خپل خاوند سره خوشحاله وه. هغې د کور فضا داسې ساتلې وه چې که څوک خپلوان یا مېلمانه به کور ته راغلل، هغوی به هم د خوشحالۍ احساس کاوه، هغې به د کور هر کار ډېر په مینه کاوه او هر څه به یې په پوره سلیقې سره کول، خو د دې خوشحالۍ شا ته د زرمینې په زړه او ذهن کې یو نری درد پټ و، چې هغه یې د ژوند خوږو ته نه پرېښوده. هغه به چې کله یوازې شوه، یا به ارامه کېناسته یا به یې لکه د لېونو ځان سره خندل؛ خو اکثر به په سوچونو کې ډوبه وه. زړه یې غوښتل چې کاش کې یوه مرغۍ وای چې کوم خوا مې زړه غوښتل، الوتلی او چې چېرته مې خوښه وه، هلته کېناستی او د شنه آسمان لاندې مې په آزاده فضا کې په خپله خوښه ژوند کولای.

دا وه زرمینه، د هغې طبیعت او د هغې د زړه خبرې یا د انسان هغه روانې ګډوډې چې تر شا یې ډېر لاملونه دي، چې پرې پوهېدل یې ډېر سخت دي او حل یې تر ننه ناشونی دی.

***

د شهباز خان پلار او نیکونه د خپلې قبیلې سرداران وو، د دوی قبیله ښار ته نږدې یوې هوارې او غرنۍ سیمې په اوږدو کې پرته وه. په دې سیمه کې چې څومره تاریخي جنګونه شوي دي، په هغو ټولو کې دا قبیله شریکه وه، بلکې د ټولو جګړو مرکز و. په دې جنګونو کې د ده کورنۍ د خپلو خلکو او ګران وطن د

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزادۍ لهپاره د یرغلگرو او هغوی ته وفادارو پاچاهانو پر وړاندې جنگېدلې، په همدې خاطر کله چې انگرېزانو دا سیمه فتح کړه، نو دې قبیلې ته د هغوی ډېر پام و. بدبختي دا وه چې د قبیلې سردار او مشرانو د معمول پهځېر له انگرېزانو سره خبره جوړه کړې وه، نو د هغوی پر خلاف د جهاد ټول زور د شهباز د کورنۍ پر مشرانو و. شهباز د همدې جنگونو په دوران کې پیدا شو، پالنه یې وشوه او په جنگونو کې ځوان شو. هغه په دې دوران کې څو ځلې د دښمن له یرغلونو څخه د ژغورلو په پار د خپلې کورنۍ له سپینږیرو، ښځو او ماشومانو سره غرونو ته پناه وړې وه، چې هلته یې له گرمۍ، یخنۍ، ولږې، تندې او هر ډول شرایطو او خطرونو سره مبارزه کړې. هغه د خپلې کورنۍ غړي په وینو کې لېت پېت ولیدل، داسې وختونه هم پرې راغلل چې په ورځو - ورځو یې شهیدان په کورونو او غارونو کې ساتلي، د خپلې کورنۍ غړي یې په داسې حالت کې ولیدل چې زخمونه به یې په ناسور بدل شو او بیا به ترې مړه شول. هغه دا هم ولیدل چې د خپلې قبیلې سردارانو او مشرانو او ملکانو یې انگریزانو ته د خپلې وفادارۍ ښودولو لهپاره د هغه پر مشرانو او خپلوانو څه - څه ظلمونه ونه کړل، هغه په خپلو سترگو ولیدل چې د قبیلې سردار په خپلو لاسونو د هغوی کلا او کور وران او ټول توکي یې وسوځول. هغه دا هم ولیدل چې خان څنگه د هغوی غوجله وسوځوله او ټول مالونه یې مړه کړل، هغه اورېدل چې د کلي لوی ملا د هغه مشران څنگه سپکول، هغوی یې خونخوار او لوټمار بلل او د هغوی د ځارلو سپارښتنه یې کوله، میا او پیر د جنت او دوزخ کیسو په کولو سره د دوی غازیان خپل مریدان گرځول او د انگرېزانو پر خلاف جنگ نه به یې راگرځول، غوړې وعدې به یې هم ورکولې او خوږې - خوږې خبرې به یې هم ورته کولې او له دې ورهاخوا به یې قومي پرېکړې او د خدایي احکامو فرمانونه او فتوې هم ورکولې؛ خو د شهباز خان مشرانو به د یوه پروا او خاطر هم نه ساته او خپل جهاد به یې روان ساته. شپه او ورځ به په غرونو کې پټ په غلا گرځېدل او د موقع پیدا کولو سره به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له تبرونو، سیخونو او خنجرونو سره پر انګرېزانو باندې چاپې وهلې او حملې یې پرې کولې. زخمي به شول، شهیدان به شول، خو له جهاد به یې لاس نه اخیسته.

شهباز خپله هم ورسره په جهاد کې برخه اخیسته، نور ځوانان به یې له ځان سره راټول کړل، سړکونه او پلونه به یې خرابول، له خپلې سیمې او قبیلې نه بهر له نورو لرو - لرو باغي قبیلو سره به یې هم اړیکې ساتلې، د شپې لهخوا به یې پر دولتي مالونو ډاکې اچولې، غازیانو او د هغوی کورنیو لهپاره به یې خواړه راوړل. په دې دوران کې څو ځلې له شهادت بچ شو؛ خو یو ځل ډېر شدید زخمي شو، څو میاشتې یې د مال پوستکی اغوستی و او په غار کې زخمي پروت و. کله چې انګرېزان د هغه پر قبیلې حاکم شول، نو دا وخت د هغه په کورنۍ کې له شلو نرینهوو نه یوازې درې کسه ژوندي پاتې وو، نورو ټولو د شهادت جامونه څښلي وو. په دې درېوو کې له ځوان شهباز خان پرته یو د هغه بوډا نیکه او بل یې د ترور زوی و.

جنګ نور له ښاري سیمو نه قبایلي سیمو ته رسېدلی و او پر هوارو سیمو د انګرېزانو بشپړ حاکمیت و، د دې سیمو اوسېدونکو ته جنګ کول ناشونی و، دلته دا وخت جنګ د ځان وژنې په معنا و، نو د دې سیمو غازیانو له قبایلو سره تر اړیکو وروسته پرېکړه وکړه، چې ښه به دا وي چې په هوارو سیمو کې په آزاد ډول جهاد بند کړو، پټ کار پیل کړو او له قبایلو سره مرسته وکړو. له دې پرېکړې سره سم د شهباز خان کورنۍ کلي ته راغله او د خپلې قبیلې له خان سره مېښت شو. خان ورته یو وړوکی کور او د ګذاره حال ژوند تېرولو لهپاره څو جریبه ځمکه ورکړه، په داسې حال کې چې د کلي د څلورمې برخې د ځمکې شرعي مالکان د هغه نیکونه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهبازخان کلي ته راغی، خو د هغه په یاغي مزاج کې کمی رانه‌غی. کله به چې د کلي خان د پولیسو مرکز ته د ودانۍ جوړولو بېګار ته د کلي ځوانان بوول، نو شهباز به له تګه انکار کاوه او ویل به یې چې «موږ غواړو چې له ټول وطنه د دوی جرړې وباسو، تاسو غواړئ چې موږ پر خپلو لاسونو دوی پر خپل سر باندې کېنوو».

همداسې که د خان د حجرې د خدمت موضوع به وه یا که د هغه د کور چوکیدارۍ ته به ځوانان راغوښتل کېدل، نو شهباز به په بدو ردو سره انکار کاوه. یوه ورځ پوځي قرارګاه ته نږدې شاوخوا حمله وشوه، نو د خان کسانو وویل، چې دا د شهباز کار دی.

شهباز به اکثر پنځلس - شل ورځې له کلي ورکېده؛ نو خلکو به ویل چې هغه بیا جهاد ته غیرعلاقې ته تللی دی، هره ورځ به داسې ډول - ډول خبرې کېدې، له دې سره به د خلکو خولې خلاصې شوې او له انګرېزانو سره د شهباز د دښمنۍ خبرو ته به هوا ورکول کېده.

د قبیلې خان له دې وضعیت څخه نور په تنګ شو، له هغه سره دا وېره وه، که چېرې دا خبرې یې مالکانو (انګرېزانو) ته ورسېدې، نو هغوی به ترې خفه شي او له ده به لاس واخلي، قبیله یا سیمه خو څه کوې چې هغه تر اوسه د کلي یو تنکی ځوان لارې ته رانه‌وست. خان شهباز راوغوښت، په نرمه او سخته دواړو ژبو یې د هغه غوږونه خلاص کړل، چې پوه شي، خو هغه په رښتیا ډېر سرزوری ځوان و، خان ته یې وویل: «کاکا! که ته په کلي کې زما لیدل نه غواړې یا له ما نه د پرنګیانو د غلامۍ تمه کوې؛ نو زه همدا اوس د کلي پرېښودو ته چمتو یم.» خان د هغه داسې ځواب د ځان بې‌عزتي، بې‌ادبي او ګستاخي وبلله. ډېره غوسه ورغله او غوښتل یې چې هغه پر خپلو کسانو ښه پوست کړي، خو بېرته یې ځان سره فکر وکړ، چې دا سرزوری ځوان چېړل، ځان ته کار لیدل دي؛ نو دستي یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته هېڅ هم ونه ویل، بلکې د هغه حب الوطني، آزادي غوښتنه او زړورتوب یې وستایه او رخصت یې کړ، خو څو ورځې وروسته یې مشر مالک ته له هغه نه شکایت وکړ او هغه یې د غلا او ډاکې په تور ونیوه او زندان کې یې واچاوه. په زندان کې یې څو میاشتې سختې سزاګانې ورکړې، چې وډار شي او له سرزورۍ لاس واخلي.

هماغه خان بیا له مشر مالک سره مشوره وکړه او شهباز پسې زندان ته لاړ. هغه یې راوغوښت، د هغه په مخ کې یې د زندان مسوول (انګرېز) ته بدې ردې وکړې او نورو انګرېزانو ته یې هم په غوسه کې سپکې سپورې وکړې، بیا یې شهباز ته وویل: «راځه چې ځو». د خان د دې تمثیل مقصد دا و چې په دې کار سره به شهباز تر خپل احسان او اغېز لاندې راولي او هغه به د ده خبرې ومني؛ خو شهباز سرزروی نه و، بلکې یو ځیرک پر وطن میَن غازي و، د هغه سر د انګرېزانو او د هغوی د ګډاګیانو پر چل او ول خلاص و. هغه په دې ډول له زندانه د وتلو انکار وکړ، د زندان مسوول هغه له بندخونې بهر ټېل واهه او ورته یې وویل چې «مورږ خان نه شو خفه کولی».

خان له دې وروسته شهباز ته ډېر متوجه و، د هغه لاندې کولو لهپاره یې بل فکر وکړ، د شهباز مور خپل زوی ته اندېښمنه وه، خان یې مور ته مشوره ورکړه چې زوی ته واده وکړي، مور یې په دې خبره ډېره خوشحاله شوه او شهباز ته یې د واده یادونه وکړه. مور یې فکر کاوه چې ګوندې هغه له خپل ماما لور سره مینه لري، نو زوی ته یې وویل: زه به ستا او ستا د ماما د یوازینۍ لور د واده خبره راجوړه کړم. شهباز له دې خبرې سره په غوسه وویل: مورې! په غلامۍ کې د واده کولو مطلب څه دی؟ پرنګیانو ته یو بل غلام پیدا کړه او مینه څه ته وایي؟ د وطن او خاورې حیا او پرده دې پرنګیان لوټوي او ځوان بچیان دې یې له نجونو سره مینې کوي، پر داسې ځوانانو دې سل ځله لعنت وي. مور یې چې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې واورېدې، زړه يې را ډک شو او په ډکو سترګو يې هغه ته وويل: زويه! ته زما د ژوند دغه يو ارمان نه‌شې پوره کولای؟ شهباز ورته وويل: کوم ارمان مورې؟ زما پلار، د دې کور شلو سپين ږيرو او ځوانانو، د دې قبيلې سلګونو غيورو انسانانو او د وطن زرګونو شهيدانو چې خپل ارمانونه د ګور غېږې ته يوړل او له هغو پاتې کورنيو سترګې مورِ ته دي، چې مورِ څه کوو؟ نو مورِ د هغوی ارمانونه له خاورو سره خاورې کړو او د بې‌غيرتو غوندې د مينې کيسې شروع کړو، ودونه وکړو؟

مور يې بې‌ځوابه شوه، غلې شوه، شهباز وويل: رښتيا! له تا سره خو د خوراک له‌پاره خاورې هم نه‌شته، نو زما واده ته پيسې له کومه کوې؟ مور يې خبره پټه نه‌شوه کړای، سم د واره يې ورته وويل: خان صيب يې د راکولو ژمنه کړې ده. شهباز له حيرانۍ ټکان وخوړ او مور ته يې وويل: ته ګوره! دا د پرنګيانو ګوډاګی ما څنګه په چل او هنر د واده او بچيانو په مسووليت اخته کوي او په خپل دام کې مې راګيروي او د وطن له خدمته مې محروموي. خير معلومه شوه چې نن يوازې د پرنګيانو او وطن دوستو خلکو تر منځ جنګ نه دی روان، بلکې د انګرېزانو سپي او وطن پلورونکي ښاغلي هم پرنګيانو ته د نمک حلالۍ په خاطر د جهاد سنګرونه کمزوري کوي. دا ملت پلورونکي له انګرېزانو نه زيات پرنګيان وختل.

يوه ورځ د نږدې بل کلي خان مړ شوی و، ډېره لويه جنازه يې وه، د هر مسلک او کاروبار خلک راغلي و، کله چې خان خښ شو، نو د کلي تر ټولو ستر مولوي او پير «حضرت صاحب» د قبر سر ته ودرېد او وعظ يې پيل کړ. حضرت صاحب د انګرېزانو پر پوځي قرارګاوو حمله کول، چاپې وهل او د دولتي پوځ د لوژستيکي کاروانونو لوټلو سره مخالفت وښود، دا يې په هېواد کې فساد وباله او انګرېزانو ته يې د اهل کتاب په خطاب کولو سره د هغوی دفاع وکړه. دلته شهباز

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان هم ناست و، هغه دا خبرې و نه شوای زغملې، خپل احساسات یې کنټرول نه کړل او را پورته شو، پر حضرت صاحب یې غږ کړ: حضرت صیب! ستاسو مرحوم پلار مشر حضرت صیب چې د دې اهل کتابو پر خلاف خلک جهاد ته رابلل او هغه به غازیانو ته ویل چې چېرته مو پرنګیان لیدل، حمله پرې کوئ، آن تر دې چې خپله هم په دې جهاد کې زخمي شو، د هغه په اړه ستاسو نظر څه دی؟ له دې خبرې سره سم د حضرت صیب مریدانو او معتدینو پر شهباز را ټوپ کړ، که نور خلک یې تر منځ نه وای راغلي، نو هغه یې هم له مرحوم خان سره خښاوه. په دې کې حضرت صاحب چالاکي وکړه او خپلو مریدانو ته وویل: پرې یې ږدئ! دا معاف دی.

دا ډول پېښې نور شهباز ته د معمول په‌څېر وې، خو دې ته حیران او اندېښمن و، چې آخر څه وکړي؟ یو خوا د انګرېزانو غلامي، چې دا بالکل د زغملو نه وه، بل‌خوا د جنګېدو وس او امکانات نه وو، نور یې له ژونده زړه موړ و، په زړه کې یې یوازې غلامۍ ته کرکې ځای نیولی و. البته کله به چې موقع په لاس ورتله، نو د انګرېزانو او د هغوی د ګوډاګیانو پر خلاف به یې د زړه بړاس ایسته. هغه په همدې ذهني کیفیت کې مشغول و، چې بیا ونیول شو او زندان تورو تمبو شا ته پرېوت.

د نیونې کیسه یې داسې وه چې د دوی کلي ته نږدې د قبایلي سیمې غازیانو د دولتي خزانې پر یوې قافلې حمله وکړه او ټوله یې لوټ کړه. په دې تور چې په دې پېښه کې هرومرو د شهباز لاس دی؛ نو هغه ونیول شو، خو څو میاشتې وروسته یې د زندان له چوکیدار او ملازم سره لاره جوړه کړه، له زندانه وتښتېد او قبایلي سیمې ته یې ځان ورساوه.

په قبایلي سیمه کې ډېر خوشحاله و؛ ځکه د پرنګیانو پر خلاف دلته د جهاد ډېره ښه موقع وه. دا سیمه له یو سر نه تر بل سره پورې د جهادي لښکرو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپو وهونکو ډلو په ولکه کې وه. شهباز خان په ډېر لږ وخت کې پر ټوله سیمه باندې د خپل زړورتوب او مېړانې روب داب خپور کړ. بل خوا انګرېزانو او د هغوی جاسوسانو د ده پر خلاف پروپاګنډه خپره کړه، چې له هغه ډاکو جوړ شوی دی، په دولتي سیمو کې پر بې‌ګناه او عامو خلکو باندې ډاکې اچوي، قتلوي یې او مالونه یې لوټي. بس له دې وروسته به چې د ښار په هره سیمه کې چېرته غلا وشوه یا به عام خلک لوټ او قتل شول؛ نو حکومتي مسوولینو او پولیسو به تور پر شهباز خان ولګاوه. حکومت په شعوري توګه دا کار د دې له‌پاره کاوه، چې شهباز خان ټولو عامو خلکو او کلیوالو ته اُجرتي قاتل او ډاکو معرفي کړي، داسې آوازې به یې پسې خپرولې چې شهباز په فلاني ځای کې له ډاکوانو سره ولیدل شو، د فلاني سړي پر قتل یې دومره پیسې اخیستې دي، نور به حکومت خپله د خپلو جاسوسانو په لاس ځینې پېښې کولې او  تور به یې پر شهباز ولګاوه، چې هغه د شپې په تورتم کې راغی، دا کار یې وکړ او بېرته وتښتېد. آن تر دې حده پورې، چې حکومت د سردارانو، ملکانو او ملایانو له ادرسه هم په قبایلي سیمو کې دا خبره عامه کړه، چې شهباز خان یو اُجرتي قاتل او ډاکو دی. کومو خلکو چې هغه پېژانده او له مبارزې یې خبر وو، د دښمن پر دې تبلیغاتو او بې‌ځایه آوازو یې باور نه کاوه؛ خو د وخت په تېرېده سره د انګرېزانو اثرات په ډېرېدو وو، عام خلک ترې متاثره کېدل. په ځانګړي ډول هغه نوي ځوانان، چې د انګرېزانو له توطیو ناخبره او د شهباز خان غوندې غازیان یې سم نه پېژندل، نو داسې خلک ترې ډېر ژر متاثره کېدل.

د وخت په تېرېدو سره پر ټوله سیمه باندې د انګرېزانو حاکمیت په ټېنګېدو و او د قبایلي غازیانو په جنګي او عملي حکمت کې بدلون راغی، دوی نور له انګرېزانو سره مخامخ جنګ نه کاوه، بلکې د هغوی پر کمپونو، ټولیو او کارخانو باندې یې چاپې وهلې او د انګرېزانو تاسیسات به یې وجاړول. دا کار به یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت کاوه، چې ښه موقع به په لاس ورغله؛ نو له دې سره د شهباز خان ډېر وخت هسې عبث تېرېده، هغه فکر وکړ چې وخت مې ولې هسې ضایع شي.

په ماشومتوب کې هغه د خپل جومات له امامه لومړنی لیک لوست او قرآن شریف زده کړی و او هغه ډېر ذهین و او په هماغه وخت کې به یې د سهار له لمانځه وروسته په خوږ او لوړ آواز تلاوت کاوه؛ نو په دې قبایلي سیمه کې په دغه وزګار وخت کې هغه ته خپل دغه پخوانی وخت ور یاد شو. د کوم ملک په سیمه کې چې اوسېده، لومړی یې د هغه بچو ته لیک لوست پیل کړ، وروسته ورته د کلي ماشومان هم راتلل. د دې تر څنګ یې له غازي ملا سره هم اړیکې جوړې کړې، نوموړی د دیني زده‌کړو لەپاره ډېلي او حیدرآباد ته هم تللی و، نور دیني کتابونه یې هم لوستي وو او لږ ډېر یې طبابت هم زده کړی و، وطن پرست هم و او په خپله خوښه به یې جهاد کې برخه هم اخیسته. شهباز خان ته له هر پلوه یو ښه ملګری کېدای شو؛ نو ده هم د دغه غازي ملا له فیوضاتو ګټه واخیسته، له هغه سره یې خپلو علمي زده‌کړو ته دوام ورکړ او طبابت یې هم ترې زده کړ. دواړو سره لاس یو کړ، د کلي او سیمې له هم‌فکره مولیانو او ملکانو سره یې یوه جرګه جوړه کړه، د خلکو تر منځ یې د تربګنۍ ختمولو، سولې راوستلو او یووالي رامنځ ته کېدو ته د خیر کارونه هم کول. په دې ډول یې په قبایلو کې اصلاحي کارونه کول، چې هم‌فکره ملګري پیدا او خپله کړۍ پراخه کړي. په دې کې د هغه اصلي موخه د انګرېزانو پر خلاف مبارزې او جهاد ته د خلکو هڅول او چمتو کول وو.

شهباز په کم وخت کې ډېر کار وکړ، دلیل یې دا و، چې هغه اوس استاد هم و، طبیب هم، مصلح او غازي هم. د هغه خبره اورېدل او منل کېده، په کوم مجلس او جرګه کې چې به هغه ناست و، د خلکو د توجو مرکز به هم دی و. د هغه نفوذ او اغېز چې څومره پراخېده، هومره د هغه د جهاد جذبه راپارېده، بس

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې موقع برابره شوه، د نوو ځوانانو ډلې به يې د انګرېزانو پر قرارګاوو او کاروانونو باندې حملو کولو ته لېږل، هغوی به له يوې قرارګاه تر بلې قرارګاه پورې غځېدلی ټيلفوني سيستم خراب کړ، لاينونه او ارتباطي توکي به يې ويجاړ کړل، سيمونه به يې را ټول کړل او له ځان سره به يې راوړل، بيا به يې ترې د مرمۍ او بمونو په جوړولو کې کار اخيسته. په دې وخت کې د کوم ملک په سيمه کې چې شهباز خان اوسېده، هغه غوښتل چې د حکومت له هغه سياسي استازي سره اړيکه جوړه کړي، چا چې ده ته خبر لېږلی و چې له تا سره مفرور شهباز ناست او هغه د ډېرو بې ګناه خلکو قاتل او دښمن دی؛ نو ته يا هغه ونيسه او له لوی ملک څخه خپل امتياز واخله يا يې له خپلې سيمې وشړه. د ملک لومړی شرط خوښ نه شو، په هغه کې د ده بدنامي وه؛ خو دويم شرط منلو ته تيار شو او له شهباز خان سره يې چلند بدل کړ. شهباز خان د هغه د چلند او رويې پر بدلون پوه شو؛ نو له غازي ملا سره يې مشوره وکړه، چې زه بايد نور دا کلی پرېږدم. ملا په نورو قبيلو کې له خپلو اشنايانو سره د هغه په اړه خبرې وکړې، د شاوخوا کلو ملکان چې کله د شهباز له ارادې خبر شول، نو ټولو هغه ته بلنه ورکړه. شهباز خان په هر لحاظ دوی ټولو ته ګټور و، نو ملا ته دا پرېکړه سخته شوه، چې شهباز خان اوس خپل کوم ملګري ته ولېږي؛ بالآخره داسې پرېکړه يې وکړه چې هغه به له هر ملک سره لږ - لږ وخت پاتې کېږي او پاتې ژوند به په ټول قبايل کې نوبت په نوبت تېروي. د دې ګټه به دا وي، چې په ټول قبايل کې به خپله دنده تر سره کړي. پر دې پرېکړې دواړه ملګري ډېر خوشحاله شو او غازي ملا وويل: «خدا شری بر انګيزد که در آن خير ما باشد»، شهباز خان څو ورځې وروسته له دې کلي لاړ. نوي ژوند هغه ته ډېره ګټه ورسوله؛ د هغه په پوهه کې هم زياتوالی راغی، اړيکې يې هم پراخې شوې، په طبابت کې يې تجربه ډېره شوه، په هره قبيله کې يې ډېر شاګردان وروزل او ډېر مشهور هم شو؛ خو له دې ټولو سره -

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د هغه د ترور دسیسې هم زیاتې شوې او اوس خو به پرې شخصي او اخلاقي تورونه هم لګېدل. هغه په دې پوره ډاډمن و، چې دا ټول د انګرېزانو د سیاسي استازي کارونه دي، خو ده یې هېڅ پروا نه ساتله او په خپلو چارو بوخت و. په داسې حال کې چې له یوه کلي نه بل کلي ته د تګ پر مهال څو ځلې پر هغه باندې د نامعلومو کسانو لهخوا ډزې وشوې، زخمي به هم شو، خو بس خدای به ساته.

شهباز خان د خپل قوم خدمتګار او غازي و، خو د انګرېزانو د دسیسو له مخې خلکو ته مفرور او ډاکو پېژندل شوی و. په قبایلي او وطن دوستو کړیو کې هغه ډېر د درناوي وړ و؛ خو دولتي او ښاري ګټو خوښوونکو خلکو ته یو مجرم و. د وخت په تېرېدو سره حالات بدل شو، خو نه د زرمینې په آزاد طبیعت او مزاج کې توپیر راغی او نه د شهباز خان په سرزورۍ او یاغي فکر کې. زرمینه اوس د دوه زامنو او یوې لور مور وه، له خپلو اولادونو سره یې ډېره مینه کوله، خدای ورته هر څه ورکړي وو، په ښار کې یې ښه ارامه ژوند تېرېده؛ خو نه کور، نه مال و دولت او نه خوشحاله ژوند د هغې د زړه غوټې پرانیستی شوې، هغې به هره ورځ داسې حرکتونه او خبرې احساسولې، چې دا ولې داسې دي او ولې داسې نه دي، ډول - ډول شکونه، وهمونه او فکرونه به یې زړه ته ورلوېدل، د شنه آسمان لاندې هاخوا دېخوا آزادو ګرځېدونکو وریځو ته به یې کتل، په خیالونو کې به ورکه شوه، ډېر وخت به یې مېږیو ته کتل، د هغو ننداري ته به ناسته وه، هغوی چې په خپله خوښه هر خوا منډې رامنډې وهلې، نو د دې پام به یې نور هم ځان ته کش کړ. دې ساده‌ګۍ ته دا په نظر ور تلل، چې طبیعي او غیرټولنیز مخلوق ځان ته خپله نړۍ لري، د خپل زړه مني او خپله آزادي لري؛ خو په دې یې فکر نه رسېده، چې هر شی او موجود له آزادۍ او خوښۍ لرلو سربېره بیا هم د فطرت په کارخانه کې د یوه قانون تابع دی. هغه یو څه له رواني پلوه له بې-شمېره خنډونو، فشارونو، جبر او تشدده زورېده، یعنې رواني ګډوډیو کې ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بده ګیر وه. په داسې حال کې چې کورنی ژوند یې بالکل ښه و، خاوند یې ورسره ډېره مینه کوله او په هر لحاظ به یې د هغې خیال ساته، په هېڅ خبره به یې نه خفه کوله؛ خو خاوند یې د هغې ښایست او د خپلې مینې شدت له امله پر دې راضي نه و، چې زرمینه دې له کوره ووځي یا دې چا کره لاړه شي. مراد به کوم ځای ته له تګه منع کوله یا نه، هغې خپله هم نه غوښتل چې له کوره بهر ووځي. وایي څومره چې مینه ډېرېږي، هومره شکونه هم زیاتېږي او بیا د زرمینې په څېر د ښایست ملوکه، چې د دېوال ځنګ ته به هم تېره شوه، نو که دېوال را ټیټېدی شوای، ورته را ټیټېده. هر وخت چې به له خپل خپلوانو کره مړي ژوندي ته لاړه؛ نو هر نر او ښځې به کوښښ کاوه، چې له هغې سره نږدې کېني او خبرې ورسره وکړي، نو د داسې ښځې خاوند ته د خپلې ښځې په اړه ډېر فکر کول او له احتیاطه کار اخیستل یوه رواني مسئله ده، چې دا مراد هم نه غوښتل، خو بل پلو د زرمینې د آزاد طبیعت خپلې غوښتنې وې، هغې د خپل خاوند ډېر خیال ساته، خو په زړه کې له دې احتیاطه ډېره تنګه وه، له ډېرې حیا یې د زړه خبرې په ژبه نه راوړلې او د ګډ ژوند د نزاکت خیال ورسره و؛ خو د هغې د نفس غوښتنو مطابق دا هر څه پر هغې پابندي وه، مداخلت او جبر و، چې هغې زغمل؛ خو د هغې غبرګون هم د هغې په وس او کنټرول کې نه و او دا ورځ لرې نه وه، بالآخره په دې خوشحاله کورنۍ کې د دوو طبیعتونو د نفس غوښتنو تر منځ د کشمکش اور په لګېدو شو، چې ورځ تر بلې یې مړه - مړه لوګي را پورته کېدل او دواړه ښځه او خاوند دې ته مجبور شول، چې پر یو بل باندې جدي نظر وساتي.

زرمینه ناڅاپه ناروغه شوه، ډاکټر یې ورته راوغوښت، ډاکټر وویل چې د پختورګي (ګردې) تکلیف یې دی، باید ژر یې روغتون ته یوسو. هلته ډاکټرانو د عملیات مشوره ورکړه، عملیات یې کامیاب شو، خو کله یې چې له عملیات خونې څخه راوویسته او تر هغې چې په هوښ راتله، مراد یې د چپرکټ سر ته ولاړ و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرمينې په بې‌هوښۍ کې داسې خبرې کولې چې مراد يې نور هم حيران او متوجه کړ. هغې ويل: «هغه سپی، هغه شېر، هغه مار، هغه غنه او ...، دا ټول پر ما ولې حمله کوي، ولې ما نه‌خوري، ولې ما نه‌وهي، ولې ما نه پرېږدي، ما ووهئ، ما ووژنئ، ما پرېږدئ چې وتښتم...، زه انسانه يم؟ بندي يم؟ مرغۍ يم؟ هغه حمله کوي، قتل، قتل» او له دې خبرو سره به په ژړا شوه. مراد لوستی ځوان و، د ښځې په اړه له حده ډېر محتاط و او د هغې ټولو کړو وړو ته يې ډېر پام و. هغه دې خبرو، چې د زرمينې د تحت الشعور علامې وې، په فکرونو او شکونو کې ډوب کړ. څه وخت وروسته، يوه ورځ هغې له سهار لمانځه وروسته دعا کوله؛ نو د عادت خلاف په دغه سهار مراد هم را وېښ شو، هغه غوښتل، پوه شي چې ښځه يې چېرته ده او څه کوي؟ چې ويې ليده، هغه پر مصلې ناسته، دعا کوي، خدای ته اوښکې تويوي او په ژړغوني غږ غلې- غلې غږېږي. مراد د دروازې شا ته ورته غوږ شو، خو په څه پوه نه‌شو، يوازې دومره يې واورېدل چې «خدايه!... خوښه.... مرگ...» په دې کلمو اورېدو سره مراد خورا ډېر خفه او غوسه شو؛ خو له څه ويلو پرته بېرته خپلې کوټې ته راغی، په تخت کې پرېوت او په فکرونو سر شو. «خدايه!... خوښه.... مرگ...» او بيا په روغتون کې په بې‌هوښۍ کې د زرمينې له خولې راوتلو کلمو په وريادېدو، مراد شېبه پر شېبه لا پسې حيرانتيا ته بوته، غوسه او خپگان يې هم ډېرېده، زړه يې غوښتل چې همدا اوس ورشي او پوښتنه ترې وکړي، چې دا څه کيسه ده؟ خو بېرته يې فکر وکړ، چې په بيړه کې يو کار کول به بدې پايلې ولري. بيا يې پرېکړه وکړه، چې څو ورځې به نور هم صبر وکړم او هغه به وڅارم. له دې وروسته مراد د زرمينې هرې خبرې او حرکت ته ډېر په غور، بلکې د شک په سترگه کتل. زرمينې د مراد بدلون

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس کړ او هغه هم د مراد په اړه شکونو او اندېښنو کې ډوبه شوه. ښکاره خبره ده چې د هغوی پر ګډ ژوند به دې وضعیت هرومرو اغېز کاوه، چې بالآخره د دوی په اړیکه کې د درز را منځ ته کېدو لامل شو.

بله شپه چې کله زرمینې بچي ویده کړل، مراد هغه کېنوله او پوښتنه یې ترې وکړه، چې دا څه کیسه ده او دا هر څه، څه روان دي؟ په دې پوښتنه هغه غوسه شوه او په تونده لهجه یې ځواب ورکړ: زه پوهېږم چې ته پر ما شک کوې، که دا خبره وي، نو ته دویم واده وکړه او زه به پلار کره لاړه شم. په دې ډول د ښځې او خاوند تر منځ تاویلې ماویلې ته خبره ووته او د دواړو تر منځ خپګان وروستي حد ته ورسېد. له دې وروسته په یوه کور کې اوسېدل، خو د ښځې او خاوند په‌څېر نه.

د دوی د خپګان خبره په ښار کې خپلوانو او عزیزانو ته هم ورسېده او په کلي کې ترې خپل خپلوان هم خبر شول. ټولو داسې ګومان کاوه، پر زرمینې چې څوک مېَن و، دا د هغوی کار دی. د زرمینې مېَنان او غوښتونکي کم نه وو، د کوم یوه زړه به دومره اور اخیستی وي، چې په جادو کولو به یې زړه یخ کړی وي. د مراد کور او د زرمینې ژوند برباد شو. ځینو به ویل چې دا د چا بددعا ده، هېڅ زرمینه یا مراد په دې مسئله کې پر نه کړل؛ ځکه په دواړو کې هېڅ کمي یا خامي نه وه او د چا په فکر او ګومان کې هم نه راتله، چې داسې د مینې او محبت نه ډک کور دې وران شي. د دواړو میندو او پلرونو، خپلوانو، ملګرو او خواخوږو خپل پوره - پوره کوښښ وکړ، چې د دوی دواړو په ژوند کې بیا هماغسې مینه، یووالی او خوښي راشي، هر پیر، مرشد، جادوګر او پېري نیوونکي، نجومي او روانپوه ته ورغلل، مطلب چې هر چا به ورته هر چېرته څوک وښود، دوی پرېنښود، خو هېڅ ګټه یې و نه‌کړه. مور او پلار، کورنۍ مشرانو او د دواړو نږدې ملګرو او همزولو هغوی ته ډېر نصیحتونه وکړه، خو ځای یې ونه نیوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتا هېڅوک په دې هم پوه نه شول، چې د دوی د خپګان لامل څه دی؟ نو بالآخره د دواړو کورنیو مشرانو پرېکړه وکړه، چې زرمینه دې له خپل مور او پلار سره کلي ته لاړه شي؛ ځکه له دوی سره د دې عجیبې لاچارۍ بله لاره نه وه. مراد په ډېرې خوښۍ سره بچیان هم زرمینې سره پرېښودل.

مراد په خپل کور کې پاتې شو، خو اوس کور څه کور و، ټول په دوزخ بدل شوی و او هغه ورځ په ورځ کمزوری کېده. په دفتري کارونو کې هم بې‌کفایت شو او په عام ژوند کې هم کړومن شو. اوس یې څه ژوند و، یوازې ساه اخیستل وو، خوره، څښنه او دفتر ته هسې ځه او راځه، نور هر څه له منځه لاړه. تر دې چې هغه شیک او اوتو کړی لباس اغوستونکی مراد اوس یوازې پر دې بسنه کوله، چې یوازې یې بدن پټ وي، نور که یې لباس هر ډول و، پروا یې نه وه. بله خوا په کلي کې د زرمینې ژوند د زړه سوي و، مور او پلار یې هم ډېر احتیاط ورسره کاوه، اوس د پخوا په شان له کوره بهر د تګ راتګ او ګرځېدو آزادي نه وه، یوازې له پخواني یادونو سره یې ژوند تېراوه، چې په دې وخت کې یې د زرمینې پر مزاج ډېر بد اغېز کاوه. د زرمینې نرۍ هم اوس بېخي بدله شوې وه، چې هر خوا به یې کتل، یوازې ناهیلي وه، که چېرته به لاړه هم، نو په فکرونو او چرتونو کې به غرقه وه، خو په دې حالت کې ورته بچیان د خدای لوی نعمت او رحمت وو، هر وخت به له هغوی سره مشغوله وه، هغوی پورې به یې داسې زړه تړلی و، لکه ماشومانو چې د لوبو شیانو پورې تړلی وي. بچیانو به یې هم هر وخت د هغې پام په بله اړاوه او خپله مور به یې بوخته ساتله، تا به ویل خدای هغوی همدې کار ته پیدا کړي دي، چې د مور پام او فکر خپل لور ته بوخت وساتي او د هغې د ژوند ترخه ګوټونه او رواني ګډوډې د هغې پر زړه او ذهن منفي اغېز و نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زرمینې ناروغي ډېره شوه، د مور او پلار يې ورته اندېښنه شوه، چې څه پرې و نه شي. د تصاف له مخې شهباز خان په دې ورځو کې د دوی په دره کې و، هغه په دې ټوله دره کې یوازینی ډاکټر و او د هغه په اړه مشهوره وه، چې د هر ډول ناروغۍ درملنه کولی شي. د اوو اولیاوو دعا او د زرګونو غازيانو خدمت په بدله کې خدای د هغه په لاس کې د شِفا برکت اېښی و.

د زرمینې پلار دغه حکیم (شهباز خان) راوسته، زرمینه چې پوه شوه، چې شهباز خان ورته درملنې لهپاره راولي، نو له ناروغۍ ډېر پرې د غوسې او کرکې جذبات غالب شول؛ ځکه په ښار کې د دوی سیمه د دولت تر کنټرول لاندې وه، هلته شهباز په ډاکو، غل، قاتل او ظالم مشهور و، د هغه په اړه د ظلم او زیاتي تبلغاتي کیسې زرمینې په ښار کې له خپلې یوې ګاونډۍ ښځې، چې مېړه یې د سیاسي استازي په دفتر کې منشي و، ډېرې اورېدلې وې. حکیم د زرمینې پلار سره د هغې خونې ته ورننووت، مخکې له دې چې حکیم د هغې کټ ته نږدې شي، زرمینې ټول ځان په روجایي کې تاو او مخ یې هم پټ کړ، چې نه دا هغه خونخوره ډاکو په خپلو سترګو ووینې او نه جابر شهباز له دې سره سترګو په سترګو شي.

شهبازخان له کټ سره نږدې ودرېد، د زرمینې پلار ته یې وویل، چې دې ته ووایه، لاس را ښکاره کړي، چې نبض یې وګورم. پلار یې زرمینې ته وویل: لورې! حکیم صیب راغلی، پربږده چې نبض دې وګوري. نبض ښودل خو پرېږده، چې هغې لاس هم په روجایي کې ترې پټ کړ. پلار یې بیا ورته وویل: لورې! حکیم صیب تا ته ولاړ دی، هغه ستا د پلار پر ځای دی، خلک پر حکیم باندې د نبض، ژبې او سترګو معاینې کوي، دا څه بده خبره نهده، شاباس لورې! لاس را ښکاره کړه. زرمینې بیا داسې حرکت وکړ، چې له هغې داسې معلومېده، چې نه غواړي پر حکیم معاینه وکړي. له دې سره یې پلار په غوسه شو، ورته یې وویل: ای

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې‌عقلې معاینه کوې که نه؟ په زوره یې در باندې وکړو...، دې خبرې سره حکیم د هغه پر خوله لاس کېښود او ورته ویې ویل: ګوره وروره! غوسې ته اړتیا نه‌شته، غوسه ښه نه‌ده، له زور او جبره کار اخیستل ښه نه وي، تاسو په دې نه پوهېږئ، انسان د خپلې خوښې خاوند دی، هغه په خپله خوښه په دوزخ کې هم خوشحاله وي او چې خوښه یې نه وي، نو په جنت کې یې هم زړه نه لګي. په خپله خوښه آزاد ژوند کولو له امله انسان، انسان دی، که نه د غلامانو په‌څېر د نورو په خوښه ژوند کولو نه مرګ غوره دی. دا نجلۍ خپلې خوښې ته پرېږده، چې د دې خوښه نه‌وي، نو نبض ته یې لاس نه ور وړم. زرمینې چې د خپلې خوښې، د انسان د خوښې او آزادۍ خبرې واورېدې؛ نو له روجایۍ دننه په حرکت راغله، له دې مخکې د مړي په‌څېر غلې پرته وه. پلار یې چې د حکیم خبرې واورېدې، ویې ویل: حکیم صیب! له ناروغ سره څه وکړو؟ دا خو له روجایي لاس نه را ښکاره کوي. حکیم ځواب ورکړ: وروره! د هغې خوښه نه ده چې نبض یې ولیدل شي، نو زه په زور او جبر نبض لیدل څه چې، دلته وردرېدل هم د خپلو اصولو خلاف ګڼم، زه درنه لاړم، چې کله دې لور راضي شوه بیا ما راوغواړه، خو پام چې په زور، جبر او د هغې د خوښې خلاف هېڅ هم و نه‌کړې، که داسې دې وکړل، بیا زه نه راځم. له دې سره حکیم له کوره ووت.

د شهباز خان د خبرو په اورېدو سره زرمینه حیرانه شوه، چې دی خو د انسان خوښې او آزادۍ ته په ډېر اهمیت قایل دی، د خپلو اصولو خبره یې وکړه، پلار ته یې وویل، چې د دې د خوښې خلاف هېڅ ونه‌کړې. دا څوک و؟ ظالم، جابر او ډاکو شهباز، که د رحمت او د مینې او محبت پرښته؟ د هغه هره خبره د زرمینې د زړه آواز و، هغه خو داسې خبرې وکړې، چې همدا د زرمینې د ژوند اصلي نسخه وه، د هغه ټولې خبرې د زرمینې پر زړه رسم شوې او د شهباز له تګ وروسته زرمینې د هغه پر خبرو سوچونه کول، خوند یې ترې اخیسته، په ژوند کې په لومړي ځل هغې د خپل مزاج، طبیعت او نفس مطابق خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واورېدې، ته وا هغې ته په خپل برباد ژوند کې په لومړي ځل د نوي ژوند هيلې راټوکېدلې وي. هغې ته د خپل رواني کړاوونو په تيارو کې د زړه رڼا او ذهني سکون څرک ښکاره شو، ټوله شپه يې په همدې سوچ او ياد کې تېره کړه، هغې يوازې پر دې افسوس کاوه چې شهباز ولې دومره ژر لاړه، ولې يې ډېرې خبرې و نه کړې او ما ترې ولې ډېرې پوښتنې و نه کړې.

سهار وختي راپاڅېده، درې ورځې وروسته يې يو ګيلاس شودې وڅښلې، په کټ کې له مسلسل بې‌حسه پرېوتو وروسته پر دغه سهار وخته را کېناسته، بچيان يې ځان ته نږدې کړل، ټينګ يې غېږه کې ونيول، مينه يې ورکړه او...!

په کور کې يې خبرې ګډې شوې، چې د زرمينې په ناروغۍ کې يو څه فرق راغلی، اوس به د حکيم شهباز راغوښتل ښه وي، له هغه سره د اوو اولياوو کرامات دي او د زرګونو شهيدانو د خدمت اثرات، که دې لېونۍ په هماغه لومړۍ ورځ معاينه کړې وای، نو اوس به رکه روغه وه او بې‌غمه به يې د کور کارونه کول.

بل خوا زرمينه په دې سوچونو کې غرقه وه، چې شهباز رښتيا همداسې دی؟ هغه به څه وخت راځي چې ډېرې خبرې يې واورم؟ هغه خو ويلي وو، چې کله نجلۍ راضي شوه، بيا ما راوغواړئ، زه راځم؛ نو ولې يې نه راغواړم. زرمينې څو ځل زړه وکړ چې هغه را وغواړي، خو بېرته به غلې شوه، آخر يې تجسس، رواني فشار او د زړه بې‌قرارۍ هغې ته ژبه ورکړه او مور ته يې وويل، چې ما ته حکيم را وغواړئ. پلار يې خبره واورېده، چې هغه په خپله خوښه حکيم راغواړي؛ نو له ډېرې خوشحالۍ نه يې په منډه - منډه حکيم ته ځان ورساوه او ورته ويې ويل، چې ناروغې په خپله خوښه ته غوښتی يې. شهباز له دې خبرې اورېدو سره روان شو، څنګه چې کور ته را ورسېده، ويې ليدل چې ناروغې دوو بالښتونو ته تکيه وهلې ناسته ده او دواړه سترګې يې په دروازه کې داسې خښې کړي، لکه د چا انتظار ته چې بې‌قراره ناسته وي. شهباز نږدې ورغی او زرمينې ته چې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتل، هغې ورته وویل: حکیم صیب السلام علیکم... له شرمه یې سترګې پورته کړې، ښي لاس یې پر تندي کېښود، له حیا نه یې د درناوي په دود سر جګ کړ، حکیم ته یې ښه راغلاست وویل. بل خوا څنګه چې د عمر خوړلي شهباز سترګې د زرمینې پر مخ ولګېدې، نو داسې احساس یې وکړ، ته وا یوې زوروري بریښنا داسې قوي شارټ ورکړی وي، چې زاړه هډوکي، د غم ځپلي بدن رګونه، پوستکی، زبېښلی زړه او ګرم دماغ هر څه یې سره لولپه کړل. هغه احساس کاوه چې آسماني تندر پرې راپرېوتی او هغه پرې هېڅ پوه نه‌شو. د کور خلکو ور کتل، چې حکیم صیب له کټ څخه په دوه قدمې کې غلی ولاړ دی، ځمکې ته ځیر - ځیر ګوري، ښي لاس یې په سپنه ږیره، چې یو - یو تور وېښته هم په‌کې ښکارېده، واهه او د کینې پښې زوړ بوټ ښوکې یې پر ځمکې کږې وږې لیکې جوړولې، نور بت غوندې غلی ولاړ و. د کور خلکو فکر وکړ، چې ګوندې پر ناروغ باندې دم چوفولو په موخه به په زړه کې څه وایي. زرمینې غلي - غلي د هغه په لور کتل، د هغې د سر کوړۍ - کوړۍ اوږده ویښتان او د پاسه یې ځادر، د یوې ښکلې لونګۍ ښه جوړه کړې وه، ساده ښکلې جامې یې اغوستې وې، ډاکو شهباز د حکیم په جامه کې د هغې مخ ته حیران ولاړ و، له ټولې سادګۍ، زړښت او بې‌سلیقه شخصیت سره یې بزرګي او جلال هم ملګري وو او په ګڼه ببره ږیره کې یې لږ - لږ د رخسار ځلا او زړه راښکون هم په نظر راته. داسې معلومېده چې څوک ورته ښه متوجه دي او ځان ته یې راکش کوي. زرمینه له هغه ډېره متاثره شوه او په دې تمه وه چې هغه به اوس یو څه وایي، اوس به یې وایي، چې د هغې په درون کې پر لګېدلي اور به د اوبو په‌څېر کار کوي، خو شهباز غلی ولاړ و، نه یې ژبه خوځېده، نه یې سترګې پورته کولې، چې چا ته وګوري. څو شېبې خو هغه هېڅ په دې نه پوهېده، چې هغه څوک دی او چېرته دی؟ د زرمینې حسن او جمال د هغه تصورات او تخیلات داسې کلک نیولی وو، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه او دماغ یې بالکل کار پرېښی و او لکه د کالبوت پهڅېر ګونګ ولاړ و، خو حافظې یې ډېر ژر ټکان وخوړ او یو تېر یاد ته یې ستون کړ.

ناڅاپه د هغه د ذهن پر پردو د هغو پخوانو سترګو جادو را خور شو، چې غازیانو ته د اوبو وړلو پر مهال هغه د خپل کلي د یوې غرنۍ چینې سره د یوې پېغلې پر مخ لیدلې وې، د هغې لیدو یې هر څه هېر کړي وو او غوښتل یې چې همدې چینې سره دېره شي، چې هره ورځ دا نجلۍ اوبو پسې راځي، د هغې د سترګو په لیدو سره به مست او تازه وي. غوښتل یې ټول عمر همدې چینې سره تېر کړي او د هغې یاد تازه ساتلو لهپاره همدلته ځان ته قبر هم جوړ کړي، خو پښتو او غیرت دې ته اړ کړ، چې د آهو چشمه نجلۍ او د هغې له خمارو سترګو بېزاره شي او د وطن د دښمن خلاف جهاد کولو ته ژوند وقف کړي. د نجلۍ له مینې نه د وطن مینه په زرهاوو وارې غوره او خوږه ده؛ نو نجلۍ یې له همدې چینې سره پرېښوده او هېره یې کړه، خو چې کله به هم یارانو د چا د سترګو ستاینه کوله، نو د شهباز پر زړه به د همدې چینې د هغې پېغلې د سترګو یاد را وورېد. شهباز ته د حسن معیار او د ذوق محور  تل هماغه سترګې وې، نن یې چې د زرمینې سترګې ولیدې، نو بیا هم ټینګ نهشو، ولاړ له زرمینې سره و، خو غرق د هغې پخوانۍ نجلۍ د سترګو په حسن کې و.

د شهباز د زړه پر هسک باندې د یوې بلې ښکلې نجلۍ وړانګې هم را خورې شوې، دا نجلۍ هغه یو سهار د خپل کلي نه وړاندې له غره لمن سره د شرشمو په پټي کې د زیړو ګلانو ټولولو او وښو رېبلو پر مهال لیدلې وه، چې د هغې اوږدې - اوږدې زلفې د تورو ښامارانو پهڅېر په هوا کې خورې ورې الوتلې او د پسرلي د تورو ورېځو غوندې په آزاده فضا کې په مستۍ وې. شهباز له خپل لښکر او سنګره ډېر تېز د خپل کلي په لور روان و، چې خپل غازي پلار او ملګرو ته له کوره مرمۍ او باروت یوسي، دا مرمۍ او باروت به د شپې د هغه مور او خور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته چمتو کولې، چې هغوی راتلونکې شپې ته د مرمۍ او باروتو له کمښت سره مخ نه‌شي. نجلۍ چې هغه ولید، نو خپلو ملګرو سره یې په لوړ غږ خبرې پیل کړې، چې د شهباز پام ځان ته واړوي. شهباز چې له لرې ور وکتل، نو په هوا کې د هغې خورو ورو اوږدو - اوږدو زلفو د هغه پر زړه تور جادو پوف کړ. هلک دوو کې هک حیران شو، یو خوا له ختیځه لمر سر را پورته کاوه او لومړي ځرک یې انسانانو ته ګرمه نرمه د بیدارۍ سندره زمزمه کوله. بل خوا د شرشمو له سره پټې نه د شهباز په ننداره کې د یوې پېغلې د نظر وړانګو د هغه د زړه دنیا ګډه وډه کړې وه او دی یې د مینې په سمندر کې ډوباوه. پټې ته په نږدې کېدو سره د هغه په رفتار کې سستي راغله، د زړه ټکان یې زیات شو، ده غوښتل چې همدلته کرار کېني او تر وروستي دمه همدلته بې‌غمه ناست وي. هر سهار لمر ختو سره سم، چې کله د ژوند کولو په موخه قدم اخلي، نو ورسره سم یې په زړه کې د هغې د حسن شغلې غځونې وکړي، ژوند یې د مینې او محبت په مستو شېبو وګرځي او کله یې چې د مرګ رسۍ غاړې ته را رسي؛ نو د دې حسندارې د زلفو په تخت کې پوست موست په خندا ویده شي، خو ناځاپه له خوابه پورته شو، د غیرت وینه یې په جوش راغله، د هغه پر وطن باندې د پردو یرغل د هغه د حب الوطنۍ احساسات راوپارول او د نجلۍ د مینې په دام کې ګیرېدو پر ځای یې د شاهین په‌څېر د آسمان لوړو ته الوت وکړ او د دښمن سترګو ړندولو ته بېتابه شو. چټک قدمونه یې واخیستل، چې ژر مرمۍ، باروت او مهمات راوړي او پر جهاد بوخت شي. د نجلۍ او هغې د زلفو په زړه وړونکي دام کې ګېر نه‌شي، که څه هم هغه له هر قدم سره یو ځل شا ته د شرشمو په پټې کې ولاړې نجلۍ ته کتل، حتا دومره لرې لاړ، چې د نجلۍ له نظره پناه شو، خو د زړه په زخمونو کې یې تل هماغسې ژوندۍ منسجمه او حک شوې ولاړه وه او اوږدو - اوږدو زلفو یې د باد په زور اتڼونه کول. نن یې چې د زرمینې پر اوږو د هغې اوږده ویښتان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیدل، چې تر زنګنو یې رسېدلي وو، شهباز ته یې هغه نجلۍ او د هغې وېښتان ور یاد کړل، خو ولاړ له زرمینې سره و.

هغه د بت په‌څېر ولاړ و، خو بت نه و، د حساس زړه خاوند و، په ځوانۍ کې د هغه پر زړه باندې د زرمینې په‌څېر د ډېرو ښکلو پېغلو د نقشو او یادونو ژور ټپونه ولاړ وو. پر دې ناروغې نجلۍ چې یې لومړی نظر ولګېد، نو د هغې ښکلې ځوانۍ یې په زړه او ذهن کې لړزه او اضطراب پیدا کړ او د هغه د حافظې په سمندر کې چې څومره مرغلرې پټې وې، هغه ټولې رامخ ته کېدې، د دې ټولو هغو جلا - جلا خد و خال، چې د ده زړه یې نیولی و، هغه ټول په زرمینې کې را ټول شوي وو، یعنې زرمینه د هغې ګلدستې په‌څېر وه، چې په هغې کې ټول رنګارنګ ګلان په ډېر مهارت سره را غونډ شوي وي. هغه داسې زرمینه په نړۍ کې بې‌مثاله بلله او د هغې په یادونو کې ټول عمر غرق پاتې شو. هغه ته به چې هر کله د سنګلاخ غره په لمن کې پر یوې تیږې باندې سر ایښودو موقع برابرېده یا به کله له ډېرې بې‌خوبۍ نه د جهاد په مورچل کې پر ځمکه پرېوت، نو یو - یو یاد به پرې لکه باران راورېده. نن هغه دا ټول په یوه شخصیت کې یو ځای ولیدل، نو خدای خبر چې د هغه د زړه او ذهن کیفیت به څه و؟

هغه ته دا هم یاد وو، چې د یوه خان لور له خپلې سینې د وینې څاڅکی را وویسته، پر یوه دستمال یې وواهه او ده ته یې د مینې ثبوت او نښې په توګه ورکړ او د یوه بل ملک لور د هغه په مینه کې زهر خوړلي وو او داسې نورې ډېرې کیسې او پېښې...، خو له دې ټولو پېښو او کیسو نه هغه ځان په لاچارۍ خلاص کړ او ځان یې غیرت او حب الوطنۍ ته حواله کړ. نن د زرمینې په څنګ کې ولاړ دا ټول حالات او پېښې په ټولیز ډول احساسوي او د دوی ټولو جادو د زرمینې په صورت کې پر هغه باندې ناست دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه نور زوړ شوی و، د بدن غړي يې ټول کاړه واړه وو، نظر يې کمزوری شوی و، په رګونو او بدن کې يې کمزوري پيدا شوې او د ژوند په داسې مرحله کې دی، چې د ژوند له ميدانه د مرګ غار په لور روان دی. د هغه زړه، احساس، عاطفې، جمال او د حسن ذوق عمري را ټوله شوې خزانه وه او بيا دې هغه د زرمينې غوندې له ځلېدونکي شخصيته متاثر نه‌شي. په شهباز کې دا مجال نه و، که هغه تيره هم وای، نو د شمع غوندې به ويلې شوی و.

د زرمينې مور او پلار د هغه داسې غلي ودرېدل، حکمت يا د جادو او منتر اغېز باله. دوی فکر وکړ، چې حکيم صيب به ستړی شوی وي، نو بل کټ يې را کش کړ او هغه ته يې د ناستې وويل، خو هغه په نرم، غلي او تفکرانه دروند آواز سره وويل: «مداخله مه کوئ، ما تاسو ته نه وو ويلي، چې په خپله خوښه دوزخ ته تګ هم په خوشحالۍ وي.» د دې خبرې ويلو پر مهال يې هم نظر له زرمينې وانه‌وښت. زرمينه په کټ کې دېوال ته تکيه وهلې ناسته وه، دا ټوله ننداره يې په ځير - ځير مطالعه کوله او معلومه نه وه، چې ولې شېبه په شېبه د حکيم صيب په شخصيت کې د هغې دلچسپي زياتېده. کله چې حکيم په عجيبه انداز کې بيا وويل: «مداخله مه کوئ، په خپله خوښه دوزخ ته تګ هم خوشحالي وي.» نو د هغې مخ تک سور واوښت او د حکيم دې خبرې د هغې رواني حالت ته د ګلاب په‌څېر تازه‌ګي ورکړه.

يو څو شېبې وروسته شهباز خان بېرته غلی روان شو، د تګ پر مهال يې سترګې داسې ټيټې اچولې وې، ته وا زرمينې ته په جګو سترګو د بيا ليدو جرأت په‌کې نه‌وي يا هغه په خپل زړه کې له تصورونو څخه وزګار نه‌وي. په هر حال د تګ پر مهال يې يوازې دومره وويل: «لورې! سبا همدا وخت راځم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرمینه په کټ کې په سوچونو کې ډوبه ناسته وه، دا چې حکیم او د هغه شخصیت د زرمینې زړه ته څومره لاره کړې وه، ویل یې اسانه نه دي، یوازې دومره ویلی شو، که څه جادو و، نو هغه په رښتینې معنا د هغه په خبرو کې و. زرمینه ټوله ورځ همداسې ناسته وه، له یوه اړخه به بل اړخ ته واوښته، سوچونه به یې کول او شپه به یې هم ټوله همداسې تېروله. دوه ګیلاسه شوده یې وڅښل، دوه درې ډوډۍ یې وخوړې، د مور او پلار پوښتنو ته به یې ځوابونه ورکول او بچیانو ته یې هم پام ور واوښت. مور او پلار یې خوشحاله شول، چې د حکیم جادو اغېز شروع کړ او حکیم صیب؟ هغه له دې ځایه نېغ جومات ته لاړ، اودس یې وکړ او د جومات په یو کونج کې یې د نفل لمونځ وکړ. بیا هملته کېناست، په فکرونو کې ډوب شو. د یو څه ژور فکر وروسته، ناڅاپه را پاڅېد، ته به وایې کوم ډېر اړین کار ور یاد شوی وي یا کوم ډېر نږدې او منلي شخص غوښتی وي، خو داسې څه نه وو. هغه یوې پرېکړې ته رسېدلی و، پر دې پرېکړه دومره خوښ و، چې ناڅاپه پورته شو، نېغ خپلې بسترې ته لاړ، آرام ویده شو او تر سهار آذان پورې په ژور خوب ویده و.

حکیم شهباز د حسن او مینې له جذبې سره د خپل ژوند، جهاد، د وطن خپلواکۍ او ملي، اسلامي او انساني فرایض ټول مسائل او د هغو پر مختلف اړخونو باندې له غور او فکر کولو وروسته پرېکړه وکړه، چې د یوه غازي په توګه به خپل سنګر په خپل فکري مزاج سره تود ساتي، د کوم فرض لهپاره چې هغه خپل ژوند وقف کړی دی، د هغه پوره کولو کې پوره اخلاص ښودل پکار دي او د زرمینې درملنې لهپاره جرأت، جدیت او له مینې سره - سره مسوولیت ته پاملرنه کول پکار دي، بلکې هغه اوس داسې احساس کاوه، چې د زرمینې ملاقات د هغه ژوند روښانه کړ، په هغه کې چې وخت او حالاتو کومه سستي او لټي پیدا کړې وه، د زرمینې لیدو او د هغې د ځوانۍ اعجاز په کې حرکت او په رنګ کې یې وینه پیدا کړه. له دې مخکې د هغه په یوازې او مصروف ژوند کې د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترې او له کړاوونو ډک ژوند د یادونو انځورونه وو، خو اوس د یو جسم تخیل و، د هغه د جمال ذوق او د حسن احساس معیاري جسم هم خپل کړی و، چې د دې په برکت هغه بیا په ډېر جوش او جذبې سره جهاد ته مخه کړه او اوس په‌کې د ځوانۍ له وخته ډېر جرأت او جذبه پرته وه، هر ډول قربانۍ ته تیار و، یوه داسې نشه پرې راغلې وه، چې د مبارزې ډېرو لوړو او سختو څوکو ته رسېدو له‌پاره به یې همت او ځواک ورکاوه.

له ژمنې سره سم هغه د زرمینې کور ته ورغی، هغه ورته په تمه ناسته وه، حکیم د هغې نبض ولید، ژبه یې ولیده، پر تندي یې ورته لاس کېښود، د حرارت اندازه یې معلومه کړه. په دې دوران کې د ده زړه د موم په‌څېر د حسن په وړانګو کې روان و، خو د ده د پرېکړو او ارادو فولادي عزم دا ټول کارونه داسې پټ ساتلي وو، چې هېچا هم احساس نه کاوه، چې د حکیم پر زړه څه تېرېږي.

حکیم ترې پوښتنه وکړه: لورې! څه تکلیف لرې؟ هغې ورته د خپل تکلیف وویل. بیا یې ترې پوښتنه وکړه: له څو ورځو نه دا تکلیف لرې؟ هغې وویل: نهه لس ورځې کېږي. حکیم ډاډګېرنه ورکړه: لورې! اندېښنه مه کوه، ان‌شاءالله هر څه به ښه شي. زرمینې مور او پلار ته مخ واړوه او ویې ویل: «هر څه؟» حکیم مسکی شو، ویې ویل: «هو لورې! هر څه»، زرمینه غلې شوه، د حکیم په اړه د هغې په معلوماتو کې د تضاد شدیدو غوښتنو او د هغه بوډا د زړه راښکونکې شخصیت ته په احترام او د شکونو د جذباتو ټکر زرمینه ویلو ته اړ کړه:

حکیم صیب! تاسو شهباز یئ؟

حکیم: هو!

زرمینه: ډاکو شهباز؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې خبره يې پلار په غوسه شو: غلې شه! بې‌ادبې، حکيم صيب دروند او محترم سړی دی، بې‌ادبي مه کوه. حکيم د نجلۍ پلار ته مخ واړوه او ورته يې وويل: ته غلی ودرېږه، ما تا ته نه وو ويلي، چې پر چا به قهر، جبر او زياتی نه کوې، د لور د زړه خبره وه، ويې کړه او هر څه چې پوښتي ودې پوښتي او بيا يې د زرمينې پر سر لاس تېر کړ، په مسکا يې ورته وويل: هو لورې! ډاکو شهباز يم. د زرمينې د نفرت په احساساتو کې زياتوالی راغی، ويې غوښتل چې خوله پټه کړي او نور له ډاکو سره سترګو په سترګو نه‌شي؛ خو بېرته يې چې د هغه رويې ته وکتل او بيا يې د «خوښې» کلمه واورېده، نو طاقت يې و نه شو او ويې ويل: شهباز بابا! ته بې‌ګناه خلک ولې وژنې؟ ولې غلا او ډاکې کوې؟ حکيم د هغې څنګ ته په کټ کې کېناست، د هغې لاس يې په خپل لاس کې ونيوه او ويې ويل: لورې! زه خلک نه وژنم، ما خپل ژوند د دوی خدمت ته وقف کړی دی، ما تر ننه پورې قتل څه چې د چا د زړه ازارولو له‌پاره يوه ترخه خبره هم نه ده کړې، زه ظلم نه، مينه کوم، مسلمان څه چې له هندو او سک سره هم مينه کوم، ټولو ته د خير رسولو هڅه کوم او زه څوک نه لوټم، غلا او ډاکه خو پر ځای پرېږده، ما تر ننه د چا له اجازې پرته د هغه له ونې يوه بېره هم نه ده خوړلې، بلکې زه خو غواړم، چې زما د ژوند په بدل کې که د انسانانو حقوق وساتل شي، نو زه به ډېر خوشبخته يم. زه ډاکو نه يم، د خپل قوم خادم يم، لوټمار نه يم، د عامو خلکو حق غواړم، ما ته انګرېزان او د هغو غلامان ډاکو او لوټمار وايي، هغوی غواړي چې زموږ وطن قبضه کړي، زه د قبضې او يرغل پر خلاف جنګېږم. پوې شوې لورې! د دې خبرو په اورېده سره زرمينه ډېره خوشحاله شوه، د ګل په‌څېر وغوړېده. له سترګو يې نور او له څېرې يې سرور ورېده او د وړو ماشومانو په‌څېر يې په نهايت سادګۍ او بې‌طرفه توګه وويل: شهباز خان بابا! خدای دې تا ته ډېر عمر درکړي. ښه! اوس راته دا ووايه، تاسو وايئ چې هر انسان د خپلې خوښې خاوند دی؟ حکيم بابا په ډېره مينه ځواب ورکړ: هو لورې! انسان د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښې خاوند دی، هغه آزاد پیدا شوی دی او آزاد به مري. هېڅوک حق نه‌لري، چې په زور د هغه خوښه او آزادي سلب کړي. دې ځواب زرمینه حیرانه کړه او بیا په فکر کې ډوبه شوه. په دې کې د ماښام آذان وشو، حکیم د تلو اجازه وغوښته، د تګ پر مهال یې د هغې پلار ته درمل وښودل او ورته یې وویل چې یوازې درې ورځې یې ورکړه، ان‌شاءالله روغه جوړه به شي. بیا یې زرمینې ته وویل: لورې! که څه تکلیف یا اړتیا وه، نو هر وخت ما غوښتی شې. اوس د خدای په امان! زرمینې دواړه لاسونه په تندي کېښودل، سلام یې وکړ، خدای دې تاسې ښه لري. مور او پلار یې داسې احساس کاوه، چې د لور په روغتیا کې یې ډېر ښه‌والی راغلی دی، خو دا نجلۍ سمه متفکره هم شوه، خدای دې خیر کړي. هو! هغه متفکره وه، خو نه یوازې ماښام، بلکې ټوله شپه خوب نه ورته، فکرونه او سوچه یې کول؛ ځکه د شهباز په اړه اوس ډېره ډاډه او خوشحاله وه، تر دې چې اوس یې هغه ته د پیر او مرشد درجه ورکوله، خو د حکیم خبرو د هغې په ذهن کې نورې پوښتنې پیدا کړې. په ځانګړې توګه، د هغې کورني ژوند په اړه د حکیم دې خبرې چې ویل یې، «انسان د خپلې خوښې خاوند دی، هغه آزاد پیدا شوی دی او آزاد به مري»؛ نو بیا مراد ولې پر ما شک کوي؟ ولې ما له خپلې خوښې منع کوي؟ زما د خوښې خلاف خپل خپلوانو کره په آزاد تک راتګ زما مخه ولې نیسي؟ او له همدې امله زما کور ولې وران شو؟ داسې نورې ډېرې خبرې...، که چیرې حکیم شهباز رښتیا وایي، نو دا څه معما ده؟

بله ورځ زرمینې مور ته وویل، چې حکیم صیب را وغواړئ، څو شېبې وروسته یې پلار حکیم راوست. زرمینې د پورته کېدو کوښښ سره حکیم ته په دواړو لاسونو سلام وکړ او ښه راغلاست یې ورته وویل. حکیم له دعا سره ځواب ورکړ او ورته ویې ویل: لورې! ښنګه یې؟ هغې ځواب ورکړ: حکیم صیب! د خدای فضل دی، ښه یم، خو یو تکلیف او اندېښنه لرم، د هغه په خاطر مې را ووغوښتې. حکیم وویل: ووایه لورې! څه خبره ده؟ هغې د مور او پلار په مخ کې خبره نه‌شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای، نو حکیم یې مور او پلار ته وویل: که تاسې یې بده نه ګڼئ، نو یو څو شېبو لهپاره له کوټې ووځئ. هغوی دواړو ورته وویل: حکیم صیب! تاسو د دې قابل احترام مشر طبیب یئ او د دې د پلار پر ځای یئ، موږ یې ولې بده وګڼو. له دې سره دواړه ووتل. حکیم زرمینې ته وویل: ووایه لورې څه دي؟ هغه له ډېرې حیا نه وشرمېده او په ورو غږ یې وویل: حکیم صیب! تاسو د خوښې او آزادۍ خبره کوئ، نو زما هغه ولې د دې مخالف دی؟ زه د خپلې خوښې خبره کوم، په خپله خوښه چې د خپلوانو او ملګرو کور ته ځم، هغه خفه کېږي، شک کوي، غوسه کېږي او وایي چې په دې کور کې زما خوښه چلېږي، ولې داسې کوي؟ حکیم وخندل او په مینه یې ځواب ورکړ: لورې آفرین! ښه دې وکړل چې دا پوښتنه دې وکړه، ښه په غور یې واوره، زرمینې خپل ټول حواس را ټول کړل، ټول ځان یې غوږ - غوږ وګرځاوه او حکیم ته په ډېر ځیر غوږ شوه. حکیم ورته وویل: ګوره لورې! دا سمه ده چې هر څوک د خوښې خاوند دی، آزاد پیدا شوی دی او آزاد به مري، خو دلته یو نازکه نکته ده، اورې؟ هو! حکیم صیب غوږ یم. حکیم خپلې خبرې وغځولې، هو! انسان د خپلې خوښې خاوند دی، خو هغه باید دا هم ومني، چې یوازې هغه انسان نه دی او یوازې هغه د خپلې خوښې خاوند نه دی، دویم کس هم انسان دی او هغه هم د خپلې خوښې خاوند دی. پوه شوې لورې؟ هو! حکیم صیب...، نو حکیم د هغې د پوهېدو کوښښ شروع کړ: لورې! ته هم د خپلې خوښې خاونده یې او ستا د ژوند ملګری هم، نو که ته د خپل زړه منې او د ژوند ملګری دې د خپل زړه؛ نو په کور کې یووالی څنګه راشي او ګډ ژوند مو څنګه مخ ته لاړ شي؟ زرمینې ټکان وخوړ، هو کنه، همدا خبره ده... حکیم ورته وویل: نو لورې! د ټولنیز او انساني ژوند غوښتنه دا ده، چې د «خوښې» معنا باید داسې وي چې انسان کله له زړه نه د «خوښې» قدر او تابعیت کوي او هغه څه چې خپل ځان ته غواړي، هغه باید نورو ته هم ورکړي، چې خپله، خپله خوښه چلوي، نو د نورو خوښې ته هم باید احترام وکړي. زرمینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حکیم خبره پرې کړه او ویې ویل: حکیم صیب! یو ځل یې بیا ووایه! هغه لږ وضاحت ورکړ، لورې! ته خپله خوښه غواړې، خو بل چا ته د هغه د خوښې حق نه ورکوې؛ نو دا څه ډول انصاف او کوم انسانیت دی؟ زرمینه په فکر کې ډوبه شوه او بیا یې ځواب ورکړ: حکیم صیب! حق ورکوم. حکیم خوشحاله شو چې ناروغه پوه شوه، نو مخکې لاړ، آفرین لورې! هر انسان د خپلې خوښې خاوند دی، د دې معنا دا ده چې خوښه د انسانانو ګډ حق دی، یو انسان له بل نه د خوښې حق نه‌شي اخیستی، هر انسان باید پر دې پوه شي، چې څنګه د ده خوښه ده، داسې بل انسان هم خپله خوښه لري. زرمینې له زنګونه سر پورته کړ، ویې ویل: سمه ده! حکیم خپلې خبرې وغځولې: نو که څوک غواړي چې د خپلې خوښې قدر وکړي، هغه منصف او ربښتینی انسان هغه وخت کېدای شي، چې د نورو د خوښې قدر وکړي، د دې مطلب دا دی چې د نورو خوښې ته احترام وکړي. د خپلې خوښې حق غوښتل او نورو ته د خوښې حق ورکول له یو بل سره لازم او ملزوم دي. زرمینې له دې اورېدو سره سر پورته کړ او له یو څه فکر کولو وروسته یې وویل: که چېرې زما خوښه یوه وي او د هغه بله، نو بیا؟ حکیم په خندا ځواب ورکړ: ګرانې! ته پوه نه شوې، ته به د هغه د خوښې احترام کوې او هغه به ستا د خوښې؛ نو هېڅ مرض نه پیدا کېږي، نو درملنې ته څه اړتیا ده. هو! پاتې شوه دا خبره چې په دواړو کې به د چا خوښه چلېږي، نو چې کله د احترام د رویې بنیاد جوړ شي او زور، زیاتی، جبر، قهر، خپل سري او د ضد عناصر له منځه ووځي؛ نو د بل خوښه د خپلې خوښې ځای نیسي. که بیا هم دا پوښتنه، چې که د دواړو خوښه بېله - بېله وي، نو دواړه څنګه سمېدای شي؟ دا یوه پوښتنه ده، خو په انساني ټولنه او کور کې ټول کارونه یو ډول او سم نه وي، غلط کار غلط وي، چې په لومړیو کې سم په نظر راځي، خو تجربه یې ثابتوي چې دا کار غلط و، نو په دې ډول یې فاعل خپله پوهېږي. هو لورې! په یاد لره چې غلط ګومان او شکونه هم وي، د دې اړیکه هم له خوښې سره وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د دې نور لاملونه هم کېدای شي او خپله د خپلې او نورو له رويې او د پرديو بدنيتيو څخه هم پيدا کېږي او لا پسې لويېږي؛ نو پکار ده چې ذرې هومره ناسم پوهاوی يا شک پيدا کېدو سره کېنئ او د هغې حل پيدا کړئ، داسې نه چې هغه ته په زړه يا ذهن کې ځای ورکړل شي او په اړه يې څېړنې او پلټنې پيل شي. داسې کول ناسم پوهاوی او شکونه له منځه نه وړي، بلکې نور يې هم لويوي. حکيم چې تر دې ځای پورې ځواب ورکړ، نو زرمينه، لکه له خوبه چې را پورته شي، ناڅاپه يې وويل: بس دی حکيم صيب! پوه شوم، پوه شوم....، د هغې پر مخ د خوښۍ او ډاډ کرښې راخورې شوې او داسې احساس يې وکړ، چې حکيم شهباز هغې ته د اندېښنو او تشويشونو علاج وروښود. هغه پوه شوه چې دغه ستر شخصيت پر هغې ډېر لوی احسان وکړ. زرمينه په لومړي ملاقات کې له هغه نه متاثره شوې وه او په هر ملاقات کې يې هغه ته عقيدت په ډېرېدو و. اوس خو يې بالکل پير او مرشد باله، هغې غوښتل چې د هغه پښو ته وغورځي او قدمونه يې ښکل کړي، خو حکيم شهباز پرېنښووده. بيا يې د شهباز لاسونه ښکل کړل او ورته ويې ويل: شهباز بابا! ته زما محسن، زما پير، زما مرشد، زما پلار او زما هر څه يې، زما ژوند او هر څه ستا په پښو کې دي. د شهباز په زړه کې چې د هغې مينې کوم توپان پيدا کړی و، هغه ټول بندونه وشلول، بهر راووته او زرمينې ته د خپل زړه زخم ښودلو ته بې‌واره شو. هغه غوښته چې دی هم د خپل زړه خبرې همدا اوس د حسن ښاپېرۍ ته وکړي، خو هغه شهباز و، ډېر ژر به گرم او سوړ شو، له هر ډول بټيو څخه پوخ راوتی شهباز او تر ټولو زيات د قوم خدمتگار شهباز و، هغه هر څه کولای شو، خو مقصد، مرام او منزل ته يې په هيڅ صورت تاوان نه‌شو رسولی، هغه ډېر هوښيار او پر نفس حاکم انسان و. هغه د خپلو ټولو جذباتو اظهار يوازې په دې ډول وکړ، چې د زرمينې مخ يې پر دواړو لاسونو ونيوه، پر تندي يې ښکل کړه او بيا يې د هغه مور او پلار راوغوښتل. هغوی رانتوتل، ده ورته وويل: نجلۍ به بالکل روغه جوړه شي، تاسو د دې خوښې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پام کوئ، که ما ته اړتیا پېښېده، خبر راکوئ. بیا یې د زرمینې بچیان راوغوښتل، هغوی ته یې مینه ورکړه، دعا یې ورته وکړه او د تګ پر مهال یې شا ته وکتل، زرمینه ورته په ودرېدو په دواړو لاسونو سلام وکړ او له سترګو یې تودې - تودې اوښکې وبهېدې، خو معلومه نه ده چې د خوښۍ اوښکې وې، که شهباز ته د عقیدت اوښکې...! یا د هغې د خلوص اوښکې!

زرمینه د حکیم له تګ وروسته بالکل بدله شوه، له ماسختن لمانځه وروسته تر یو څه وخته پورې پر جاینماز ناسته وه، پر خپل تېر ژوند یې یو نظر تېر کړ، کومې پېښې یې چې په یاد وې، پر هغوی یې د حکیم د خبرو په رڼا کې غور وکړ، په ځانګړې ډول یې له مراده د خفه کېدو په اړه ډېر فکر وکړ. پر دې شپه ښه په ژور خوب ویده شوه او سهار له چرګ بانګ سره راویښه شوه، اودس یې وکړ، نفل یې وکړل، بیا پر جاینماز کېناسته او د کور د بربادېدو پر کیسو یې فکر کاوه. هغه دې پایلې ته ورسېده، چې حکیم شهباز چې څه وویل، سم یې وویل. د خپلې خوښې خیال ساتل او د نورو خوښې لحاظ نه کولو سره معامله یو طرفه کېږي، په دې ډول خو د آزادو انسانانو تر منځ هېڅ اړیکه نه پالل کېږي، د چا کور خوشحاله او آباد نه پاتې کېږي، په کور کې د ماشومانو تربیې ته تاوان رسوي. دا سمه ده چې د یو بل خوښه منل، د ښه ژوند تېرولو او د انسانیت تقاضا ده، د کور او ټولو انساني اړیکو خوشحاله ساتلو لهپاره اساسي اړتیا ده. د شهباز بابا دا خبره هم سمه وه، چې خلک تېروتنه کوي، خو په تجربو سره ببرته اصلاح کېږي هم. هغې ته ډېرې داسې پېښې ور یادې شوې، چې که چېرې یې هماغه وخت د یو بل خوښې ته احترام کړی وای، نو ښایي دا پېښې نه وی رامنځ ته شوې. بیا یې پرېکړه وکړه، چې ببرته به ښار ته خپل مراد ته ورځي او له هغه سره به د شهباز بابا خبرو مطابق ژوند تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو ورځې وروسته چې هغه ښځي ښه شوه، نو هغې په خپلوانو کې د يوې ملګرې په خوله خپل مور او پلار ته دا خبره ورسوله، چې هغه غواړي ښار ته لاړه شي او له مراد سره خوشحاله ژوند تېرولو ته چمتو ده. مور او پلار يې پوه شول، چې دا د شهباز د درملنې او خبرو اغېز دی. هغوی د کلي يو سپين ږيری ښار ته ولېږه، چې له مراد او د هغه مور او پلار سره د زرمينې د ببرته ور تګ په اړه خبرې وکړي. سپين ږيري د مراد له مور او پلار سره خبرې وکړې، هغوی راضي شول، خو يو شرط يې کېښود، چې مراد ډېر سخت طبيعته او خاموش ضدي انسان دی، که هغه ومنله، نو موږ به خپلې اېنګور پسې درشو او خپل کور ته به يې راولو. هغوی د مراد له يوه نږدې ملګري سره خبرې وکړې، چې زرمينه اوس ضد او خپلسري نه کوي او ښه وخت به تېروي. مراد چې له خپل ملګري نه دا پيغام واورېد، نو ويې ويل چې زه د هغې په راوستلو کې هېڅ اعتراض نه‌لرم. هغه په هر لحاظ باسليقه او خوش خويه ښځه ده، هغه د خپل خپګان احساس کوي، خو په علت يې ځان نه پوهوي، يوازينی خو په‌کې دا ده چې هغه خپله خوښه چلوي، خو د نورو هېڅ پروا او لحاظ نه کوي، بس چې دغه يوه خو په‌کې نه وای، نور له هغې بله ښه ښځه نه‌شته.

د زرمينې مور او پلار ته دا مثبت پيغام ورسېد، هغوی زرمينې پسې د تګ چمتووالی ونيوه. د مراد مور د خپلې کورنۍ يو ځو نورې ښځې له ځان سره ملګرې کړې، د زرمينې د قدردانۍ په پار د هغوی کور ته ورغلې او هغه يې په ډېر درنښت سره خپل کور ته راوسته.

زرمينې له مراد سره او مراد له زرمينې سره يو ځل بيا له مينې او محبته ډک خوشحاله ژوند پيل کړ. يوه ورځ زرمينې مراد ته د شهباز بابا کيسه وکړه او ورته ويې ويل، چې پر ما باندې د هغه بوډا غازي ډېر لوی احسان دی. بيا يې ورته وويل، چې هغه نه يوازې پر وطن مين، زړور او د قوم خدمتګار مجاهد دی، ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ښه حکیم او عالم هم دی، د هغه په لاسونو کې جادو دی، دا هم د هغه برکت دی، چې زه نن بېرته تا ته راغلم او د هغه له برکته زه پر ډېرو مسایلو پوه شوم. له هغه سره د مراد لیده هم اړین دي، د زرمینې مقصد دا و، چې د شهباز بابا خبرې به پر هغه باندې هم مثبت اغېز وکړي، نو د دواړو ژوند به لا ښه شي او په کور کې به خوشحالي نوره هم ډېره شي. دستي یې یو پروګرام جوړ کړ او دواړه له خپلو بچو سره د کلي درې ته لاړل. په تصادفي توګه شهبازخان هم هلته و او له دوی سره یې ملاقات وشو. شهباز خان او زرمینه د یو بل په لیدو ډېر خوشحاله شو، مراد پوه شو چې دواړه د یو بل ډېر قدر کوي، زرمینې د یوې مریدې غوندې د هغه قدر او عزت کاوه او شهباز خان هغه د پرښتې په‌څېر سپېڅلې بلله.

مراد د شهباز خان په لیدو له هغه نه ډېر متاثره ښکاره شو او له هغه سره خبرو کولو ته بې‌قراره و. آخر د ماښام ډوډۍ له خوړو وروسته د خبرو موقع په لاس ورغله. شهباز خان ترې پوښتنه وکړه: زویه! صحت خو مو ښه دی؟ مراد وویل: هو! شهباز بیا پوښتنه وکړه: دنده دې هم ښه ده؟ ویې ویل: هو! هغه بیا وپوښته: په ښار کې خلک د انګرېزانو په اړه څه وایي؟ هغه ورته وویل: مشره! ځینې یو څه وایي او ځینې بل څه. همداسې چې شهباز څومره پوښتنې ترې کولې، مراد به په درې څلور کلمو کې ځواب ورکاوه؛ نو شهباز هغه مخاطب کړ او ورته وویل: زویه! انسان ګل دی او خبرې یې خوشبو ده، چې انسان خبرې و نه‌کړي او ګل بوی ونه‌کړي، نو بیا پاتې څه شول؟ مراد ملا نېغه کړه او ځواب یې ورکړ: بابا! ما ستا په اړه اورېدلي یو څه وو او له نږدې مې بل ډول درک کړې؛ ځکه حیران هم یم او غلی هم. شهباز بابا ورته وویل: زویه! له کله نه چې دا مکار انګرېز دلته راغلی دی، نو د دوی لوی چل او دوکه دا ده، چې په ظاهر کې به د قوم او قبیلې ستر خان وي، خو په اصل کې د انګرېز غلام، مُلا او پیر د رسول الله ﷺ پر مصلې ناست وي، خو خدمت د ظالم پرنګي کوي او د دې پرعکس

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازیانو ته ډاکوان او د قوم خادمانو ته غله ویل کېږي. د دې په اورېدو سره مراد وویل: بابا! زرمینه وایي چې تاسو تر اوسه پر چا ظلم، جبر، زیاتی او قهر نه دی کړی؟ بابا ځواب ورکړ: هو زویه! زه هر انسان ته په مینه قایل یم، د هر انسان د ضمیر آزادۍ ته سلامي ولاړ یم، پر چا باندې د هغه د خوښې خلاف په زور او زیاتي د څه منلو او تحمیلولو خلاف یم. مراد د هغه خبره ونیوه او ویې پوښتل: بابا تاسو څه وویل؟ شهباز خان: هو زویه! په زور زیاتي سره د چا پر خوښه فشار راوړل بالکل ناسم کار دی، د یو بل پوهول، درک کول او منل د دواړو «خوښې» ته درناوی دی. شهباز دا خبرې د دې لهپاره کولې، چې هغه د زرمینې او مراد تر منځ په اختلاف او خپګان خبر و. هغه غوښتل چې د دوی په روان کې دا زهرجن او زیان رسوونکی عنصر بیا را ګډ نهشي او مراد ځکه غوږ و، چې د هغه رواني زخمونو ته دا د مرهم پټۍ وې او د ښځې او خاوند د ګډ ژوند تېرولو لهپاره ګټوره نسخه وه. شهباز بابا وویل: زویه! دوه انسانان په رواني لحاظ دوې نړۍ دي، چې په هغو کې بېشمېره شیان له یو بل سره ورته دي، ډېر شیان له یو بل نه مختلف او متضاد وي او په تولنیز ژوند کې دوه نه، بلکې له ډېرو خلکو سره ژوند تېرول پکار دي، یعنې مختلفې نړۍ چې له اختلافاتو او تضادونو هم ډکې دي، باید سره یو ځای په خوښه او خوشحالۍ ژوند وکړي؛ نو زویه دا دومره ستونزمن کار دی. مراد سر خوځېدو سره وویل: هو بابا! بابا خپلو خبرو ته دوام ورکړ: خو زویه! دا کار اسانېدی هم شي او متمدن انسان دا کار اسانه کړی دی. هغه داسې چې خوښه او خوشحالي له یو بل سره شریکوي، نو یوه خوښه او خوشحالي د بل شي او بل خوښه او خوشحالي د لومړي هغه.

مراد پوښتنه وکړه: څه ډول یې شریکوي؟ شهباز ځواب ورکړ: څنګه چې یو کور د ښځې او خاوند تر منځ شریک وي، داسې د کور خوشحالي هم د دواړو شریکه وي. د کور د خوشحالۍ شراکت لهپاره د دواړو د خوښې شراکت اړین

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. د خوښې شراکت، يعنې د يو بل د خوښې دومره احترام ساتل، څومره چې د خپل زړه منئ. پوه شوې زويه؟ مراد سر وخوځاوه، خو په فکر کې غرق و، بيا يې وويل: ضد نه دی پکار؟ هو زويه! ضد مه کوه، ځکه د ضد معنا دا ده چې تاسو پر نورو خپله خوښه منئ او هغه دې منلو ته تيار نه وي، خو تاسو بيا هم ضد کوئ؛ يعنې د بل خوښې سره مقابله کول، په حقيقت کې د هغه له خوښې انکار کول دي، د هغه د خوښې خلاف احتجاج دی، د دې معنا دا ده، چې د بل خوښه هېڅ نه منې او خپله خوښه پرې منل غواړې؛ نو هغه يې هرومرو نه منې. هغه پر خپله خبره ټينګ ولاړ وي او ته پر خپله خبره، هغه هم ضد وکړي او ته هم؛ نو د دواړو ضديانو کور وران وي. اړيکه يې پرې شي، ټولنه ارزښت نه ورکوي، انسانيت ختم؛ نو داسې بايد ونه‌شي. د يو بل د خوښې او نظر احترام پکار دی...، په دې کې مراد بيا سر جګ کړ، ويې ويل: بس دی بابا جانه! همدومره بسنه کوي، زه پوه شوم.

په دې ډول د دوی تر منځ ډېر اوږد بحث وشو. مراد چې لوستی ځوان و او ډېرې تېروتنې يې کړې وې، خو بيا يې هم په ډاډ سره له شهبازه پوښتنه وکړه: بابا! تا څومره تعليم کړی؟ هغه په خندا ځواب ورکړ: زويه! تعليم مې نه دی کړی، په جومات کې مې له مولوي صيب نه ليک لوست زده کړی دی، بيا مې دلته په قبايلو کې کوښښ کاوه، چې په اردو، فارسۍ او عربۍ کې به کوم کتاب په مخه راغی، هغه به مې د خپل ژوند او ټولنې سره په پرتله کې لوسته، فکر او غور به مې پرې کاوه؛ نو پر ما رښيتنې روښنايي را خوره شوه او زويه! تر ټولو لوی درس د ژوند مطالعه او تجربه ده. مراد بيا سر خوځولو سره وويل: بابا جانه! رښتيا وايې. له دې وروسته مراد او زرمينه دواړه پورته شول او د شهباز بابا لاسونه يې ښکل کړل او له هغه يې د خوب کولو په نيت اجازه واخيسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ملاقات وروسته مراد هم د شهباز معتقد شو. له دې وروسته په ټول عمر کې چې کله به هم کومه خبره یا ستونزه را مخه ته کېده، نو ویل به یې چې کاش شهباز بابا اوس وای، چې له هغه مو مشوره اخیستې وای. د دوی دواړو کور نور له هر پلوه د ډاډ وړ او خوشحاله کورنۍ وه.

شهباز هم د زرمینې له لومړي دیدنه بدل شوی و، په هغه کې بیا د جهاد شوق غځونې وکړې، اوس به هغه هر شپه د خدای نامه اخیسته او د زرمینې په تصور کې به په ژور خوب ویده کېده او سهار وخته به د خدای نامې اخیستو او زرمینې په یاد راپورته کېده او بیا به یې خپل کار ته مخه کړه. کله - کله به پټ په پټه ښار ته هم ته، د یوې پلمې په جوړولو سره به یوازې د زرمینې یو نظر لیدو ته ورغی. کله چې به د زرمینې کور ته ورسېد، نو ته وا پر دوی اختر راغلی وي، داسې به ورته ټول خوشحاله وو او زرمینې به په پټه هغه یوې شپې ته پاتې کړ او سهار به یې رخصت کړ. شهباز ځان سره ډېر احتیاط کاوه، هغه ټول عمر په قبایلو کې تېر کړی و، د هغه په قد قامت، څېره، صورت او رنګ کې ډېر توپیر راغلی و او بیا د هغه په ګڼه ببره ږیره کې یوازې د هغه دوې سترګې ښکارېدې. په ښار د هغه اشنایان هېڅوک نه وو، هغه یو قبایلي بوډا ښکاره کېده او په ښار کې د هغه پهڅېر قبایلي خلک ډېر وو.

انګرېزانو تیار د جاسوسانو پراخ جال خور کړی و، چې کوم غازي په دام کې ګیر کړي او سزا ورکړي. همداسې یې په قبایلي سیمه کې هم له هر غازي سره یو - یو جاسوس ګومارلی و، چې سیاسي استازي ته د غازیانو د کړنو او پلانونو راپور ورکړي. پرنګي افسرانو ته هېڅ اړتیا نه وه، چې خپل ځانګړی جاسوس هلته وګوماري، هلته د پردیپالو ملکانو او د هغوی خاصه‌دارو، همفکره خپلوانو او لاسپوڅو هېڅ کمی نه و، چې د ملک خوشحالولو او له دولتي افسرانو څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امتیاز تر لاسه کولو لهپاره هغوی ته د هرې وړې او لویې خبرې رسولو ته په دوو پښو ناست وو او په دې خدايي خدمتګارۍ کې یې له یو بل سره سیالۍ کوله.

شهباز خان چې به کله ښار ته ته، نو په خپله سیمه کې به یې د کوم بل آزاد قبایل نوم په اخیستو سره یکي یوازې چرګ بانګ مهال حرکت وکړ او له اوږد مزل وروسته به یې د ښار لار ونیوه، چې په لاره کې به څوک په مخه ورغلل، نو ده به ترې لاره بدله کړه؛ خو له دومره احتیاط سره بیا هم د هغه ملګرو او شاوخوا خلک پوه شول، چې هغه داسې یوازې نېغ په نېغه آزاد قبایل ته نه ځي، لومړی کوم بل ځای ته ځي. بس د کلي یوه جاسوس یې شا ونیوله. بله ورځ چې هغه د ښار په لور روان شو، د جاسوس تر څارنې لاندې و، هغه ولید چې شهباز په ښار کې یوه کور ته ننوت، جاسوس ژر د سیاسي استازي دفتر ته ځان ورساوه او دا خبر یې ورکړ. شپې پولیسو د مراد پر کور چاپه ووهله او مفرور شهباز خان یې ونیوه. مراد یې هم ورسره زندان ته بوت. زرمینه ډېره خواشینې شوه، خو همت یې و نه بایلود. په ډېرې زړورتیا او خوښۍ سره یې کور او بچي سمبالول او په زندان کې به یې وخت پر وخت د هغوی پوښتنې او خبر اخیستو ته هم تلله. په دې جریان کې له هغې سره یوازې د مراد او شهباز بابا د آرامتیا خیال و، د بل څه غم ورسره نه و. هغې په پوره جوش او جذبې سره دې کارونو، مصیبتونو او ستونزو ته اوږه ورکړې وه، چې نر یې پر وړاندې هېڅ و، خو په دې دوران کې هم هغه د خپل حسن له جنجاله په آرامه نه وه. د هغې پر مصیبت ځپلي ژوند باندې هېڅچا رحم نه کاوه، د هغې حسن کتو ته هر څوک بېتابه څه چې لېوني کېدل. د هغې په ګاونډ کې یو شیک پوشه او کاروباري سړی اوسېده، هغه تل په دې تمه و، چې زرمینه ووینې او خبرې ورسره وکړي؛ خو زرمینې به داسې خلکو ته ښه درس ورکاوه. داسې ډېر ځوانان وو، چې د هغې کور ته نږدې په دوکانونو کې به ورته ناست وو یا به شاوخوا د خپلو کورونو پر بامونو ورته ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، چې هغه يو نظر ووينې. زرمينې ته د دې ټولو مسائلو احساس کېده، خو د خپلې حيا او پردې خيال يې ساته، له بدنامۍ او تهمته يې ځان لرې ساته او په بې‌شمېرو اغزو کې يې د غوړېدلي گل په‌څېر هر زخم خوړولو سره خاموش ژوند تېروه.

يوه ورځ يوه لېوني عاشق نه پوهېږم په کوم نيت او څنگه د زرمينې د کور له دېوالونو واوښت او د هغې د خوب تخت ته يې ځان ورساوه، زرمينه پرې ژر راويښه شوه، راپاڅېده، هغه يې ونيوه، په عين وخت کې د خپلې بدنامۍ له ويرې لړزېده؛ خو بيا يې هم وار خطا نه کړ، حواس يې قابو کړل او هغه يې سم پوه او وډار کړ او له کوره يې وويسته. ټوله شپه له ويرې خوب نه ورته، فکر يې کاوه چې دا لېونی چا ليدلی نه وي، خو د هغې دا تشويش بې‌ځايه و.

داسې ډېرې پېښې د هغې په ژوند کې هر وخت پېښېدې او د مراد له نيول کېدو وروسته په‌کې ډېروالی راغی، خو سل آفرينه دې پر زرمينې وي. څومره چې هغه ښکلې او زړه وړونکې وه، هومره باهمته، زيارکښه، زړوره او وفاداره وه. دې غريبې ته خو د کور او بچو د خدمت او تربيې دروند پېټی ور تر غاړه و، چې د خپل حسن او ځوانۍ نه ورته را پيدا کېدونکې مسايل هم لوی جنجال و، چې دا له لومړي مسووليت او ذمه‌وارۍ نه ډېر عصاب خرابوونکی او ستونزمن کار و.

مراد يو څه وخت وروسته خوشې شو، د هغه پلار د يوه پير مريد و، پير صاحب د لاټ صاحب خاص سړی و، هغه له نورو پيرانو او مريدانو سره په شريکه داسې چلونه وکړل، چې دا ټولې سيمې د هغه له خدمت او برکته د انگرېزانو تر ولکې لاندې راغلې وې. هغه د خپل نفوذ او پر خلکو باندې رعب او اغېز ښندنې له‌پاره عجيبه کارونه کول، په ډک محفل کې د انگرېز مرستيال کمېشنر يا د پوليسو مشر ته سپکې سپورې ويل او په څپېړه وهل اسان او عادي کار نه و، خو دا يې له انگرېزانو سره دسيسې پلان کړې وې، چې دا پير خلکو ته لوی سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثابت کړي؛ ځکه يې داسې کارونه کول. تر دې حده يې تمثيلي کارونه کول، چې يو مجرم به يې د دغه پير په امر له دار تختې را خلاص کړ او کور ته به يې رخصت کړ. په خلکو کې يې داسې مشهوره کړې وه، چې انګرېزان له پير صاحب نه ډارېږي او د هغه هره خبره مني. په دې يوازې څو کسان پوهېدل، چې دا هسې لوبه ده او دا د پرنګيانو حکمت عملي کول دي.

د مراد پلار د خپلو اړيکو پر بنياد خپل پير ته ورغی، پير صاحب له يو څو نورو مخورو پيرانو، ملايانو، ملکانو او خانانو جرګه جوړه کړه، لاټ صاحب ته ورغلل او له هغه يې د مراد د خوشې کېدو غوښتنه وکړه. د مراد په اړه يې چې څومره پلټنې کړې وې، په هغو کې له انګرېزانو سره په وفادارۍ کې کمی، په کاري فعاليت کې سستي او د انګرېزانو خلاف له خلکو سره اړيکې ساتل څه چې، د خبرو کولو شک او شوبه هم نه وه او بل انګرېزان په دې پوهېدل، چې دا راغلي سپينږيري په دې سيمه کې مېلمانه دي.

پير صاحب د مراد را خوشې کولو لهپاره په دې خبره ټينګار کاوه، چې زما ځای ته راغلي مېلمانه به هرومرو دلته يوه شپه کوي، له شپې کولو پرته بېرته نهشي تللای. له دې پرته پير صاحب د ځان پهځېر له اغېزمنو او بانفوذو شخصيتونو سره راغلی او د يو چا خوشې کېدو سوال او غوښتنه کوي؛ نو لاټ صاحب له دوی څخه د خپل سلطنت او حکومت په ګټه ډېر کار اخيستل غوښتل. د مراد په خوشې کېدو کې د هغه دومره ګټه وه، چې د هغه په څو کالو زنداني کولو کې هم نه وه. په همدې خاطر يې پير صاحب او د جرګې مقام او شان لوړولو په پار د پير صاحب ځولۍ خالي پرېښنبوده. مراد يې خوشې کړ، خو دې پېښې مراد ته يو ټکان ورکړی و، په زندان کې له شهباز بابا او نورو سياسي بنديانو سره په مجلس کې د هغه د آزادۍ جذبه را بيداره شوې وه، هغه په همدې فکر دولتي دنده پرېښنبوده، چې له دې بدنامۍ وروسته يې نور زړه نه غواړي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افسرۍ دنده پر مخ بوځي؛ ځکه نور د پښتو په‌څېر خپله دنده په پوره مسوولیت سره نه‌شي تر سره کولای، په کارونه کې ګډوډي راځي، په دنده کې ستونزه پېښېږي او دا چارې مې دستي رسوا کوي؛ نو ښه به دا وي چې له نېک نوم او ښه شالید سره دنده پرېږدم او یو بل کاروبار پیل کړم. هغه همداسې وکړل، په ښار کې یې نوی کاروبار پیل کړ او ډېر ژر کامیاب شو. تر څنګ یې په سیاسي اړخ کې هم لېوالتیا پیدا شوه او د انګرېزانو پر خلاف یې له قومي خوځښت سره لاس یو کړ.

زرمینه هم خوشحاله شوه چې مراد د شهباز بابا هم فکره او لاروی یې شو.

پر شهباز خان د بغاوت جرم محاکمه پیل شوه او هغه یې د انګرېزانو پر خلاف په ظالمانه، سرکشۍ او غیرقانوني عمل (غازي) تورن کړ، چې په دې تور هغه ته د اعدام سزا ورکول کېده، خو انګرېزانو ته وفادارو ملکانو فکر وکړ، چې شهباز خان ډېرې پراخې اړیکې او نفوذ لري، که هغه اعدام شي؛ نو په ټولو قبایلو کې د شور او پاڅون خطر شونی دی او د هغو مخه نیول بیا د انګرېزانو په مرسته هم ناشونې ده. په نوي تابع شوي قبایل کې به هم د بغاوت جذبه خوره شي او دا به ډېر لوی سر درد شي؛ نو هغوی یوه جرګه جوړه کړه او د لاټ صاحب خدمت ته یې ولېږله. لاټ صاحب د ملکانو اندېښنه پر ځای وبلله او پر شهباز خان یې د یادې محاکمې پر ځای د سرحدي سیمې د یو بل ړوند قانون له مخې د څلوېښتم کیس په تور په زندان کې د ساتلو پرېکړه وکړه.

شهباز خان په زندان کې پاتې شو، هغه یې له سیاسي زندانیانو سره اچولی و، دلته د هېواد له کوټ - کوټ نه سیاسي بندیان را ټول شوي وو. په دوی کې رهبران هم وو، پوهان او دانشوران هم. هر سهار او ماښام به هغوی د تعلیم او تدریس له‌پاره را ټولېدل، علمي کتابونه به یې لوستل، سیاسي خبرونه به یې له یو بل سره شریکول او بحث به یې پرې کاوه. همدارنګه هر زنداني به یو بل سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې تجربې شریکولې، پوهانو او سیاسي بندیانو خپلو ملګرو ته په مختلفو طریقو سره د درس ورکولو مسوولیت واخیست، زندان نه و سمه سیاسي مدرسه وه. د شهباز خان دا چاپېریال ډېر خوښ شو، بلکې په دې پوه شو چې خدای په خپل فضل سره هغه ته ښه موقع برابره کړه. هغه به د پیرنګیانو پر خلاف د آزادۍ جنګ لهپاره ډېر څه زده کړي، هغه سره د لیک لوست او علم کمی و، د دې پوره کولو لهپاره به ډېره زده‌کړه وکړي او دغو زده‌کړو پوره کولو لهپاره زندان ډېر غنیمت و؛ نو هغه شپه او ورځ یوه کړه، زده‌کړه یې پیل کړه او کوم بندي چې به په کومه برخه کې ماهر و، له هغه به یې په هماغه برخه کې پوره ګټه اخیسته. په دې ډول به له غازي شهباز خان څخه یو پوه او تجربه لرونکی سیاسي رهبر جوړ شي.

هغه دې پایلې ته ورسېد، چې په غرونو کې وروسته پاتې او نالوستي قبایلي عام وګړي، چې اوس د انګرېزانو په دام کې ګیر دي او د دې سربېره جهاد روان ساتل، د شپې لهخوا غلچکي حملې کول او د ورځې سر ساتلو ته ځای لټول یا پر کومې پوستې ډزې کولو سره آزادي نه تر لاسه کېږي، د آزادۍ لهپاره منظمه مبارزه پکار ده، لکه څنګه چې په زندان کې له هغه سره د هغه سیاسي رهبران ملګري یې کوي؛ نو هغه پرېکړه وکړه، چې که ژوند وفا وکړه، نو په قبایلو کې به هم کار کوي او په هېواد کې دننه د سیاسي مبارزې لهپاره به پر یوې منظمې سیاسي تګلارې هم کار کوي.

د شهباز خان بابا له نیولو وروسته د هغه ټول غازیان ملګري خفه او غوسه وو، هغوی تل په دې هڅه کې وو، چې هغه څنګه له زندانه راوباسي. هغوی پر زندان د حملې پلان هم جوړ کړ، خو عمل پرې ونه‌شو. هغوی د پرنګیانو پر کاروان برید وکړ، لوژستیکي توکي، تجهیزات او وسلې یې غنیمت کړې، ټول یې خرڅ کړل او پیسې یې جمع کړې، چې د زندان ساتونکو او پیره‌دارانو ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي او له دې لارې خپلو غازیانو ملګرو ته د تېښتې لاره جوړه کړي، خو دې کار هم پایله ور نه‌کړه. دوی د یوه بل منظم پلان له مخې یو انګرېز ډاکټر او یو سیاسي افسر وتښتول، هغوی یې د افغانستان فرضي کرښې ته نږدې د یوه ملګري په کور کې پټ کړل او د هغوی خوشې کېدو په بدل کې یې د شهباز خان د خوشې کېدو غوښتنه وکړه. برتانوي حکومت او د هغوی هندوستاني حاکمانو له‌پاره دا ډېره مهمه معامله وه. هغوی لومړی ډېر کوښښ وکړ، چې د خپل پیرانو، ملکانو او کارکوونکو په همکارۍ د دوی تښتول شوي کسان، پرته له کومې معاملې را خوشې کړي، خو بریالي نه‌شول، بلکې په قبایلي سیمو کې ناارامي لا ډېره شوه. د قبایلو مشرانو یوه بله د حل لاره پیدا کړه، هغوی فکر وکړ چې انګرېزان به داسې پوه کړو، چې شهباز خان نور بوډا شوی دی، د دې پر ځای چې په زندان کې واوسي او هلته تاسو ته یو سرخوږی پیدا کړي، هغه دې خوشې شي او د حکومت تر واک لاندې یوې سیمې کې دې د اوسېدو اجازه ورکړل شي. د قبایلو جرګې دا خبرې د سیاسي استازي مخ ته کېښوې، هغه له وایسرای سره پرې خبرې وکړې، د هغه ځواب دا و، چې زه په دې کې هېڅ اعتراض نه‌لرم. جرګه‌مارو له شهباز خان سره خبرې وکړې، شهباز ورته وویل: زه په هېڅ شرط سره له زندانه آزادېدو ته چمتو نه یم؛ خو نورو سیاسي بندیانو جرګه‌مارو ته وویل، چې شهباز خان ته دې له انګرېزانو څخه آزادي تر لاسه کولو مبارزې له‌پاره د قبایلي سیمې پر ځای په مقبوضه سیمې کې د خوشې کېدو اجازه ورکړل شي او هلته دې د سیاسي تګلارې له‌پاره کار وکړي؛ نو په دې شرط به هغه راضي شي. جرګه‌مارو ته یې دا هم وویل، چې هغه به په مقبوضه سیمه کې اوسېږي او پر هغه باندې به هېڅ بندیز نه وي، چې چرته لاړ شي او چرته نه. جرګه‌مارو چې پر دې خبرو غور وکړ، نو دې پایلې ته ورسېده؛ که شهباز خان قبایلي سیمه پرېږدي او مقبوضه سیمې ته لاړ شي، نو ملکانو او انګرېزانو ته ستونزې نه‌شي جوړولای، د حکومت استازي پر هغه باندې خپل نظر ساتلی شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په خپل کور کې آرام او له سکونه ډک ژوند به په هغه کې بدلون راولي. په دې ډول هغوی د انګرېزانو افسران هم قانع کړل او د یوه ډاکټر او یوه افسر په بدل کې شهباز خان له زندانه آزاد شو.

شهباز خان چې له زندانه د آزادېدو خبر واورېد، نو ناڅاپه زرمینه ور په زړه شوه، له هغې سره یې اوس مینه یو په دوه شوې وه؛ ځکه هغې د ده خبرې منلې وې او په زندان کې یې د هغه پوښتنې او خدمت کې یوه ورځ هم غفلت نه و کړی، ده داسې احساس کاوه، چې هغه هم اوس له ده سره له حده ډېره مینه کوي، له مراده ډېره د ده پر خدمت کولو خوشحالېږي. په زندان کې سیاسي بندیانو چې کله زرمینه لیدلې وه، نو هغوی داسې باور کړی و، چې هغه د شهباز خان سکه لور ده، خو شهباز خان هغوی ته وویل چې نه، دې ته ما په خوله خپله لور ویلي دي؛ نو هغوی حیران شول او کله چې د هغه یوه هم عمره تجربه لرونکي او عالم ملګري له هغه سره خبرې کولې او د زرمینې نوم یاد شو، نو دغه بندي عالم د شهباز خان په طبیعت او روان کې یو عجیبه کیفیت احساس کړ، د هغه له خبرې، حرکاتو او خبرو داسې څرګندېدل، لکه د زرمینې په تصور کې چې د هغه پر ټول وجود لړزه راغلې وي او داسې معلومېده، لکه هغه چې خبرې له خپل ملګري سره کوي او پر زړه او ذهن یې د زرمینې حسن منګولې خښې کړې وي. دغه بندي عالم پوه شو، چې دا د هغه د زړه پر دنیا د مینې د اثراتو نښې دي او هغه په دې بوډاتوب کې هم له هغې سره له زړه نه مینه کوي. که چېرې د زرمینې د حسن بت جوړ شي، نو شهباز خان به د هغې عبادت کولو سره خپل زړه ته سکون او ډاډ ورکوي. دغه بندي عالم د شهباز خان د نفس تحلیل وکړ او د حسن او عشق پر موضوع یې له هغه سره د خبرو اترو یوه لړۍ پیل کړه. په دې بحث کې د دوی اختلاف و، بندي عالم د شهباز بابا د پوهولو کوښښ کاوه، هغه ته یې وویل: څه ته چې ته مینه وایې، هغه د انساني نسل د بقا په خاطر فطرت یو خواهش، رابښکون، میلان او هوس پیدا کړی دی، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینې یا عشق رنګ ورکړل شوی دی. شهباز بابا به ویل: مینه د انسان په طبیعت کې الله تعالی یو نعمت ګډ کړی دی، چې له هغې سره انسان د زړه سکون او خوښي تر لاسه کوي او په انساني ټولنه کې زړه راښکون، خوښي، قرباني او سکون پیدا کوي. مینه هوس نه، بلکې په خپل ذات کې یو حقیقت دی. په دې بحث کې له بندي عالم سره علم و، فلسفه وه، دلیلونه او مثالونه وو، د هغه په خبرو کې ټول هغه څه وو، چې په علمي او عقلي توګه یو انسان قانع کړي او له شهباز بابا سره یوازې تجربه وه، شخصي مطالعه او خلوص و. له دوی دواړو سره نورو بندیانو ملګرو هم په دې بحث کې برخه اخیسته، ځینې به له یوه سره هم نظره وو او ځینې له بل سره. په دې بحثونو که به اکثر بابا قانع کېده؛ خو چې کله به مجلس پای ته ورسېد، هغه به په خپل ځای کې څملاست او د دې بحث په اړه به یې فکر کاوه؛ نو د هغه سترګو ته به زرمینه او د هغې د ناپایې مینې سوال را مخ ته شو، چې دا د هغه خپله شخصي تجربه وه او له ده پرته بل چا دا باور کولای شو، چې دا یو خاص عشق دی او د دې اړیکه د هغې له حسن سره داسې فیض اخیستونکې وه، لکه سپوږمۍ ته وګورې یا پر یوه غوړېدلي ګل نظر اچولو سره انسان له زړه نه د خوښۍ او ځواک احساس وکړي او د ژوند په دې شېبو کې مست او مسروره شي. له دې سوچ سره به یې د بندي عالم پر ټولو دلیلونو او منطق باندې د بطلان کرښه را کش کړه او د زړه په ژورو کې به د خپلې مینې د ښاپېرۍ د حسن په سُرور کې مست شو. له ویده کېدو مخکې به د هغه له خولې د ایمان او عقیدې سره سم ناڅاپي لومړی د «الله» او ورپسې د زرمینې د نوم ذکر وشو او بیا به ویده شو.

یوه ورځ هغه له دغه عالم ملګري سره اوږد بحث وکړ، عالم پوه شو چې خان بابا پوره قانع شو. په دویمه ورځ به خان بابا بیا پر خپل باور او نظر ټینګ ودرېد؛ نو عالم ملګري یې ورته وویل: خان بابا! تا دې خدای پوه کړي، دا نور زما د وس خبره نه‌ده، د دې تړاو له منطق سره نه، ستا له پوره باور سره دی. پر دې خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې خان بابا په خپل ژوند کې په لومړي ځل او ښايي وروستي ځل هم، داسې په زوره او کړس - کړس وخاندل، چې ټول بلاک يې وخوځاوه او بنديان يې هک حيران کړل، بيا يې وويل: ملګريه! آخر دې هم ماته ومنله کنه. عالم ملګري يې ورته وويل: خان بابا! چې ته په دې خوشحالېږې، نو هو همداسې ده. بابا ترې پوښتنه وکړه: ملګريه! د ماتې له منلو نه مخکې راته دا ووايه، که چېرې ستا منطق او علم سم وي، نو زه...! بابا بېرته غلی شو؛ خو عالم د هغه په خبره پوه شو، ويې ويل: هو! زه پوه شوم. له دې ويلو سره يې وخندل، ته به وايې د شهباز بابا له پوښتنې کولو بغير له عالم ملګري سره يې د دې خبرې بل ځواب نه وي.

شهباز خان له چا سره د زړه خبره نه شريکوله، يوازې هغه وخت به يې د زړه عادي خبرې او احساسات د سياست په سمندر کې ډوبولې، چېرته به چې پر هغه د مرغلرو باران ورېده او هغه په دې شتمنۍ يوازې مست او تازه کېده. کله چې به له زندانه د هغه د آزادېدو خبرې کېدې، نو بنديانو ملګرو به زوروه او د زرمينې نوم په اخيستو سره به يې په عذابوه. خان بابا به د دې خبرو او ټوکو پر وړاندې غلی پاتې کېده او کله -کله به يې وخندل. د هغه د خوشې کېدو خبره چې کله کره شوه، نو هغه فکر وکړ چې د زندان له دروازې وتلو نه وروسته به لومړی څه کوم؟ د هغه رګ - رګ او هرې ساه دا غوښتل، چې هغه به نېغ ځي، لومړی به يو نظر زرمينهويني او بيا به خپل کلي ته مخه کوي، خو بېرته يې فکر وکړ، که هغه داسې وکړي، نو د زرمينې پر کورنۍ به پرنګيان د دښمن فکر وکړي او د هغوی ټولو ژوند به دوزخ وګرځي. بل لور ته دا هم د هغه له وسه وتلې خبره وه، چې د زرمينې له ليدو پرته دې کلي ته لاړ شي، آخر يې د زړه خبره ومنله، هر څه چې کېږي، ودې شي، خو لومړی به هرومرو هلته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کومه ورځ چې خوشې کېدو، پر هغه ورځ یې ملګري په عجیبه کیفیت کې وو؛ یو خوا له هغه نه د جلا کېدو احساس و، بل خوا په دې خوښ وو، چې هغه خوشې کېږي او د انګرېزانو پر خلاف به پر سیاسي تګلارې او منظم پلان جوړېدو باندې کار کوي. هغوی خپل ژوند همدغو اصولو او مقصد ته وقف کړی و او په دې لاره کې له خوږو او ترخو حالاتو سره مبارزه کول د هغوی عادت ګرځېدلی و.

شهباز خان د زندان له لویې دروازې څخه ووت، ډېر خلک ورته را ټول شوي وو، په دوی کې د مراد، د هغه پلار او خپلوانو په لیدو ډېر خوشحاله شو. هسې خو د شهباز بابا خپل خپلوان، ملګري او آشنایان هم راغلي وو او داسې خلک هم راغلي وو، چې هغوی د غازي شهباز یا مفرور شهباز خان په اړه ډېرې د رښتیا او دروغو کیسې اورېدلې وې، خو یوازې د هغه د لیدو ارماني وو. داسې ګڼ خپل پردي ورته راټول شوي وو، خو د مراد په لیدو په دې خاطر ډېر خوشحاله شو، چې هغه هم د خپلې مینې غوښتنې پوره کړي او هم به ورسره د زرمینې کورنۍ په مصیبت کې د اخته کېدو اندېښنه نه‌وي او که داسې کومه خبره وي هم، نو د زرمینې د کورنۍ غړو د راتګ معنا دا ده، چې هغو له هر ډول حالاتو سره مبارزې او مصیبت ته غاړه ورکولو ته تیار دي. دا د هغه له‌پاره د ډاډ لویه خبره وه.

شهباز خان له ټولو راغلو سره ډېر په مینه ولیدل، په ځانګړې توګه مراد ته به بیا - بیا ورغاړې ووت. که څه هم هغه نه غوښتل چې د ټولو خلکو په مخ کې د زرمینې نوم واخلي، خو هغه جذباتي او وارخطا شوی و، له مراده یې د زرمینې پوښتنه وکړه، د هغې د روغتیا او سلامتیا ډاډ یې تر لاسه کړ، بیا یې خپلو خپلوانو ته وویل: دا چې د مراد له کوره زندان ته تللی وم، نو د پښتو او غیرت خبره ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له زندانه د خوشې کېدو وروسته هم باید لومړی د دوی د کور سلام وکړم. ټول پرې راضي او خوشحاله شو او ټول د مراد د کور په لور ور مات شول.

هغو قبایلو مشرانو او جرگه‌مارو، چې د شهباز خان راخوشې کېدو ته جرگه شوي وو، هغوی غوښتل چې شهباز خان سیاسي استازي ته ورولي، خو شهباز خان له دوی مننه وکړه او ورته یې وویل: بس! څه چې کېدل، هغه وشول، که د سیاسي استازي له ما سره څه کار وي، نو ما ته دې راشي، زه د هغه سلام په خاطر له زندانه نه یم را خوشې شوی. په دې وخت کې زرمینه د دروازې شا ته پردې سره ولاړه وه، شهباز خان چې د هغوی د کور حجرې پر دروازه قدم کېښود، نو د هغې له سترگو د خوښۍ اوښکې روانې شوې او د پخلنځي په لور یې منډه کړه، چې مېلمنو ته چای تیار کړي. هغه د خوښیو په احساساتو کې ډوبه وه، غوښتل یې چې په منډه حجرې ته لاړه شي او د شهباز بابا قدمونه ښکل کړي، خو د پردې او حیا خبره وه. له دې زیات هغې سره د بابا په اړه فکر و، چې هغه به اوس له ما سره مینه کوي، که نه؟

مېلمنو چای څښلې چې مراد د شهباز خان بابا په غوږ کې غلي څه وویل، هغه دستي را پورته شو، له مراد او د هغه پلار سره د ښځو ځای ته روان شو. هلته د زرمینې کورنۍ، ملگرې او شاوخوا د گاونډ ښځې راټولې شوې وې. زرمینې د بابا په لیدو سره منډه ور واخیسته، د هغه پښو ته پرېوته، له ډېرې خوشحالۍ او عقیدت په جذباتو کې یې د هغه پښو ته خپلې تړمې اوښکې توی کړې، خو اوښکو یې ژبه نه درلوده، چې د زړه خبرې یې ورته کړې وای. شهباز بابا هم هغه په تندي ښکل کړه، د هغې پر رخسار یې د مینې تنده ماته کړه او بیا یې ژر شاوخوا ښځو ته پام شو، چې ده ته په ډېر عقیدت او ځانگړي درناوي ولاړې وې، ټولو ته یې دعا ورکړه او بیا یې د زرمینې بچیان را وغوښتل، هغوی یې ښکل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرمینې بابا ته د شاتو او شودو جام ونیوه، بابا چې ترې یو غړپ (ګوټ) وکړ، نو په هغه کې د مینې ټول جذبات راوپارېدل، هغه بې‌اختیاره شو، پر هغه داسې کیفیت خپور شو، ته وا د ښاپېریو په محفل کې ناست وي او د ژوند اوبو پیاله په سر اړوي، بالکل هماغه ډول کله چې هغه په لومړي ځل په کلي کې د زرمینې د لاس په کنډول (ختېین لوښي) کې شرومبې څښلې وې. هغه داسې احساس کاوه، لکه د پېریانو نړۍ ته چې تللی وي، خو ډېر ژر یې ببرته ځان سمبال کړ او ببرته د سړو ځای ته لاړ. هغه غوښتل چې مخ شا ته واړوي، یو ځل بیا زرمینې ته یو نظر وګوري، خو قصداً یې داسې ونه کړل.

شهباز خان خپل کلي ته لاړه، ټول کلیوال د هغه درناوي او ښه راغلاست ته راوتي وو، له لرې - لرې کلو هم خلک د هغه لیدو ته راغلي وو، هغوی ټول ډېر خوشحاله وو، حتا د سیمې خانانو هم ورته ښه راغلاست ووایه، خو شهباز خان له ډېر وخت وروسته راغلی و، هغه ډېر کم خلک پېژندل، د هغه د وخت له مشرانو نه خال - خال یو - یو پاتې و، د ده همزولي تر اوسه وو، خو په هغو کې هم ځینې نه وو، کوم چې پاتې وو، هغه سپین ږیري شوي وو. شهباز خان ته خپل کلی پردی - پردی ښکاره شو، خو ورو - ورو یې د جهاد د وخت ملګري پیدا کړل، چې هغوی اوس د یوې قومي سیاسي ډلې په توګه د انګرېزانو پر خلاف د آزادۍ مبارزه مخ ته بوله. هغه خوشحاله شو، چې د دوی په غیرت او د آزادۍ په جذبه کې فرق نه‌دی راغلی، بلکې په سمه لاره روان دي. د شهباز خان ملګري هم په دې ډېر خوشحاله شو، چې د هغوی ملګری اوس نه یوازې یو لوستی غازي دی، بلکې د هغه ذهن هم ډېره وده کړې ده، په ځانګړې ډول د سیاست په ډګر کې یې ډېرې تجربې تر لاسه کړې دي او ډېر څه یې زده کړي دي او د دې په پوهېدو نور هم خوشحاله شو، چې هغه په زندان کې د هېواد له سترو سیاست پوهانو سره وخت تېر کړی، د سیاست اصول او ریښې یې ترې زده کړې دي او هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومي سياست تګلارې جوړولو په پار راخوشې شوی دی، کنه، نه راخوشې کېده. خو څوک څه پوهېدل، چې هغه شهباز چې له ډېرې نه هم قوي و، د حسن سِحرګرې وړانګې به پر هغه د پسرلي باد کانه کوي او د ډبرو په منځ کې به ګلداره بوټی اور اخلي. اوس نو شهباز خان د دوه اوريز شراب په‌څېر شوی و، ملي خپلواکۍ او د حسن جادو، له هغه نه په رښتينې معنا شهباز جوړ کړی و، چې ښکار پسې غورځنګ او غوټې وهلو سره به يې د ولړې اړتيا او د ذوق غوښتنې، دواړه پوره کولې، د هېڅا او هېڅ شي پروا يې نه کوله، تل به ښکار ته چمتو و، وخت او ملګرو ته يې د همداسې شهباز اړتيا وه او هغه خدای دوی ته ورکړې. په هغه کې د آزادۍ د جذبې پوخوالی او له زرمينې سره د مينې جذبه دواړه وو.

هغه به کله -کله د کوم کار له‌پاره يا به يې ښار ته د تګ پلمه جوړه کړه، هلته به يې د زرمينې لومړی او مراد سلام کاوه. د هغوی دواړو هم له سياست سره لېوالتيا پيدا شوې وه او مراد خو له خپل شخصي کاروبار مخ ته وړلو سره اوس يو ښه سياسي فعال هم و. د دوی په کور کې به چې کله هم زرمينې او شهباز ته له يو بل سره يو په يو د خبرو کولو موقع برابره شوه، نو زرمينې به هغه ته د زړه غوټې را سپړلې، د شخصي ژوند، له مراد سره د ګډ ژوند، د کورنۍ نورو غړو سره د اړيکو او پر هغې د نوو مېنانو پورې تړلې خبرې به يې ورته کولې او زرمينې به له زړه شکونه، وېره او انديښنې لرې کړې. شهباز خان ټول عمر د هغې حکيم او لارښود پاتې شو او هغې به د خپلو ټولو مسايلو درملنې له‌پاره د هغه له پوهې، حکمت او تجربو ګټه اخيسته. د زرمينې نېکمرغي په دې کې وه، چې هغې ته د شهباز خان په‌څېر مشاور په لاس ورغلی و، چې هغې به خپل ټول واړه او لوی مسايل په ذهن کې راټولول او کله چې به هغه راغی، نو ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسایل به یې ورته یو په یو حل کړل او د هغې ذهن به له اندېښنو پاک شو. کنه د زرمینې په‌څېر ښځه، چې شېبه په شېبه به د رواني او ذهني اندېښنو ښکار کېده، تل به له بدنامۍ سره مخ وه، ژوند به یې ډېر سخت و، که شهباز نه وای، نو لېونۍ به وه او کور به یې تباه او برباد وای. د شهباز خان نېکمرغي دا وه، چې هغه به کله په خپل سیاسي ژوند کې له ډېرو سختو او بدو حالاتو سره مخامخ شو، نو چې زرمینه به یې ولیده، د ډاډ او سکون ساه او انرژي به یې واخیسته. د ده له‌پاره د هغه د جمال ذوق او د حسن احساس د خدای ستر نعمت او زرمینه د الله رحمت وه.

یوه ورځ یې شهباز خان ته وویل: بابا! هغه اوس هم ما ته ضدي وایي. شهباز بابا ورته وویل: له مینې نه به یې درته وایي. زرمینې وویل: نه، په غوسه کې یې راته وایي. بابا ورته وویل: لورې! په کور کې تل یو ډول حالات نه وي، بیا چې په کور کې ماشومان وي او بیا هغه کور، چې ستا په شان ښاپېرۍ په‌کې وي، نو په داسې کور کې ډول - ډول خبرې راځي، چې هغه تا هم غوسه کولای شي او هغه هم؛ خو ښه خبره دا ده، چې کله هغه غوسه شي، نو پرېږده چې خپل بړاس وباسي، خو ته په غوسه کې ځواب مه ورکوه او چې کله ته غوسه کېدې، هم دې د زړه بړاس وباسه، غوسه چې راغله، نو په دې وخت کې غوسې ته په غوسه کې ځواب ورکولو سره خبره نوره هم ورانېږي، همداسې پسې اوږدېږي، حتا دومره اوږده شي چې د دواړو له زړه نه خوښه نه وي، چې خبره تر دې حده ورسېږي. غوسه د اور په‌څېر ده او اور چې بل شي، بیا دې ته نه ګوري چې څه شی وسوځوي او څه شی نه، ډېر ګران بیه شیان هم په‌کې سوځي؛ نو ځکه خلک پر اور اوبه اړوي. زرمینې دې خبرو اورېدو سره وویل: بابا! ته ووایه! زه رښتیا اوس هم ضدي یم؟ شهباز وخندل... ویې ویل: لورې! زه څه ووایم، رواني اختلالات په اسانۍ سره حل کېږي او طبیعت نه بدلېږي، بله خبره دا ده چې په عام ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې عادت ته ثبات او ستومانتیا وایي، خو دا د وخت - وخت خبره ده، دا د ویونکي طبیعت پورې تړلې ده، کله چې ته له چا خوشحاله یې یا دې طبیعت جوړ وي، نو دغه عادت ته ثبات ویل کېږي او کله چې خفه یا غوسه وې، نو ستومانتیا یا ضد ورته ویل کېږي. زرمینې سر وخوراوه، ویې ویل: سمه ده. بابا وویل: تا به لیدلي وي، چې هغه درته هغه وخت ضدي وایي، کله چې ته غوسه وې. زرمینې وویل: خو کله -کله له مینې هم راته ضدي وایي. شهباز په خندا وویل: لورې! مینه خو مینه وي، انسان خلک له مینه نه هم په بدو نومونو یادوي، تا نه دي اورېدلي، چې مور او پلار له مینې نه د گل پهځېر بچي په کوم -کوم نومونو یادوي. د زرمینې زړه یو څه ښه شو. شهباز بابا پوه شو، چې هغه تر اوسه پوره نه ده ډاډه شوې، نو په مسکا یې ورته وویل: لورې! ښایي ته به نه یې خبره، چې ما ته به هم د انگرېزانو لهخوا رالېږلو خلکو ویل، چې له جهاده لاس واخله، خو ما به ښکاره انکار کاوه، نو هغوی به ما ته ضدي خطاب وکړ، بېرته به روان شول او اکثرو به یې دا هم راته ویل، چې زه یوازې خپله خوښه کوم، د نورو خیال نه ساتم او کله چې به زما او زما د غازیانو ملگرو تر منځ پر کومې خبرې اختلاف راغی او ما به د هغوی خبره نه منله، نو ما ته به یې ضدي ویل او غوسه به شول، البته زما د نظر (خوښې) درناوی به یې کاوه، زما خبره به یې منله او د هغې مطابق به یې عمل کاوه؛ خو کله چې به زما د خبرې پایله مثبته او گټوره ثابته شوه، نو ټولو به زما د ضد له رایادولو سره د پښېمانتیا احساس وکړ او په خندا به یې له خجالتۍ نه زما خبره وستایله او ویل به یې «ضدي!». د دې خبرو په اورېدو سره زرمینه پوره ډاډه شوه.

له کله نه چې شهباز خان په غرنۍ سیمه کې د غازیتوب ژوند پرېښی و او په هواره کې یې سیاسي فکر سره مېشت شوی و، د انگرېزانو پلانونه او پروگرامونه به یې لیدل، پوځي قرارگاوې، دولتي ادارې او محکمې به یې لیدې، چې ورځ په ورځ به نوې - نوې جوړېدې، فعالیتونه به یې کول او عام خلک به ورو - ورو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېزانو سره آشنا او عادي کېدل. د سيمې ټيکه‌دار، ملک او دولتي مامورين به شتمن کېدل او له دولت سره يې اړيکې ښه کېدې. د خلکو ژوند له بازارونو، دفترونو او محکمو سره تړل کېده او په همدې توګه د خلکو دار و مدار او تکيه پر حکومت باندې ډېرېده، چې له دې سره نه يوازې اکثر خانان، پيران او ملکان د انګرېزانو ځولۍ ته په شوق او ذوق ورغورځېدل، بلکې که په ښکاره ټکو کې يې ووايم، نو برتانوي باداران د دوی ملاتړي وو او ساده عوام د دوی په لور ور ماتېده، له دوی څخه يې کرکه او کينه کمېده او د جهاد جذبه په سړېدو وه. انګرېزان دې ته خوښ وو، چې د غلامۍ خلاف جنګ او د آزادۍ په پار د جهاد ولوله نوره مړه ده او د تهذيب په ښکلي دام کې ګيرېدو سره يې د دوی غيرت او حب الوطني د پيسو په مينه او د شتمن کېدو په شوق بدله کړې وه او دا عمل په ډېرې چټکۍ سره روان و، نو دې غازي مجاهد ته دا خبرې د منلو نه وې او په زړه کې يې سخته کرکه او غوسه را پارېدلې وه. ده وليدل چې ډېر ښه خلک په دې دام کې راګير شوي دي او هغه خلک چې مخکې به له شهباز خان سره مخ کېدل، د ده ډېر قدر او عزت به يې کاوه، د ده جرأت او حوصله به يې لوړوله او له ده سره به يې پټ په پټه مرسته کوله، خو اوس يې ده ته نصيحتونه پيل کړل، چې دا خبرې پرېږده، څه کار روزګار شروع کړه، اوس انګرېزان غالب شوي دي، هغوی ودانيز پلانونه او پرمختللي کارونه کوي، د خلکو ښه‌والي او خوشحالۍ ته کار کوي، اوس د هغوی مخالفت ته هېڅوک نه دي تيار، که وي هم، نو د پوځ او ځواک مقابله څوک کولای شي؟ له غره سره ډغره وهل يوازې خپل سر ماتول دي، بل هېڅ نه دي. له دې زيات د هغه د جهاد او سنګر په ملګرو کې هم داسې کسان پيدا شوي وو، چې د جهاد خبرې يې په مينه نه اورېدې، بلکې ځينو به هغه ته د مجنون خطاب کاوه. که څه هم د شهباز خان په مخ کې يې د دې خبرو کولو جرأت نه‌شو کولای، خو د هغوی په ژوند کې پوره بدلون راغلی و او د هغوی مصروفيتونه بدل شوي وو. شهباز خان ته اندازه ولګېده، چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګري اوس د ښې نه دي. په دې وخت کې د هغه غوږونو ته داسې له ناهیلۍ ډکې خبرې را ورسېدې، نو دې بدو حالاتو پر شهباز خان ډېر بد اغېز وکړ. تر دې چې هغه فکر کاوه، چې اوس څه وکړي. بالآخره له دې حالاتو نه تنګ شو، پټ - پټ به خپل پوه او فکري ملګرو ته ورته او له هغوی سره به یې مشوره کوله، چې له دې حالاتو سره څه ډول مقابله وکړو؟ په دې نیت له آټک واوښت او په هندوستان کې هغو ملګرو ته ورغی، چې په غیره سیمه کې له ده سره ولاړ وو او له ده سره یې د انګرېزانو خلاف د مبارزې ملګرتیا وه یا هغه ملګري چې له ده سره په زندان کې وو او ده ترې ډېر څه زده کړي وو. له دې ملګرو سره هغه د خپلو خلکو د بدلېدو او خپلې اندېښنې شریکې کړې او په دې اړه یې اوږدې خبرې او بحثونه وکړل. یادو ملګرو یې د انګرېز تر ولکې لاندې ژوند تېرولو تجربه لرله، دوی ته د خپلې سترې مبارزې ستونزې او د احتیاج ژوند ورځې ور په زړه وې، دوی کلونه - کلونه له داسې حالاتو سره مخامخ وو او د نړۍ له نورو هېوادونو څخه یې د داسې حالاتو نه د وتو لارې چارې او تجربو په اړه مشورې اخیستې، خو دوی ته د شهباز خان غوندې د زخمي زمري پوهول ستونزمن وو، هغه ډېر پوه او معقول انسان و، د عملي ژوند پوره تجربه یې لرله او له خپلو حالاتو پوره خبر و، دغو ملګرو یې هغه ته له خپلو تجربو څخه مشورې ورکولې او هغه منلې.

ملګرو یې شهباز خان ته وویل، چې د هر موسم خپل فصل وي او د هغه اړوند کار وي. د هر سفر خپلې - خپلې لارې وي او د هغوی له‌پاره د هغو اړوند توکي وي، د مختلفو حالاتو مختلفې غوښتنې وي او دې غوښتنو ته په کتو سره باید د مبارزې لار وټاکل شي. د شهباز خان پر سیمه چې انګرېز حمله وکړه، نو خان، غریب، پیر، مرید، کارګر، عوام، خواص، نر او ښځه ټول غوسه شول، را پاڅېدل او په ګډه یې د هغوی مقابله وکړه؛ د دغه حالت غوښتنه همدا وه، څنګه چې وشوه. بیا انګرېزانو د خپل پوځي ځواک په زور سیمه اشغال کړه او ځینې خلک یې خپل کړل، نو بیا یې مقابله سخته شوه، خو وطن پرست او غیرتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک له دې حالته ونه‌ډار شو، لاره یې ورکه نه کړه، د مخامخ مقابلې پر ځای یې نورې لارې اختیار کړې، په دوی کې ځینې ترهگر شول، د انگرېزانو او د هغوی د ملگرو د قتلولو پلانونه یې جوړول، ځینو له ځانونو گوریلا جوړ کړل او په هر ځای کې یې د انگرېزانو پر تاسیساتو او مرکزونو حملې کولې، څوک د شهباز خان په‌څېر غازیان شول، غرونو ته وختل او آزاد قبایل ته لاړل او څوک په هېواد کې دننه په خفیه توگه د انگریزانو د غلامۍ پر خلاف د خلکو پوهولو، راټولو او یو منظم سیاسي ځواک پر جوړولو بوخت وو. د وخت په تېرېدو انگرېزان ځواکمن شول او هغوی ته په وسله‌وال جنگ کې ماته ورکول سخت شو؛ نو سیاسي ځواک په دوو طریقو سره کار پیل کړ، یو یې په آزاد ډول سیاسي گوندونه جوړ کړل او له انگرېزانو نه یې د خپلو امتیازاتو ترلاسه کولو لاره خپله کړه او په دې ډول یې ورو - ورو د عوامو یو منظم ځواک پر ځان راټول کړ، د انگرېز پر خلاف یې د غږ اوچتولو ستر پلانونه جوړ کړل او د ځینو، چې له دې سره خوښه نه وه، هغوی به په مخفي توگه خلک پوهول او منظمول او په ټوله نړۍ کې یې د انگرېزانو مخالفو هېوادونو سره د اړیکو جوړولو کوښښ وکړ، تر څو هغوی له دوی سره مرسته وکړي او په خپل ځواک سره د آزادۍ جنگ ته راودانگي. اوس نو شهباز خان ته هم فکر کول پکار دي، دی باید په دې وخت کې څه وکړي؟ شهباز خان ته تجربه شوې وه، هغه اوونۍ - اوونۍ پر دې خبرو فکر وکړ او بالآخره دې پایلې ته ورسېد، چې باید کوښښ وکړي چې له مخفي سیاسي قوتونو سره په گډه عوام د آزادۍ مبارزې له‌پاره منظم راټول کړي. په دې ډول یې له خپلو ملگرو سره پرېکړه وکړه، چې هغه په دې بڼه «جنگ» روان ساتل غوره بولي او دغو ملگرو یې شهباز خان له ځان سره د خپل مخفي سیاسي تنظیم غړی کړ.

شهباز خان چې بېرته خپلې سیمې ته راغی، نو ډېر بدل معلومېده. خلکو لیده، چې د هغه په خبرو کې د جنگ، حمله، ډاکه او تشدد لفظونه نه‌شته، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی او جدي معلومېده. په هغه پسې نږدې او لرو مخالفینو منفي تبلغات پیل کړل، چې بالآخره شهباز خان هم خرڅ شو او انګرېزانو دی هم غلی کړ. د هغه له شخصي او سنګر ملګرو سره اندېښنه پیدا شوه، چې څو ورځې بهر تېرولو سره شهباز خان د انګرېزانو خلاف کوم نوی پلان راوړی او که نه، معلومه نه ده، چې د ده دا ډول بدلېدل به څه رنګ راوړي. د انګرېزانو جاسوسان او د خان او ملک چمچې، هغه ته ډېر متوجه وو، چې معلومه کړي، د دې بدلون اصلي لامل څه دی؟

یو څه موده وروسته یو هندوستانی مسافر له ریل ګاډي نه د ښکته کېدو پر مهال وغورځېده، سر یې ټپي شو، بې‌هوښه شو او بیا هملته ځای پر ځای مړ شو. د هغه له جسده د تلاشۍ پر مهال چې کوم شیان راووېستل شو، په هغو کې د شهباز خان په نامه یو لیک هم و. حکومت بیا باوري شو، چې دا لیک د کوم پټ غورځنګ له‌خوا د شهباز خان په نوم راغلی او په دې کې لارښوونې دي. په همدې دلیل شهباز خان لومړی نظربند شو او څو ورځې وروسته یې جنایي پولیسو ته وسپاره. پولیسو هغه ته هر ډول سزا او شکنجې ورکړې، خو هغه بیا هم د مسافر له لیک سره له هر ډول اړیکې لرلو څخه غوڅ انکار کاوه. په دې ډول څو میاشتې د پولیسو په ولکه کې له پاتې کېدو وروسته بیا خوشې شو، خو په دې شرط، چې هغه کله له کلي څخه بهر وځي، باید هرومرو پولیس خبر کړي او هر چېرې چې ځي، د هغه ځای اړوند د پولیسو مرکز ته به خبر ورکوي. کله چې هغه کور ته راغی، نو پوه شو، چې دلته به نوره د هغه ګوزاره سخته شي. هغه د دې خبرو پروا نه لرله، خو دا فکر ورسره و، چې که اوس ښار ته ځي، نو د پولیسو خبرول اړین دي او پولیسو ته به دا هم معلومه شي، چې هغه ښار ته له تللو سره د زرمینې او مراد په کور کې پاتې کېږي، نو هغوی به د حکومت په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مشکوک شي او زما له امله به هغوی ته ستونزې جوړې شي. له دې وروسته هغه کله -کله، خو ډېر کم د هغوی کره ته. په اصل کې هغه ته په ټول ژوند کې له اضطراب، رواني فشار او جسمي ستونزو څخه د خلاصون او سکون یوازینی علاج د زرمینې ملاقات و. هغه د خپلې مبارزې له ترخو پړاوونو او د زړه له بې-قرارۍ نه زرمینې ته پناه ور وړه او همدا یې یوازینۍ د امن او سکون سرچینه وه. شهباز خان له دې ژونده ډېر ستړی او تنګ شوی و او ورځ په ورځ د ستونزو کړۍ پرې راتنګېده، هغه فکر وکړ چې دا نو څه ژوند شو، د خپلې آزادۍ لهپاره مبارزه هم نهشم کولای، آن تر دې چې له خپلو ملګرو سره په آزاد ډول لیده کاته هم ستونزمن دي. اکثر یې دا فکر کاوه، چې له دې ژوند خو د زندان ژوند ډېر ښه دی، بلکې کله - کله به یې دا هم ویل چې له دې ژونده ولې مرګ نه راځي. په دې وخت کې د هغه پر خوله د مرګ کلمه ډېره راتله یا به یې زړه کې ګرځېده؛ ځکه ژوند یې ډېر قید او محدود شوی و، خو په اصل کې د هغه زړه دا غوښتل، چې مبارزې او آزادۍ خپلولو لهپاره ژوندی پاتې شي او له دښمنانو سره وجنګېږي. د هغه پرېکړه یا آزادي وه یا مرګ. په دې ناقرار حالت کې چې به هغه کله له خپلو سیاسي ملګرو سره لیدل، دا ټولې خبرې به یې هغوی سره کولې. ملګري یې هم پوه شوي وو، چې شهباز خان داسې ژوند نهشي تېرولی، نو ټولو پرېکړه وکړه چې هغه باید پټ غورځنګ ته لاړ شي. هلته به ببرته د غلامۍ خلاف مبارزه پیل کړي، له دې سره به هم مصروف وي او هم ډاډه. دا پرېکړه یې هغه ته واوروله، نو هغه پټ غورځنګ ته لاړه.

هغه ته له خپل کور او کلي نه داسې ناڅاپه وتل او ورکېدل ستونزمن وو، نو د جومات په کونج کې غلی کېناست، پر درود، ذکر، لمونځ او نفلونو اخته شو. څو ورځې وروسته د جومات امام ورته د جومات په کوټه کې یوازې ځای ورکړ، چې هلته هېڅوک هغه ونه ګوري او د خدای په یاد کې په پوره توجه سره مشغول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. شهباز خان هم ډېر خوشحاله شو؛ ځکه چې هغه به اوس څوک گوري؟ که چېرې يې څوک پېژني هم، نو هغه خپله بڼه او وضع بدلولی شي. د ډوډۍ او اوبو راوړلو والا به هغه ته د دروازې شا ته ډوډۍ کېښوده، بېرته به لاړ او له هغه ځای به ده خپله را اخيسته. رفع حاجت ته به د شپې په تياره کې بهر وته. څو ورځې وروسته هغه داسې طريقه اختيار کړه، چې له ډوډۍ او نور خوړو څخه به يې لږ - لږ اخيستل او پاتې نور به يې په خپل ځای کې پرېښودل. دا هر څه له کور او کلي نه وتو او پټېدو لەپاره د پروگرام يوه برخه وه. په دې کې درې مياشتې تېرې شوې، بالآخره معلومه شوه چې له درې ورځو راهيسې د هغه ډوډۍ او اوبه هماغسې په خپل ځای پراته دي، هغه يې نه اخلي؛ نو له خپلوانو سره يې انديښنه شوه، چې پر هغه څه شوي نه وي. هغوی دننه ورغلل، حيران شول، چې شهباز خان څه شو؟ هغوی دننه کوټه او ټول جومات ولټاوه، د رفع حاجت ځايونه يې هم پسې وليدل، شهاز خان نه ژوندی چېرته و او نه يې مړی و. له دې سره په ټول کلي کې غوغا شوه، چې شهباز خان ورک شوی دی، بس چې څومره خولې وې، هومره خبرې، چا به ويل د شپې په تياره کې پوليسو بوتلو، چا به ويل چې پرښتو يا پېريانو ځان سره چېرته وړی دی، چا به ويل چې بيا قبايلو ته تښتېدلی دی. شهباز خان له هغه ځايه وتلی و او د ملگرو له پلان سره سم يې په درې ورځو کې هغه ځای ته ځان ورساوه، چېرته چې هغه غوښتل په مخفي ډول ژوند تېر کړي. په هر حال شهباز خان ورک شو.

هغه بيا هم دا نه شو زغملی چې په دې ډول پټېدو سره دې له زرمينې هم لرې وي، له هغې سره ليده کاته ونه‌کړي. هغه په دې اړه ډېر فکر وکړ، هغه ته آزادي دومره گرانه وه، چې د دې لەپاره يې د زرمينې ملاقاتونه هم قرباني کولای شو. هغه همداسې وکړل، څو ځل يې زړه وغوښتل، چې زرمينه په يو ډول پوه کړي، چې هغه پټ شوی دی، د هغه په اړه دې فکر نه کوي، که خدای غوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاقات به مو وشي، خو د خپلو پټو سياسي چارو غوښتنو او د آزادۍ تر لاسه کولو په لاره کې اړينو رازونو او خبرو ساتلو په خاطر يې زرمينې ته څه نه‌شو ويلای؛ ځکه يې زړه کلک کړ او ليدو ته ورنغی. البته په وروستي ملاقات کې د شهباز خان حرکات او سکنات د معمول په‌څېر نه وو، هغه به تکرار - تکرار ويل: زرمينې لورې! زرمينې لورې! بيا به بېرته غلی شو، له دې زيات يې څه نه‌شو ويلای، نو زرمينه پرې پوه شوه او پوښتنه يې ترې وکړه: بابا جانه! تاسې نن بل ډول ښکارئ، لکه څه چې درباندې شوې وي، څه خبره ده؟ د دې په ځواب کې نو شهباز خان څه ويلای شو. د هغې خبره به يې په هغه دغه کې واړوله او کوښښ يې وکړ چې د هغې پام په نورو خبرو بل خوا ته واړوي، خو زرمينه نوره هم حيرانېده، هغې فکر وکړ چې خير څه سياسي مسئله به وي، چې بابا يې نه‌شي ويلی، نو غلې شوه، خو فکر کې يې خبرې گرځېدې، د تگ په وخت کې بابا ورته وويل: لورې! که ژوند و، نو هرومرو راځم او سره گورو به. په دې خبره يې زرمينه نوره هم مغشوشه کړه؛ ځکه دا خبرې عادي نه وې او د ويلو انداز يې جذباتي و.

شهباز خان د ديني ژوند پر يو بل ستونزمن، خو پر يوې ډېرې مصروفې لارې روان شو، چې د هغه له‌پاره ډېره نوې وه، خو د آزادۍ په لور د تگ لاره وه. هغه د خپل طبيعت له اساسي غوښتنو، يعنې حب الوطني او د آزادۍ خوښونې په شوق کې له نوي ژوند سره ډېر ژر آشنا او عادي شو او ښه خبره دا وه، چې شهباز خان ورک شو، د زرمينې مخصوص طبيعت او نازک مزاج له‌پاره دا يو بل له انديښنو ډک پړاو شو. له کورنيو مسئايلو له امله د هغې ذهني انديښنې کمې وې، چې د شهباز بابا د ورکېدو غم او فکر هم پسې واخيسته. بابا چې و، نو د هغې د شخصي او گډ ژوند د درزونو ډکولو او د نازک طبيعت درملنې له‌پاره ډېره اغېزمنه وسيله وه. د هغه له ورکېدو سره دا جنجالونه نور هم ډېر شول. لويه خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وه، چې له بابا سره یې له زړینې عقیدت و، هغه یې رواني ملاتړ و او د هغه په نه‌شتون کې دا ډېره ناآرامه وه. مراد ته هم د دې انجام معلوم و؛ ځکه بابا یوازې د زرمینې له‌پاره نه، بلکې خپله د مراد له‌پاره هم د رحمت پرښته ثابته شوې وه، اوس ده ته څوک ډاډ ورکړي او د ده او زرمینې ترمنځ د خوشحالۍ فضا ساتلو فرایض څوک تر سره کړي؟

زرمینه یو څو ورځې د شهباز خان په کلي کې پاتې شوه او له ټولو ملګرو نه یې د هغه په اړه معلومات تر لاسه کړل، چې چا به ورته هر څه ویل، هغې پرې باور کاوه، دې خبرو ډېره حیرانه او سرګردانه کړه، چې اوس څه وکړم؟ ښار ته راغله، مراد ته یې وویل، هسې نه چې له خپلوانو نه خفه شوی وي او چېرته تللی وي، هغه باید هرومرو پیدا کړو، خو دا د مراد د وس خبره نه وه؛ ځکه که بابا رښتیا د خفه کېدو له امله چېرته تللی وي، نو اوس به معلومه شوې وای او مراد به بېرته راوستی وای؛ خو هغه د ټولو خلکو له نظره قصداً پټ شوی و.

یوه ورځ یوه بوډۍ ښځه راغله، زرمینې ته یې وویل: خلک وایي چې هغه له ژونده بې‌زاره شوی دی، اجمیر شریف ته تللی، هلته له ملنګانو سره د هغوی په جامه کې ناست دی؛ اوږده - اوږده ویښتان، اوږده ږیره، پېوند - پېوند زاړه کالي یې اغوستي دي او ملنګانو سره ناست دی. زموږ یوه آشنا هلته د خواجه صاحب سلام او زیات ته تللی و، هغه لیدلی و او ډېر کوښښ یې وکړ، چې بېرته یې راولي، خو هغه نه منله. زرمینې مراد ته وویل، مراد ورته وویل چې دا سړی څوک دی او چا بابا لیدلی دی؟ زرمینې ورته ښځه راوسته، پوښتنه یې ترې وکړه، خو ښځې داسې ښکاره ځواب ور نه کړ، چې د مراد زړه ته ولوېږي، خو زرمینه د بابا له جدایۍ وروسته، هغه پسې دومره خفه او ناقراره وه، چې د رښتیا او دروغو تر منځ له توپیر کولو نه عاجزه وه. بس دواړه ښځه او خاوند اجمیر شریف ته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شهباز بابا په قد او قامت به يې پر هر ملنګ د بابا ګومان راته، ور نږدې به شول، خو خدای پوه شه، چې بابا چېرې و. په لټون - لټون يې په دوو ورځو کې ټولې لنګرخانې، خيمې او د ملنګانو د اوسېدو ځايونه ګز او ګام کړل، څومره يې چې کولای شول، ښار يې پسې ولټاوه، خو له ناهيلۍ پرته بل څه په لاس ور نه‌غلل. بېرته بېنوا کور ته ستانه شول.

د شهباز خان په کلي کې دا آوازې خپرې وې، چې ګوندې بابا د حکومت په قبضه کې دی او د کوم زندان په يوه کوټه کې يې يوازې اچولی دی. مراد او زرمينې ورپسې ټول زندانونه او بندخونې چاڼ کړې. د زندانو افسرانو او ملازمانو ته يې رشوتونه ورکړل، منت او زارۍ يې ورته وکړې، که بابا يې چېرې پټ کړی وي، نو مور ته يې وواييځ، خو بابا زندان کې څه کول. زرمينه د خپل کلي درې ته لاړه، د خپلې کورنۍ غړي او خپلوان يې په ټول قبايل کې خواره کړل، هغو ټولو ځايونو ته يې ولېږل، چې پخوا به بابا هلته کله - کله ته او يا به يې هلته څوک آشنايان وو، خو په هېڅ ځای کې د شهباز خان غازي په اړه چا ته معلومات نه وو، ټولو افسوس کاوه، چې دا څنګه يو ناڅاپي ورک شو.

څو ورځې وروسته د زرمينې کورنۍ ته چا خبر ورکړ، چې دوی يوې بلې قبيلې ته تللي وو، لاره يې ورکه کړې وه، بيا پر يوې تنګې درې ور پېښ شول، چې لوړ - لوړ غرونه وو او په منځ کې يې يو سيند په ډېر زور او شور سره بهېده، هلته د خوږو اوبو يوه چينه هم وه او د ګرمو اوبو چينه هم. خلک يې د ګرمو اوبو چينه متبرکه بولي او له لرې - لرې ځايونو نه ورته مريضان لمبا ته راځي، له لمبا وروسته رک روغ شي. هلته يو غار هم دی، خلک په‌کې منتونه کوي، د دې غار تر څنګ د اوبو چينې ته نږدې يو فقير ليدل شوی، چې په قد و قامت او عمر کې هوبهو د شهباز خان په‌څېر دی او په تګ کې هم کټ مټ د هغه غوندې په يوه پښه ورو تګ کوي؛ خو د دغه فقير او شهباز خان ترمنځ توپير يوازې دا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د هغه ګڼه ږیره او اوږده ویښه دي او شهباز ږیره مونډۍ کوي او ویښه صافوي. دا خلک نږدې ورغلي وو، هغه له هر پلوه شهباز خان ته ورته و، دوی کوښښ کاوه چې له هغه سره خبرې وکړي، چې دا رښتیا شهباز خان دی که نه؟ خو هغه فقیر خبرې نه کوي، پر اشارو باندې خپل دوه مریدانو پوهوي او هغوی بیا له خلکو سره خبرې کوي.

د زرمینې مور او پلار کوښښ کاوه، چې دا خبرې زرمینې ته ونه رسېږي، کنه له ښاره به ورپسې په اوږدو خطرناکو لارو هلته ځان ور ورسوي او دا کره او اړینه نه ده، چې دغه فقیر دې شهباز بابا وي. مراد او زرمینې داسې ډېر سفرونه کړي دي او خلکو په ډېرو ځایونو کې دا ډول شهباز خان لیدلی دی، خو هغوی چې ورغلي دي، بل څوک ختلی دی. خلک له خبرو نه کوچ وباسي او نور هسې په تکلیفوي. خو د ښځو په خولو کې کله خبره ټینګېږي، یوه ښځه لاړه، د زرمینې غوږ ته یې دا خبره ورسوله او دغې ښځې په خپله طریقه د دې ثابتولو کوښښ کړی و، چې زرمینې ته داسې فکر ورکړي، چې ګوندې هغه فقیر هوبهو شهباز خان غوندې و، ځکه د زرمینې په داسې خبرو ډېر ژر باور راته، بیا یې چې واورېدل، هغه خبرې نه کوي؛ نو دا نښه د هغې باور پخولو لهپاره کافي وه. په سبا یې مراد ته وویل، چې ځو او ورور او د کاکا زوی به هم ځان سره بوځو. مراد ورته وویل: ښه به دا وي چې لومړی یې یو خپلوان ورشي، ویې ګوري او معلومه کړي، چې دا خبره څومره رښتیا ده، که رښتیا وي، بیا به موږ هم ورشو.

زرمینه کلي ته لاړه، هغه خلک یې را وغوښتل، چې فقیر یې لیدلی و. هغوی ورته په دې خبره کې نور هم رنګ ور زیات کړ او د زرمینې باور یې پوخ کړ، چې هغه فقیر هرومرو شهباز خان دی. بس هغې مور او پلار ته وویل، چې همدا اوس ځم، مور او پلار یې مجبور ول، له واره یې د تګ چمتوالی ونیوه؛ ځکه په آزاد قبایل کې له یوې قبیلې نه بلې قبیلې ته د تګ پر مهال د لارې په اوږدو او کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او باندو کې د يو چا پېژندو ته اړتيا وي، په لاره کې شپه راځي، چای، ډوډۍ او نورې ډېرې خبرې دي او دا کار د هغې مور او پلار ته اسانه و، خو هغوی په لوی لاس دا کار ځنډاوه، ځکه هغوی پوهېدل چې خلک مبالغه کوي او داسې بې-ځايه کيسې او ډنډورې جوړوي، دا ټولې سترې بې‌ځايه دي، هېڅ ګټه به ونه‌لري او بيا زرمينه اوس له ښاري ژوند سره عادت شوې ده، په غرونو او لوړو ژورو لارو تګ ورته اوس ډېر سخت او خطرناکه دی، خو دوی چې څومره ځنډېدل، هومره زرمينه ناارامه او خفه کېده، بس د مراد تر راتګ مخکې يې پلار او دوه ورونه ځان سره کړل او له هغو خلکو نه يې هم يو کس ځان سره ملګری کړ، چې دغه فقير يې ليدلی و. ټول يو ځای روان شول، باراني موسم و، ښه شړق باران ورېده، غرنۍ لارې تنګې او سختې وې، خو له دې ټولو ستونزو څخه بې‌نيازه زرمينه له خپلو انديښنو او نې‌قرارۍ سره روانه وه، په لاره کې د هر کلي مشهور يا ګرځېدلي سړي ته به ورغلل، هغه به د لارښوونې او منزل ته رسېدو له‌پاره يو کس ورسره ملګری کړ، چې په لاره کې په تکليف نه‌شي او چې چا به پوښتنه کوله، څه چې څوک يې؟ لارښود به ورته د خپل مشر نامه اخيسته، چې د فلاني کسان يوو، ګرمې چينې ته ناروغ وړو. په ټوله لار کې چې چېرته به دمې له‌پاره کېناستل يا به د شپې له‌پاره چېرته پاتې شول، زرمينې به د فقير په اړه پوښتنې کولې، د هر کلي ښځو به د هغه د بزرګۍ او له برکته ډکو دعاګانو او نېکيو په اړه کيسې کولې او زرمينه به دومره په تلوسه کې شوه، چې اوس ژر په هوا هلته ورسېږي، دا فقير له شهباز بابا نه پرته بل څوک نه‌شي کېدای. په دې باور او هوډ سره دا خلک هلته ورسېدل، باران ښه په زوره ورېده، دوی وليدل چې د غار په خوله کې څو کسانو اور بل کړی، ګرد چاپېره ترې ناست دي. زرمينې په ډېرې بې‌تابۍ ځان ور ورساوه او د غره له څنډې يې په يوه سترګه ټولو ته وکتل، خو د فقير په اړه کومې نښې چې هغې ته ويل شوې وې، هغسې کس په دوی کې نه و، د هغې د زړه ټکان تېز شو او سر پرې وګرځېد؛ خو وروسته يې چې کله له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناستو خلکو نه پوښتنه وکړه، چې په تاسو کې فقیر څوک دی؟ په دوی کې یو د فقیر مرید و، هغه ځواب ورکړ، چې هغه دلته نه‌شته، دغه ځنګ کلي کې فاتحه ده، هلته تللی دی، اوس به راشي. دا سړی د فقیر له دوو خاصو مریدانو څخه یو و. هغه پوه شو چې دا مېلمانه خانداني خلک معلومېږي، نو ژر لاړ، شوده یې ګرم کړل، ټولو ته یې ورکړل، دوی ټولو شوده څښل او زرمینې له ډېرې بې‌قرارۍ له کلي راغلې لاره څارله، دواړه سترګې یې په کړې وږې لاره کې خښې کړې وې. له یو څه ځنډ وروسته فقیر راغی، زرمینې چې ولید، نو پر سترګو یې تیاره راغله، د زړه درزا یې دومره تېزه شوه، ته به وایې زړه یې له سینې راوځي او یو ناڅاپه بې‌هوښه راپرېوته. دا سړی فقیر و، خو شهباز بابا نه و. فقیر راغی، د هغې د خیر خاطر یې وکړ، په هوښ راوستلو له‌پاره یې پرې دم او دعا چوف کړه او طبیعي بوټي موټي یې په شودو کې ګډ کړل، د څښلو کوښښ یې هم پرې وکړ، خو زرمینه په هوښ رانغله. ټوله شپه همداسې تېره شوه، پر سبا یې سهار وختې د بېرته تګ نیت وکړ. فقیر له نږدې کلي نه یو خر راوغوښت، زرمینه یې پر هغه سپره ولېږله. باران ښه په خوند ورېده، په لارو کې له هر خوا ډېرې اوبه راوتلې وې، دوی د سیند پر غاړه روان وو، د سیند اوبه هم باران دوه برابره ډېرې کړې وې او داسې په شور او ځوږ روان و، چې لویې - لویې ونې به یې له وېښه چپه کولې او د غرونو له څنډو یې لویې ډبرې را ماتولې، په زور او شور یې په مخه کړې وې. په دې کې د خره پښه خویه شوه، را پرېوت، په چرلېدو – چرلېدو لاندې سیند ته وغورځېده او زرمینې هم د سیند غاړو ډبرو او بوټو ته ډېر لاسونه واچول، خو په لاس څه ورنغلل او دا هم پر سیند لاهو شوه. طوفاني سیند هغه په سر واخیسته او نامعلوم ځای ته یې یوړه. د زرمینې پلار، ورونه، فقیر او د هغه کسان او شاوخوا ټول خلک راټول شول، ټوله شپه د سیند غاړو ته تاوېده راتاوېده، خو له لاسونو مروړلو پرته به یې نور څه کړي وای؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زرمينې کورنۍ او خپلوان تر لس ورځو پورې د سيند غاړې ته د کلو د خلکو او فقير په مرسته د زرمينې يا د هغې د جسد په لټه کې وو، باران ودرېده، د سيند اوبه کېناستې، په کوم ځای چې زرمينه سيند ته لوېدلې وه، له هغه ځايه نيولې تر ډېر لرې پورې د سيند دواړه غاړې خلکو چاڼ او ولټولې، خو زرمينه سيند داسې لاهو کړې وه، چې هېڅ نښه يې پيدا نه شوه. شهباز خان د ژوند له‌پاره د مبارزې په لاره کې ورک شوی و او دلته زرمينه هغه پسې په مرگ دره کې په سيند لاهو شوه.

د زرمينې له مرگه وروسته د هغې پر مور او پلار او په خاص ډول پر مراد او بچو يې چې څه تېر شول، د هغو يادونه په الفاظو کې نه کېږي. مراد ټول عمر روغ لېونی شو او نه يوازې د هغې خپل خپلوان، بلکې ټولو پېژندگلو او هغو خلکو چې هغه يې يو ځل هم ليدلې وه، ټولو د هغې د غم ماتم کاوه او ټول عمر يې د هغې ځواني او داسې له درده ډک مرگ کيسه يادوله. شهباز خان به ضرور خبر شوی وي، هغه له زرمينې نه يوه شېبه هم بې‌خبره نه شو پاتې کېده، په پوره باور سره ويلی شم، چې هغه به داسې يو ترتيب جوړ کړی و، چې د زرمينې د ورځني، بلکې د هرې گړۍ خبر به ورسېده. شهباز خان دا وخت د پټ سياسي غورځنگ غړی و، هغه يوازې خپلو څو نږدې او باورې همکارانو پېژنده، نور خلک او همکاران يې نه پوهېدل، چې هغه په کوم نوم او نښان مشهور و. لنډه دا چې هغه هم له دې ذهني ټکانه تېر شو، يا به يې له ډېره غمه ذهن گډوډ يا بل خوا اوښتی و، بس څوک څه نه‌شي ويلی، چې په څه وضعيت کې به و. البته چې کله آزادي راشي او د شهباز خان په‌څېر د سياسي شخصيتونو پر ژوند رڼا واچول شي؛ نو هغه وخت به معلومه شي، چې د زرمينې له مرگه وروسته پر هغه څه تېر شوي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



فقیر او د هغه همکاران په دې پېښه ډېر خواشیني شول. هغوی د زرمینې له ځوانۍ، حسن او جذبې نه ډېر اغېزمن شوي وو، د هغې داسې د شهادت مرگ د هغوی پر زړه او ذهن باندې ډېر ژور اغېر پرېیست، هغوی ټول عمر د هغې پر ځوانۍ او له پیر صاحب (دغه فقیر ځان د زرمینې داسې پیر باله، لکه شهباز خان) سره د هغې پر اړیکو باندې خبرې کولې او هر څوک چې به له نورو سیمو نه دلته راتلل، له دوی به یې د دې پېښې د کیسې په اړه پوښتنې کولې، د زرمینې او پیر صاحب د ژوند حالاتو او د هغوی مینې او اړیکو په تړاو به یې کیسې ترې اورېدلې. هغوی شهباز خان پېژنده؛ ځکه غازي بابا زیات وخت په آزاد قبایل کې تېراوه او د هغه شهرت هر لور ته خپور شوی و او له هغه سره د زرمینې دومره عقیدت او محبت د هغه شخصیت نور هم د درناوي وړ گرځولی و. د زرمینې، مراد او شهباز خان خپلوان او ملگري به تل هغه ځای ته ور تلل، په کوم ځای کې چې زرمینې د شهباز بابا په لټه کې خپل ژوند له لاسه ورکړی و، ځکه دلته په راتگ سره او دې ځای په لیدو سره هغوی ځان ته یو ډول ډاډ ورکاوه او د دواړو یاد یې تازه کاوه. د دې هر څه په لیدو سره، فقیر د زرمینې له حسن او ځوانۍ او د شهباز خان له غیرت او قربانۍ نه دومره متاثره شو، چې پر دغه ځای کې یې د هغوی یادگاري ځلی جوړ کړ او دغه یادگاري ځلي ته یې د «پیر او مریدې» نوم ورکړ.

له دې پېښې وروسته د زرمینې او شهباز خان د آشنایانو په ډلو کې ډول - ډول اوازې خپرې شوې او د وخت په تېرېدو سره دا اوازې او گنگوسې د خلکو د خیالي کیسو او له مبالغو ډکو او خرافاتي فلترونو نه له تېرېدو وروسته ترې داسې عجیبه داستانونه او کیسې جوړې شوې، چې د چا په اروا کې هم نه گرځېدې.

لومړی خو سپین‌ږیرو داسې داستان جوړ کړ، چې زرمینه سیند ته نه ده لوېدلې، د شهباز بابا په لټه کې غار ته ننوته، لېونۍ په غار کې دومره لرې لاړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تر اوسه يې هيڅ درک نه لګي، چې څه شوه؟ د هغې کورنۍ او د غار فقيرانو پر حقيقت پرده واچوله او د خلکو سترګو ته خاورو شيندلو سره يې داسې کيسه جوړه کړه، چې هغه سيند کې ډوبه شوه. بل خوا داسې هم ويل کېږي چې شهباز خان هم په دې غار کې ورک شوی دی او فقير او د هغه مريدان د شهباز خان همکاران دي، له هغه سره د خپلې ملګرتيا او وفادارۍ حق ادا کولو لهپاره د غار خوله کې دېره دي. هغوی د شهباز خان په اړه د دې لهپاره څه نهشي ويلی، چې هغه منع کړي دي، د هغه راز افشا کول، له هغه سره غداري ده. لنډه دا چې، څومره خولې وې، هومره خبرې وې.

د وخت په تېرېدو سره او د فقير د لېوالتيا او ګټې په نظر کې نيولو سره د «پير او مرېدې» د يادګار په اړه بېشمېره کيسې مشهورې شوې او خلکو نه يوازې په دې باور کاوه، چې شهباز خان او زرمينه په غار کې ورک شوي دي او دا د هغوی يادګار دی، بلکې دا يادګار د کراماتو او خرافاتو محور ګرځېدلی دی. هر کال په دې ورځ (په کومه ورځ چې شهباز خان غار ته ننوتلی و او په کومه ورځ چې زرمينه هغه پسې غار ته ننوتلې وه) او شپې د پېريانو او وحشي ځناورو مېله وي؛ خو عام خلک يې نهشي ليدای، يوازې دا خبره ده، چې په دې شپه چې هر څوک د خپل مراد سوال وکړي، هغه پوره کېږي، خو په دې شرط چې د «پير او مرېدې» لهپاره د غار له خولې نه دننه لور ته د نذر له کېښودو وروسته بېرته ژر داسې را ووځي، چې شا ته ونه ګوري. هره پنجشنبه (جمعرات) غار ته دوه ښاماران راځي، د خپلې خولې ځلېدونکی لعل هلته پرېږدي، چې څوک يې وګوري او سوال وکړي، هغه پوره کېږي، په دې شرط چې سوال کوونکی په ځانکړې ټاکل شوي ځای کې کېني، د غار خولې پر لور وګوري او د ځلا ليدو سره سم دستي سترګې پټې کړي او بېرته دې راوګرځي، که نه له ډېرې ځلا سره يې د سترګو ليد ختمېږي؛ چې تر اوسه د زرګونو خلکو سترګې ړندې شوې دي. د هرې مياشتې پر دېرشمه شپه، کله چې د يکشنبې، چهارشنبې او جمعې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپو باندې شهباز او زرمينه په تورو کالو کې د غار په خوله کې د يو څو شېبو لهپاره را ښکاره کېږي، هر چا چې وليدل او هر سوال وکړي، پوره کېږي. د غار په خوله کې يوه گرده غټه تيږه پرته ده، څوک چې زر وارې د الله نامه واخلي او د «پير او مرېدې» په نامه نذر ورکولو سره دا تيږه اووه ځلې په غېږ کې ونيسي، هغه ته خداى زوى ورکوي. له فقير سره يوه پخوانۍ شپېلۍ وه، که څوک غواړي شپېلۍ زده کړي، هغه دې يوه سپينه لموره گډه (پسه) راوړي او غار ته دننه دې يې خوشې کړي او د دغه فقير پر شپېلۍ باندې دې شپېلۍ غږول پيل کړي، نو هغه به د شپېلۍ په غږولو کې ماهر شي. که څوک د خوشبختۍ کېدو لهپاره دغه يادگاري ځلي ته له خپلې مالي وس سره سم گران بيه غلاف (پرده) راوړي، پر هغه يې وغوړوي او اووه ځلې ترې تاو شي، نو خپله معشوقه به تر لاسه کړي. لنډه دا چې په دې ډول بېشمېره کيسې مشهورې شوې دي او تر ټولو ډېره يې دا چې هغه دواړه مړه نه دي، ژوندي دي او يوه ورځ به له غاره را وځي، همدې خبرو خو دغه يادگاري ځلي ته شهرت ورکړی و. فقير او د هغه مريدان ښه په مزو کې وو، د مال او دولت سربېره شهرت، اغېز، نفوذ او خلکو عقيدې د هغوی پښو کې پرتې وې، د فقير او مريدانو شمېر هم کال په کال ډېرېده او د هغوی لهپاره شاوخوا غرونو په کېندلو سره د اوسېدو نور غارونه آباد شول. اوس په دغه سيمه کې فقيران او مريدان هر يو بېل - بېل اوسېږي، د دوی معتقدينو لهپاره د شپې پاتې کېدو بندوبست هم وشو، د خوراک او څښاک لهپاره لنگر هم چلان شو، چې د دې لگښت څخه څو چنده زيات سامان او توکي ورته راتلل او له دې سره د شهباز خان او زرمينې د عقيدت او مينې شهرت هم هر لور ته تر لرو - لرو سيمو پورې خپرېده؛ خو د شهباز او زرمينې په نومونو کم او د «پير او مرېدې» په نوم زيات.

سياسي او معقول خلک وايي: دا ښه خبره ده، چې د هغوی دواړو دغه يادگار تر ننه پورې د هغوی پر نوم مشهور دی، په ټولنه کې د بدلون عمل روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، داسې وخت راتلونکی دی، چې له حقایقو به پرده پورته شي او معلومه به شي، چې دا یادګار د یوه داسې غازي دی، چې د مور له غېږې نه نیولې تر د لحد تیارو پورې یې مسلسل د آزادۍ لهپاره مبارزه وکړه او د ځان لهپاره یې نور څه کړي وای؟ نوم یې هم د ګمنامۍ په پردو کې پټ کړ او په ګمنامۍ کې مړ هم شو او د یوې داسې حسینې یادګار دی، چې خدا ترې د حسن ملکه جوړه کړې وه؛ خو د خوشحاله او آرامه ژوند پر تخت د کېناستو پر ځای د ټولنیز ژوند کړاوونو او د خپل ذهن او ضمیر د غوښتنو تر منځ تضاداتو او ګډوډیو یې ټول ژوند ناآرامه او ناقراره کړی و.

پوهانو، څېړونکو، محب الوطن، عوام دوسته او حقیقت خوښونکیه عالمه! او اهل قلمه! د انساني ژوند په پار په جلا - جلا برخو کې د دواړو مصیبتونه، ستونزې، آزمایښتونه، قربانۍ او د مبارزې داستانونه به په خرافاتي ژبه نه، بلکې د تفکر او تعقل په رڼا کې لیکئ!


**اجمل خټک**

۱۴-۰۷-۱۹۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ناول د پېرنګي استعمار د ظلم، جبر او قهر داستان دی چې د غلامۍ نه د نجات په پس منظر کې ليکلی شوی دی. دې کې د وطن آزادۍ قصه ده، د وطن د زلمي حريت پسند شهباز خان قصه ده، چې وروستو د ژوند غرزو پرزو، هلو ځلو او قامي مسئلو او مبارزو په حکيم شهباز بابا بدل کړی دی او د يو سپين سپېڅلي شخصيت، د نېکو جذبه، ځوانو حوصلو او توانا ولولو د سماجياتو او نفسياتو عالم کړی او د وخت تودو سړو سيليو، طوفانونو او زلزلو د حالاتو په بټۍ کې کُندن کړی، عالم، فاضل دانشور او د حکمت خاوند يې ترې جوړ کړی دی. دا در اصل د اجمل خټک خپل کردار دی چې د طالب علمۍ نه تر دې ضعيف العمرۍ او پيرانه سالۍ پورې يې په قول و فعل کې فرق نه دی راغلی او د کوټلي کردار په هنداره يې د بدنامۍ دوره قدرې نه ده پرېوتې.

((پروفيسور ډاکټر زبير حسرت))



**Translated By: JAVED AFTAB**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**